د قبایلو د مستقل ریاست لخوا

ملي قهرمان

خوشحال خان ختك

لیکونکی

ګل پاچا الفت

۱۳۴۴

د پوهنې مطبعه

د قبایلو د مستقل ریاست له خوا

ملی قهرمان

خوشحال خان خټک

لیکونکی : الفت

دچاپ شمیر ۲۰۰۰

د ۱۳۴۴ کال د جوزا میاشت

مهتمم : میاجان اقرار

دپوهنی مطبعه

بسم الله الرحمن الرحیم

دا کتاب

کله چه زه په پښتو ټولنه کښې وم نو سر بېره په اداري او عمومي چارو چه د دغې ټولنې د رئیس په حیث را په غاړه وې دا اراده هم راسره وه چه د یوه مسلکي غړي په حیث د پښتو ژبې په ادبي خدمت کښې هم څه نه څه برخه ولرم. په همدغه نیت مې د ځینو نورو لیکنو په ترڅ کښې د لوی او ستر شاعر خوشحال خان خټک په شعر او شاعرۍ باندې هم مطالعه شروع کړه او یاد داشتونه مې اخیستل. په دې ضمن کښې د ادبیاتو د پوهنځي تدریسي وظیفه هم را وسپارل شوه او دا مې ښه وګڼله چه ښاغلي محصلین هغه لوی او ستر تحول ته ښه ملتفت کړم چه خوشحال خټک په پښتو ادب او شعر و شاعرۍ کښې راووست چه هغه د ملیت بنیاد او اساس ټینګول او د ملي شعور او احساس روزل و.

زما اصلي مقصد په دغو درسونو کښې همدغه و چه د دغه مهم او عالي مضمون د خوشحال خان په ژبه دوی ته په ډېر قوت وړاندې کړم او په دغه وسیله یو ملي مرام او مقصد تعقیب کړم.

په دوهم ځل بیا چه زه په ۱۳۴۲ کښې د پوهنې د وزارت او د پوهنتون له خوا وبلل شوم چه د څه مودې د پاره د خوشحال خان د تدریسي کرسۍ وظیفه په غاړه واخلم او خپل درسونه د ادبیاتو په پوهنځي کښې په خوشحال خټک باندې شروع کړم نو په خپلو یاد داشتونو مې بیا نوی نظر و اچاوه او ځینې درسونه مې ترتیب کړل چه ما یې تاثیر درېیم او څلورم ټولګي په محصلینو کښې ډېر ښه ولیده او په دې پوه شوم چه دا کار بې فایدې نه دی ځکه مې دا سلسله تعقیب کړه چه اوس تر ېنه دغه کتاب جوړ شو.

په دې کتاب کښې چه خوشحال خان خټک د یوه ملي قهرمان او قهرمان شاعر په حیث د ملیت د مفکوره او عقیده په ډېر قوت څرګندوي نو د قبایلو د مستقل ریاست له خوا یې خپرول زما په نظر کښې د وظیفوي حیث لري او خوښ یم چه د قبایلو د ریاست په وخت کښې له نورو کارونو او جنجالونو سره په دغه قلمي خدمت هم څه نه څه بریالی کېږم.

ګل پاچا «الفت» جوزا — ۱۳۴۴

دخوشحال شرح حال

بې حسابه څاڅکي توی په بحر و بر شي
له لکو نو کروړو نو یو گوهر شي

په عمرو اورونه بل په یوه ځای وي
څو پیدا په سرو لمبو کښې سمندر شي

عالمونه پیدا کیږي بې حسابه
په دنیا کښې د څو تنو تاج په سر شي

میندې راوړي ډېر زامن ډېر اولادونه
یو یا دوه یې افلاطون او سکندر شي

د خلقت له کارخانې نه کاله کله
په جهان پیدا خوشحال غوندې بشر شي

خوشحال خان ختک د شهباز خان ځوی د یحیی خان نمسی د ملک اکوړی کړوسی په ۱۰۲۲ ه ۱۶۱۳ ع کښې له پېښور نه ۳۵ میله لمرخاته خواته په اکوړه کښې وزیږیده.

کله کله ځینې ماشومان له ډېری لویې برخې سره دنیا ته راځي او ډېر لوی سرنوشت یې استقبال کوی. د دغه ماشوم په وچولی کښې هم لوی خدای ډېرې سترې کارنامې لیکلې وې چه هغه وخت چا نشوی لوستلی او نه هغه لویو الی چا ته معلومیده چه په ده پسې راروانو.

دا ډېره موده وروسته څرگنده شوه چه په ده کښې فوق العاده استعداد موجود دی او له ده نه داسی لوی سړی جوړیږی چه په پېړیو پېړیو به د یوه ملی قهرمان او ډېر ستر شاعر په حیث په ډېر درانه نامه یادیږی او هغه خدمتونه چه دی یې په توره

او قلم د پښتو او پښتو نولې د حیات او بقاء د پاره کوی دو مره وزن او د رنښت به پیدا کوی چه هیڅکله به یې د فراموشۍ سیلاب له نړۍ څخه نشی وړلی.

توره او شاعری : د خوشحال خان توره او توریالیتوب او دده اشعر

اوشاعری دوا ړه بې ساری معلومیږی او داقضاوت گران غوندی دی چه په دی دواړو خوا و کښې کوم خوا د یر ه درنه ده.

دده شعر وشاعری له شل کلنۍ څخه شروع کیږی او په جنگ وجگړ و کښې په (۱۳) کلنۍ گډون کوی یعنی کله چه د یوسفزو لښکر په ۱۰۳۵هـ کښې په خټکو حمله وکړه خوشحال خان په دغه جنگ کښې شامل و.

دغه راز جنگونه که څه هم کورنی و او له خپلو عزیزانو سره واو څو ځله مغلی پادشاهانو هم دی دخپلو گټو د پاره له یوه او بل سره وجنگاوه مگر وسته تر دی چه دخوشحال خان عقل او فکر پوخ شو نوبیا یې دملی قهرمان په حیث دملی آزادی د پاره له اورنگ زیب سره جنگونه شروع کړل او دیوه لوی مقصد دپاره یې مجادلې وکړې.

دخوشحال خان پلار نیکه او غورنیکه که څه هم دشاه جهان، جهانگیر او اکبر په خدمتونو جاگیرونه او منصبونه گټلی و مگر دخوشحال خان په برخه نور څه لیکلی و او دغه منصب یې تر آخره ونشوسا تلی:

په ابتدا کښې خوشحال خان ته هم دشاهجهان له خوا هماغه دپلار منصب او مقام ورکړ شو اودی هم له شاهجهان سره ډیر وفادار وچه د هغه په سر یې له یوسفزو سره جنگونه کول.

دختکو او یوسفزو ترمینځ که څه هم قبیلوی دښمنی له پخوانه موجوده وه مگر ددغې دښمنۍ یو مهم علت دا وچه یوسفزی له مغلی حکومت سره مخالف و او ختك ددغه حکومت تینگ ملگری و.

خوشحال خان دشاهجهان دپاره په شرقي پنجاب کښې له راجا جگت سنگ سره هم وجنگېده او خپله مړانه يې ډېره ښه ښکاره کړه وروسته ترديې دبلخ او بدخشان په پېښو کښې هم ددغه حکومت دپاره مهم خدمتونه وکړل او د آمو له سيند ه هغه خوا هم په خدمت کښې شامل و . مغلي پادشاهانو دخوشحال خان له کورنۍ سره زړه او پخه دوستي لرله .

جلال الدين اکبر په ۹۸۹ هـ ۱۵۷۱ ع کښې دخوشحال خان غورنيکه ملك اکوړي ته له خيرآباده ترنوښاره پورې علاقه په جاگير کښې ورکړې وه اوددغې علاقې ټول اختيار دده و .

وروسته ترهغه دخوشحال خان نيکه يحيی خان اودده پلار شهباز خان هم د جهانگير اوشاهجهان له خوا ددغې علاقې واکمن وگڼل شول ، او پخپله سيمه کښې داولس مشران و . کله چه دخوشحال خان پلار مړ شو نو شاهجهان ده ته هم په هماغه ستر گه کتل اوخوشحال خان هم دهغه هر خدمت ته تيار و .

په ۱۰۶۷ هـ ۱۶۵۷ ع کښې چه شاهجهان په ناجوړې اخته شو او زامن يې دپادشاهۍ په نيولو په خپل مينځ کښې سره ونښتل او په نتيجه کښې اورنگ زيب بريالی شو او خپل پلار يې بندي کړ ځکه چه هغه دده دورور (داراشکوه) طرفدار و . اورنگ زيب خپل ورور هم بنديان کړل او داراشکوه يې ووژه په دغو پېښو کښې خوشحال خان داورنگ زيب ملگری و او له ده سره يې ډېره مرسته وکړه کله چه او رنگ زيب بريالی شو خوشحال خان يې تېراته وليږه چه دده مخالفين مات کړي له تيرانه چه فارغ شو نو بيا ئې له يوسفزو سره داورنگ زيب دپاره جنگ او جگړه شروع کړه مگر له دغو ټولو خدمتو سره په ۱۰۷۴ هـ ۱۶۶۴ ع کښې خوشحال خان په پېښور کښې دسيدمير خوافي په اشاره چه په کابل کښې داورنگ زيب والی و په چل ونيول شو او بيا يې ډيلي ته بندي بوته همدغه وخت دخوشحال خان دکورنۍ ۸۵ کلنه دوستي او وفاداري چه له مغلو سره يې ساتلې وه په دښمنۍ بدله شوه او خوشحال خان داورنگ زيب دښمن شو .

هغه وخت چه خوشحال خان په ډیلی کښې بندی شو نو دده کورنۍ یې هم ډیلی ته دیر غمل په ډول وغوښتله مگر یوسفزو دخوشحال خان کوراو کهول وساته او حکومت ونشو کړای چه ډیلی ته یې بوزی.

هماغه یوسفزی چه خوشحال خان ورسره داورنگ زیب دپاره جنگونه کول په بده ورځ کښې دخوشحال خان په کار شول، په رښتیا چه بدتر بور په بدځای کښې په کاریزی اوخپل له پردیونه په هروخت کښې ښه وی.

هغه اورنگ چه خوشحال خان دده دپاره خپل عزیزان وژل دخوشحال خان دښمن شو او هغه یوسفزی چه دخوشحال خان دښمنان وو دده دکورنۍ اوننگ وناموس حامیان شول.

همدغه دخپل او پردی فرق وچه دخوشحال خان په زړه اودماغ یې ډیر اثر وکړ او دی یې داسی راوپښ کړ چه په هیڅ راز تعلیم اوزده کړه دغسی پوهه نه حاصلیده.

خوشحال خان یونیم کال په بند کښې تیر کړ اوڅه نوره موده په هند کښې نظربند پاتی شو. ده خپل ډیر شعرونه په بنداونظر بندی کښې ویلی دی همدغه بندیتوب په خوشحال باندی ډیره سخته اغیزه وکړه اود ده په روح کښې یې دانتقام سوزنده جذبه راپیدا کړه.

خوشحال خان طبعاً آزاد فطرته شاعرو اوپه داسی کورنی کښې لوی شوی و چه پخپله سیمه کښې یې آزاده حکمرانی درلوده.

دخوشحال خان شخصیت هم داسی راغلی وچه دذلت اوخواری ژوند په ده باندی له نورونه ډیر سخت تیریده له بلې خوا ده په ځان کښې دحکومت په نسبت هیڅ گناه نه لیده اودخپلو خدمتونو په مقابل کښې ورته دغه رویه ډیره بده معلومه شوه.

دی په دی راز ښه پوه شو چه شخصی اقتدار دشخصیت دښمن دی او مستبد حکومتونه خوشحال خان غوندی شخصیتونه نشی منلی.

دغه‌راز عواملو په‌ده کښې ډیرلوی فکری انقلاب راپیدا کړ اودپردی حکومت اصلی څیره ورته دتجربې په‌هنداره کښې پوره څرگنده‌شوه.

کله‌چه‌خوشحال خان په‌زندان کښې خپله‌آینده سنجوله‌اوله‌ځان سره یې په شپوشپو فکرکاوه پس له‌ډیروفکرویې دافیصله‌وکړه:

پس له بنـــده دی دا عـــزم　　　　دخـــو شحا ل دخاطـــرجزم

یا نیـو لـــی مـخ مـــکی تـــه　　　　یـــا مـــغـــلو ســـر ه رزم

دهمدغه‌عزم او پیمان په‌اثر کله‌چه‌دی بیر ته هیوادته را غی نو په فکر او احساس کښې ئې داسی بدلون راغلی وچه‌بیا یې تر مرگه له‌مغلو سره جوړه‌رانغله اودمړینې په وخت کښې یې داوصیت وکړچه‌ما په‌داسی ځای کښې ښخ کړئ چه‌دمغلو دآسونو گرد رانه‌رانه‌سی ونه لویږی.

کوم‌وخت‌چه‌خوشحال خان بیرته‌خپل کور ته‌راغی نومغلی کورنـــۍ داغوښته چه‌خوشحال خان بیا له یوسفزوسره و جنگوی دهمدې دپاره یې لوی منــصب اود یوسفزو دعلاقې حکمرانی ورورکړانديکړه مگردی‌ونه‌غوښتله او په دغسی تیته‌سودا قانع نه‌شو.

په‌دغه‌وخت کښې له ده سره یوازی دځان‌سود انه‌وه بلکه‌دپښتو او پښتون فــکر ورسره‌و.

کله‌چه‌مغلی حکومت له‌خوشحال خان څخه بیخی نا امیده شو نودده‌ځوی بهرام خان یې دده په‌مقابل کښې ودراوه اودپیسو په‌زور یې ځوې له‌پلار سره دښمن کړ. همدغه دپیسو زوروچه‌پښتنو کښې یې بې اتفاقی پیدا کړه اودخوشحال خان مخه یې ونیوله.

په‌لومړیو وختو کښې دپښتنوځینی نور مشران هم ولکه‌ایمل خان مومند اودریا خان اپریدی چه‌دهند له‌مغلی حکومت سره‌جنگیدل او په‌جنگ وجگړه کښې یې له‌خوشحال خان نه برخه درنه‌وه مگرخوشحال خان سره یوازی توره نه‌وه قلم‌هم‌واودشعر

په توره يې هم ډير کار کاوه لکه چه پخپله وايي .

زماژبه‌نه‌ده اورده　　　　گذا رونه د تپولك کا

کله‌چه‌ايمل‌خان اودرياخان له‌دنيا نه‌لاړل اوخوشحالخان يوازى پاتى‌شو نودده‌عمر ډيرتريخ شو اوپه ډيروتکليفونواخته شو.

په‌دغه‌وخت کښې اورنګ‌زيب‌ډيرپښتانه‌په‌پيسواوررازروعدوپه‌خوزه ژبه اوغوړوخبرودخان ملګرى کړل‌چه‌خوشحال‌خان‌دپښتنواومغلودغه‌حال‌داسى‌بيانوى:

مغل وته‌چه ګورم هغه هسى مغل نشته
دتورى وارېې تيردى‌اوس‌ورپاتى‌يوقلم‌دى
پښتون په زرونيسى په فريب په تيټالونو
په‌مائى اثرنشي يوپه مادخداى‌کرم دى

دهمدې‌لامله‌چه ځينې پښتانه دحکومت په بخښښونو اوانعامونوپه بله‌خواووښتل اوخوشحال خان يوازى پاتى شونوپښتنواقوامو ته يې ډير بدردوويل اوپخپلو اشعاروکښې يې وغندل. په‌دى وخت‌کښې که‌څه هم ده ته‌ډيرى بدبختۍاوررازمصيبتونه متوجه شوه مګربياهم معنآدمشکلاتوپه مقابل‌کښې مغلوب نشواوخپله‌لويه حوصله ، صبراواستقامت يې له‌لاسه ورنکړل. په‌غمونواوکړاوونوکښې دده ټينګار اوثبات په‌دى بيتونوکښې وګورئ :

زمانى له‌ښويارانونه‌مهجورکړم　　　څه بلائى مبتلا په ډيرضرورکړم
اوس په مادخوشحاليه نوم جوړنه‌دى　　　چه‌داهسى زمانى‌له غمه پورکړم
ماوى تړق به سره وچوم له غمونو　　　ولى‌لاتراوسه پايم‌خداى‌صبورکړم
اشرف‌خان په‌ناپوهى‌په‌غم‌کښې‌ونښت　　　زه دده‌غمونولاپه زړه‌رنځورکړم
جدائى دصدرخان لکه‌سوراوروه　　　که‌دواړه‌فرزندانوغم‌چورچورکړم
هغه وخت مګردخداى په‌وعده راشي　　　چه به بيا له خيلخانى سره‌سرورکړم

مرگه‌هو مره‌مهلت‌را کړه په‌جهان کښې چه جمد ردمدعی په وینوسور کړم

که ئې درست دمتوزوررا ته ښکاره کړ بیافلک‌سره کشتی پخپل دستور کړم

مست‌ها تیان‌خونی زمری په‌څنځیر کیږی بویه‌داچه‌ځان فلک‌وته تربور کړم

پخپل آه‌می باو رشته اثربه وکا رقیبان به اورلړونی دتنور کړم

چه می فکرد ازل په توری وشی

په‌دا کار کښې خپل پردی واړه معذور کړم

دخوشحال خان‌دديوان له‌مطالعې څخه دا ډیره ښه معلو میږی چه په‌دی‌سړی کښې ډیر لوی روحی اونفسی قوت موجودواوپه ډیروسختواحوالو کښې ده ته‌داسی افکار اوخیالات پیدا کیده‌چه‌دده اراده یې ټینګوله‌اوددې‌یې دمشکلاتو مقابلې ته‌چمتو کاوه.

که آسمان‌دی د زمری په خوله کښې ورکړی

دزمری په خوله کښې مه پریږده همت

په جهان دننګیالی دی دادوه کاره

یابه وخوری ککری یا به کامران شی

په جهان کښې که مردان‌دی هم هغه‌دی

چه وسختی وته ونیسی ځانونه

دده دغه بیتونه دده دروح انعکاس دی چه دی یې له تاثیره ځان نشی‌خلاصولی اودده په زړه اودماغ تسلط لری .

له خوشحال خان سره داعقیده ډیره ټینګه وه چه دانسان لویی‌په‌لوړهمت پوری تړلی ده ځکه یی بی همتی هیڅکله نه قبلوله اود بل له‌ارادی‌لاندی‌اوسیدل لاڅه چه دبل منت اواحسان قبلول هم ورته ډیره کم همتی معلو میده ځکه‌یې‌ویل :

دمنت داروکه مرم په‌کارمی نه‌دی که علاج لره می‌راشی مسیحاهم

د پرښتو آمین منـت دی پـه دعـا کښې — لاجـرم ورځنی پته کـړم دعاهم
دجهان غمونه واړه پـکښې ځـای شوه — شکر داچه زړه یې لوی را کړو ما هم

که می حلق له تندې وچ شی پـه همت کښې — پـروادار کلـه په حوض د کوثر یم
پـه وګـړ ی می خبری د مـردی شی — په همت کښې په هر لوری نامور یم
د یـا قـوت داو بوغم نشـته لـه اوره — کـه دایم دزمانی په اور کښې در یم

دغسې فکرونو اودژوندانه پېښو په دغه سړی کښې ډیره خودی او خود داری پید ا کړه چه په اجتماعي رنګ کښې ترینه دملیت فلسفه جوړه شوه اوده په اشعارو کښې یې ډیر نفوذ ومو ند .

په پښتو ادب کښې دملیت احساس:

له نن نه درې نیم سوه کاله پخوا دپښتو ژبې دغه لوی اوستر شاعرد افغا نیت په نامه دپښتو او پښتو نولی سندری شروع کړی او له شعرسره یې دملیت احساسات اوجذ بات ملګری کړل .

دایو لوی ادبی تحول وچه دغه نومیالی شـاعر مینځ تـه را ووست اود شعر مخه یې یوې ډیری مهمې اجتماعی موضوع ته راواوګرزوله .

په هغه وخت کښې دملیت احساس په دغه ډول ځا ن نه وښکـاره کړی او مستقل وجودیې نه درلود. په شرق کښې لاڅه چـه په غرب کښې هم دا فکرغریب شا نته و اودنړۍ ډیرو لسونه ورسره ناآشنا و .

په ځینو خلقو کښې که د ا جذ به لږه ډیـره موجوده هم وه نـو صحیح تعبیـر او تفسیر یې نه وشوی او په نوروجذ باتو کښې ورکه وه.

دخوشحال خان نبوغ اوعبقریت همدغه دی چه له نورونه ډیر پخـوا دملیت په مفهوم اومعنې پوه شوی واودخپلو اشعارو په وسیله یې دملیت نیلی اوریښې په پښتو ادب کښې ټینګی کړی. ترخوشحال خا ن دمـخه کـه څه هم میا روښان اودهغه

زامنو خوځله پښتانه له مغلو سره دملي آزادۍ دپاره وجنګول مګرهغه جنګونه په پټه خوله واودافغانیت په نامه کوم ادبي تحریك ورسره ملګری نه و. سربیره په دې دجنګ اوجګړې مشرانو هم ظاهرآ روحاني بڼه درلوده اودپیرۍ په جامه کښې و.

دایوازې خوشحال خان خټك وچه په ملي رنګ کښې میدان ته راووت اولومړی ځل یې په جګ اولوړ آواز وویل:

درست افغان ترکندهاره تراټکه — سره یو دننګ په کار پټ وآشکار

داملي اعلامیه دپښتو اوپښتونولۍ دصبح صادق لومړی آذان وچه دیوه اوبل غوږ ته ورسیده اودملیت رشته یې خلقوته په لاس ورکړه.

خوشحال خان په شعر کښې همدغه مقصد تعقیباوه اوغوښتل یې چه دافغانیت مضمون په مختلفو پیرایو کښې په پوره ډول بیان کړي.

دده ذوق، دده فکراودده احساس په همدغه نقطه تمرکز موندلی وا وتوله توجه یې همدغی خواته وه. ده دوخت ضرورت ته کتل اوپښتنو ته یې داسې تلقین کاوه:

که په توره یې جواب ورکړی مردی ده

کەوجوددې خوك آزارکاندی په چوب

په ده باندې دافغاني ننګ اوغیرت احساس دومره غالب وچه دخپل نازولي ځوی په ویراوژړا کښې یې هم دغه مضمون نه هیراوه اودهغه په مرثیه کښې یې وویل:

کشکي ځوان دپښتانه په ننګ کښې مړوای — نه چه ګورلره روانشوله تلتکه

خوشحال خان دیوه معلم اومربي په حیث پښتنو ته دخودۍ اولوړهمتۍ درس ورکاوه اودمشکلاتو په مقابل کښې ئې ددوی عزم ټینګاوه.

داتلقین ده په هرراز مستقیم اوغیر مستقیم ډول کړی دی چه ځینې نمونې یې دادي:

خـوا نخلـي لــه غلـيمـه انتقــام　　مرد نه خوب کا نه خوراك کا نه آرام
چه د ننگ او د نا موس ا ندوه يې نه وي　　دهـغـه سـړی بـه نـه وي احتـرام
چه همت او حميت غيرت پکښې وي　　تـر ځـښـتـنـه بهـتـر وګـڼـه غـلام
دمردي د نا مردي تر مينځ ميل نه دي　　تفاوت يې په ذره دي يـا په ګام
چه د بـل تر لا سه ورغـی د بـل شـو　　مرد به خپل لـری دخپل فکر زمام

په يوه بل ځای کښې وايي :

که لويي غواړي هنر د لويي زده کړه　　بې زينې دی پـه محل خـا ته محال
د سړی لو يي په رنګ په سا له نه ده　　په همت ده پــه هنر ده په خصا ل
که په نحسه طا لع بند شوم عيب يې نشته　　کـله کـلـه تنـد ر هم نيسـی هلال
که هزار کا ندي پښتون مغل به نشي　　بو يه دا چه له زړه و با سی دا خيال

کله چه دی په فخر يه دول خپل شجاعت او شهامت بيا نوی نو په دی ضمن کښې د پښتنو بی همتی ته داسی اشاره کوی :

هر ملخ د سر با زيـه هـنر خـه زده　　چه په دا هنر کښې سر ښندی پتنګ دی
لا تر اوسه يـې مـا غـز ه پـه قرار نه دی　　چـا چه ما سر ه وهلی سر په سنګ دی
لا په خوب کښې په لر زه پر يوزی له کټه　　چـه دچا تر غوږ زما د توری شرنګ دی
که په داد ور می ګوری هغه زه يم　　چـه مي داغ په خاطر ا يښی دا ورنګ دی
درست جها ن می و مغل و ته خيبر کړ　　ځـای په ځـای يې پښتا نه و ته قلنګ دی
ځيني خه لو يې دعوی لرم په زړه کښې　　و لی خه کړم چه پښتون وا ړه بې ننګ دی

دی دخپل وخت له ځينو پښتنو نه د يرې شکوې او ګيلې لری چه پخپل يوه شعر کښې يې داسی بيا نوی :

پا د شا هـی يـې دمغل پـه زرو با يلـه　　دمغـل د منصبو نو پــه هــوس دی

اوښ له باره پخپل کور دی ورغلی — په ولجه داوښ دغاړې دجرس دی
بې ننګان دبې ننګیه کار وبارکا — ننګیالی دننګ په کار کښې هر نفس دی
سرېې هورې کندهار بل یې دمغار دی — تردا مینځ همه میشته واړه عبث دی

دده همدغه شعرته علامه اقبال داسې اشاره کوی :

خوش سرودان شاعر افغان شناس — آنکه بیند باز گوید بې هراس
آن حکیم ملت افغانیان — آن طبیب علت افغانیان
راز قومی دید و بی باکانه گفت — حرف حق باجرئت رندانه گفت
اشتری یابد اگر افغان حر — بایراق وساز و باانبان در
همت دونش ازان انبان در — میشود خوشنود با زنگ شتر

دغه راز ګیلې اوشکوې دی له خپلو زامنو نه هم لری اود یوه ځوی په باب وایی :

ترڅلویښتو کالو تیرشو — باندی خرخ نشو پیکان
هنګامه ده لاپه مینځ کښې — دمغل اود افغان
زه په لویو اندیښنو کښې — دی په کور کښې دی غران
چه له ماسره بدی کا — پری رحمت کا مغلان
دی لاهرڅه ورته وائی — ورسره شی فارسی خوان
چه می وارور باندی سازشی — بیاراوړاندی کادوستان
که کښېنم نام وناموس ځی — که پاځم پاځی طوفان

هغه اشعار چه افغانی احساسات خوځوی او ښتنی روح تقویه کوی دده په دیوان کښې ډیرزیات دی. که څوک دده داشعارو په نبض ګوتی کښېږدی نو په رګ رګ کښې یې ننګ اوغیرت څرکی وهی اودغه دزمانې ننګیالی قهرمان پخپلو اشعارو کښې ځان ښیی چه یوه نمونه یې داده :

پخپل نام وننګ چه راشم لیونی شم　　خبر دار کله په سود او زیان دلك یم
چه په طمع داوړو ځغلی وشست ته　　ګمان مکړه چه هغه نادان سملك یم
هیڅ له قدره می وګړی خبر نه دی　　که رښتیا وایم دسترګو مردملك یم
لکه باز په لوی لوی ښکار زما نظر دی　　نه چه ګرزی ګونګټ نیسی باد خورك یم
چه نیولی می داهو دد نام وننګ دی　　که له خپله هوده واوړم کنیزك یم
دافغان په ننګ می وتړله توره
ننګیالی دزمانې خوشحال ختك یم

خوشحال خان هغه څوك وچه په ده کښې فکر او خیال عمل او اراده ډیر ښه یو ځای شوی و او له ډیری لوړی قریحی سره یې لوړ شخصیت، لویه اراده او ځلانده توره هم لرله.

دا ډیره لږه پیښیږی چه یو سړی د بزم په مجالس کښې هزار داستان بلبل وی او په رزم کښې دباز او شاهین تیرې منګولې ولری دارازیو له بله ترنده صفتونه په یوه شخص کښې په ډیر ندرت جمع کیږی چه خوشحال یې ډیر ښه مثال دی.

دخوشحال خان دتوری اوشهامت قصه به پریږدو دده شعر او شاعری او قلمی آثار و ته به راشو. دخوشحال خان له خپلې وینا څخه معلومیږی چه دی دشلو کالو و چه په شعر ویلو یې شروع وکړه نودده شاعری له ۱۰۴۲ ه څخه شروع کیږی او نږدی ۵۸ کاله دوام کوی په دغه موده کښې څومره اشعار او څنګه اشعار چه ده ویلی دی هغه هم دډیر ښت او هم د تنوع په لحاظ د بل پښتانه شاعر په برخه شوی نه دی.

دده په دیوان کښې عشقی، حماسی، اخلاقی، فکاهی او حکایوی شعرونه په مختلفو اقسامو موجود دی یعنی غزلی ـ قصاید ـ رباعیات ـ ـ قطعات ـ ـ مخمس ـ ـ مسدس مثنوی ـ ترجیع بند، هرڅه لری او دژوندانه په هر اړخ او هره خوا کښې غږیدلی دی. دده داشعار وزیاته برخه په تاریخی واقعاتو مشتمله ده او دخپل وخت ډیرې پیښې پخپلو اشعار و کښې تمثیلوی.

دی په یوه قصیده کښې چه ۱۳۸ بیته لری د خپل ځان او د خپلې شاعرۍ په باب مفصل معلومات راکوی چه دلته ترینه داختصار په رعایت یوڅه بیتونه رانقلوو:

زه د شعر په کار هیڅ نه یم خوشحال — ولی خدای می کړ په غاړه دا مقال
رنګ زما د شعر هیڅ سره ساز نه دی — لکه سپی راپسی ګرزی په دنبال
که د شعر ویل هر څو د صفت وی — بیا په شعر کښې پیدا شی انفعال
داخبره بده نه ده چه وایلي — په تحقیق چه شعر حیض دی د رجال
په جهان تر شاعری به بد څه نشته — خدای اخته مکړه سړی په دا جنجال
تفکر د شاعری لړمون شین کا — دغلیم دی په نصیب شی دا اشغال
یو یې زړه له واړه خلقو نه جدا شی — بل اخته وی د خپل فکر په نکال
بل که هر څو در ګوهر پېی په شعر — عیب جویی جاسوسی کا دا افعال
هر شاعر یې په ویلو ګوتمنډی کا — که په شعر کښې ته من یې دی مثقال
بل په هسی شان دروغ پکښې ویل شی — چه پخپله دروغژن شی دم درحال
د یار مخ د لاله ګل سره نسبت کا — د لاله د یار له مخه څه مثال
د معشوقی توری سترګی غمزه ګری — په غزل کالکه سترګی د غزال
خلق خوښ په خوب ویده وی دی بې خوبه — د پا لنګ د پاسه خوب وی پری محال
پټ په پټه وبله اوړی تر صباحه — د ښه لفظ د ښه مضمون په اتصال
چه د شعر فکر ورشی په مجلس کښې — نور عالم خندا هوس کا دی ملال
چه د شعر فکر ورشی په نما نځه کښې — داعوذ ذال بدل کاندی په دال
چه د شعر فکر ورشی په خواړه کښې — سپینی وریزی په مزه شی ورته ګال
دا همه د خپلی پوهی نتیجه ده — چه شاعر له فکره نه وی فار غبال
فلاکت د شاعر یه سره مل دی — که شاعر سړی لری جاه و جلال
سمرقند او بخارا څه هغه زه یم — چه جهان بخښم د ښکلی مخ په خال

ماداخو تو که چه و لید ل د شعر   هی تو به دشاعریه له افعال

کشکی زه بی ژبې گنگ وای شاعر نه وای   تر دا هسی گویا ییه ښه وم لال

که رښتیا وایم چه غور می پری وکړ   شعر کار دی دملوك یاد هزال

درگوهر یا دلولی یاد بی بی دی   ښه قماش یاد باشاه یا درزال

دد وزخ لمبی به کار په عاشق نه کا   چه یې تاوددرونی دی په دا دال

دانائی علم وحکمت پکښې زیا تیز ی   څوك چه ښه وکاد شعر استعمال

دخبرو تنستی چه و اوبدی شی   څوك اطلس اوبی په شعر ځینی شال

کرامت دی یا اعجاز دی یا جادو دی   چه په شعر راپیدا شی له قوال

شعرکار دهر فاسق دفاجر نه دې   نه دهر یوه وزستر گی د کنګال

شعرکار یاد سالك یا دمالك دی   دعاشق دی ددر دمن دی دابدال

دهغه شاعر دانی وښه په ژبه   چه دشعر دردانی پلو ری په مال

چه دشعر شاعر یه مذکور وشو   څه خوغو ز با سه زما په حسب حال

قصیدې لرم غزاله هره بابه   په حکمت په نصیحت کښې مالامال

په تعریف ددلبرا نو غز لونه   په صفت دستر گو ورځو زلف وخال

رباعی ده که قطعه که مثنوی دی   همگی واړه گوهر دی درولال

په پارسی ژبه که نور ترما بهتر دی   په پښتو ژبه می مه غواړه مثال

طبیعت می عطائی نه د تحصیل دی   که خبریم داملا په استعمال

یوساعت به مې په درس شل می په ښکارو   کله ښکار پر یښوم په کسب دکمال

دجهان تحصیل به کل واړه زماو   که اخته نه وای دښکار په اشتغال

غا ښې وتلی زیره سپینه لا تراوسه   باز په لاس گرزم په غرونو په جبال

بند و بست دپښتو شعرما پیدا کړ   گڼه شعر د پښتو وغیر سیال

نه یې وزن نه تقطیع نه یې عروض و   دوه مصرع یې دخفیف بحردوه طال

دغزل نه‌یې مطلع نه یې مقطع وه　　نه صفت نه‌یې تشبیه نه یې مثال
مګر زه‌یې چه ګویا په‌شاعری کړم　　پښتانه یې پوهول ایزد تعال
په دابند وبست به نور ترما بهترشي　　پس له‌ما چه‌کاد شعر قیل وقال
نن زما ځویه یوځودی برخوردار ښه　　چه په داهنرکښې نلری همال
ګلستان زما دنظم شګفته شو　　پری وهی شیدا بلبله پروبال
ګلدستې یې لورپه لورپه ملک خورې شوې　　ترکابله ترکشمیره تر بنګال
هرمضمون ته چه دزړه توجه وکړم　　طبیعت یې راکوی په استعجال
شبستان می دابکارو معنو ځای دی　　تی یې نموړم په غدو په‌آصال
درست دیوان می لکه باغ دعالم ګنج دی　　پکښې هررنګه ګلونه هرنهال
ددیوان می که بیت بیت سره حساب کړی　　ترځلوېښت زره به تیرشي په سزکال
په غزل په رباعی می زړه مین دی　　چه‌مداح یم د دلبرو دجمال
په محشر به مینه‌ورمه دسنګدلو　　که په‌دا در نیزی تله داعمال
زه مداح دهیچا نه یم بې دښکلو　　دنور چاپه صفت نلرم یو قال
که له هجوی له غندنې درته وایم　　فردوسی می په‌دا کارکښې نه‌دی‌سیال
په‌آباو په اجداد خان او سرداریم　　کار نامی لرم دجنګ اود جدال
پلار نیکه می شهیدان وګورته تللی　　پښت په پښت می داهنردی آل په‌آل
که دجنګ دپرهارونو درته وایم　　چه له‌درده می په تن ولکه نال
یو پرهار به می لاروغ په وجود نه و　　بل پرهار به‌می په تن ویاپه ډال
دا همه زما دتوری صدقه ده　　پښتانه چه پرګنې خوری سیورغال
نن به درست دهندوستان دولت ددوی و　　پښتانه نه‌که کم‌همت نه وای جهال
یکانه ځوانان که زرله ماسره وای　　نورزماو په پنجاب باندی یرغال
که هرځویې سازومه نه سازیږی　　پښتانه دی دنږو کا ښو دیوال

هو مره قام ، هو مره عالم سرداري هسي سرگردان گرزي په تيښته دا منوال
تراو يا کالونو تير شو زما عمر زره هغه دي تن پيري کړ پايمال
خدايه هو مره مهلت ور کړي په دنيا کښي چه کا زه کار ونه سم کاندي خوشحال

دخوشحال خان دا خبره رښتيا ده چه پښتو شعر دده په وسيله ډير انکشاف وموند او دکم وکيف په لحاظ پکښي ډير لوی تحول راغی . ده دنورو دپاره ډيره لويه لاره پرانيته او په ده پسی دشاعرانو ډير لوی کاروان را روان شو .

ده ته په حقه دادبی قافلی سالار ويلی شو او دپښتو ژبی په ادبی خدمت کښي دا مامت حق لری که څوك دپښتو شعر په تاريخچه يو سرسری نظر واچوی دا به ورته ښکاره شی چه له خوشحال خان ختټك نه وروسته په ده پسی دپښتو ډير زيات شاعران او ددیوان خاوندان را پيدا شوه او په همدغه سبب ده ته دپښتو ادب پلار او ددغه لوی اوپاخه نهضت موسس ويلی شو .

خوشحال دځينو پخوانيو شاعرانو په نظر کښی:

دخوشحال خان په دغه لوی اوسترحق دپښتو ژبی ځينی ډير لوی شاعران قايل دی او ډيري ستاينی يي دروستنو شاعرانو په اشعارو کښي مومو .

مثلا کاظم خان شيدا دده په باب وايی :

په دی فن کښي څو اشخاص ډير زمو نږ خاندان خاص دی
يو ميرزا دولت واصل هم بيا په کلام لري حاصل هم
دپښتو شعر معلوم و په معنی کښي کالمعدوم و
چه قلم په لاس دخان شه مرتب يي لوی ديوان شه
تصانيف يي فراوان شول مستند ددرست افغان شول
هر شاعر چه دافغان دی ريزه چين دخان دخوان دی
خان ممتاز دتمام روه دی بل استاد ددي گروه دی

پیر محمد کاکړ وایي :

بل په شعر کښې هم سیال دخوشحال نشته
که څوك بحر مواج وايي ورته ښايي
هیڅ ترشعر درحمان به څه کم نه وی
لکه شعر دی دده په پښتو نخوا کښې
که څه درشت دی دادده سخندان شعر
په دیوان کښې یې مونده شي هرشان شعر
ومنصف ته دختك خوشحال‌خان شعر
بل به کم وی په دا وخت دافغان شعر

میر احمد شاه رضواني وايي :

دپښتو ژبې که ډیر دی شاعران
هیڅ حصار نه دی په لوړه پهزوره
منظومات یې دی لړۍ د مرغلرو
دخوشحال دزړه قطرې څه هسې نه دی
فصاحت یې د کلام پخپل لسان کښې
رزمیات یې هو بهو دحماسي دی
په آثارو دقدرت کښې چه راچل شي
په شکوه داورنگ زیب اودبهرام کښې
په پښتو کښې خوشحال خان هسې شاعر دی
مقالات یې واقعي اوحسب حال دی
ترشیراز خوږ والفاظو یې ګڼاریږی
خو په وارو کښې بادشاه دی خوشحال خان
نه پو هیږم اباسین دی که طوفان
که تسبې دی دیاقوت او دمرجان
چه سیالی به یې کاندی لعل دبدخشان
د حسان بن ثابت دی دسحبان
په عشرت کښې بو نواس دی ددوران
ته به وايي چه هومردی دیونان
فردوسي هم ورته پاتې شي حیران
لکه وامرء القیس په عربستان
نه فرضي ویل چه کاندی شاعران
ډیر خسرو غوندی طوطیان د هندوستان

خوشحال خان دمستشرقینو په نظر کښې :

اسلامي انسایکلو پیدیا :

دده په باب کښې لیکي (خوشحال خان توریالی شاعر او مشهور خان ودده اشعار له وطنخواهی ډك دی....) ۲ جلد ۱۷۶مخ.

مسترراورتی لیکلی دی:

خوشحال خان د پښتنو ډیر مشهور ادیب دی دده اشعار په یورپ کښې ډیر قدر لری ده پخپل کتاب گلشن روه کښې چه په ۱۸۶۰ ع کښې چاپ شوی دخوشحال خان منتخب اشعار اخستی دی او په ډیر لوی حق ورته قایل دی.

دارمستتروایی:

خوشحال خان د توریا لیتوب او شعر گډ روح درلود.

ابراهام گریرسن لیکی:

خوشحال خان دختکو توریالی مشرو دده شعر دنورو شاعرانو له شعرنه ډیر خوږ دی.

سی ای بیډولف:

پخپل کتاب کښې چه په ۱۸۹۰ ع کښې په انګلینډ کښې چاپ شوی د خوشحال خان ۱۵ قصیدې، ۴۶ غزلې، ۱۸ قطعې یو ترجیع بند، په انګلیسی ترجمه کړی او دده په بابې ویلی دی: (خوشحال خان ډیر لوی استعداد او فوق العاده پوهه درلوده هیڅ مضمون نه دی پاتی چه ده په شعر کښې نه وی ویلی دده اشعار د وطنخواهی جنبه لری.)

ډاکتر بیرنهار ډ ډورن:

د پترزبورگ د ساینس دایمپریل اکادمی غړی پخپل کتاب کښې دخوشحال خان له عیار دانش څخه چه دفارسی عیار دانش ترجمه ده (۲۶ مخه) اقتباس کړی دی.

خوشحال خان علاوه دشعر په دیوان نور هم ډیر تالیفات او تراجم لری چه ځینو مستشرقینو ترسلو جلدو نو ښودلی او راورتی یې (۲۵۰) گڼی مگر ددغو ټولو آثارو پته تراوسه نه ده معلومه او یوازی یو څو کتابونه یې په ځینو کتابخانو کښې موندل شوی دی لکه: فضل نامه (دوړوکی بحر مثنوی مذهبی مسایل) فرخنامه (د توری او قلم بحث) ـ فراقنامه ـ ریاض الحقیقت ـ هدایه چه له عربی نه په پښتو ترجمه شوې ده.

دستار نامه ـ صحت البدن ـ سواتنامه ـ عیاردانش (له فارسی څخه ترجمه) آیینه دفقه کتاب ـ بازنامه ، چه دغه روستی کتاب پښتو ټولنی چاپ کړی دی .

دخوشحال خان له دغسي لالهانده او سرګردانه ژوند سره چه یا په جنګک او جګړو یا په بندیتوب اویا په ښکار او ګرزیدو کښې تیر شوی دی دغومره اشعار او آثار لیکل داثابتوی چه دی دډیر لوی استعداد اوډیرې لوړې قریحې خاوندو چه په ډیر و لږو خلکو کښې کله کله په ډیر ندرت پیدا کیږی .

خوشحال خان علاوه په دی چه قوی روح ، قوی زړه او قوی دماغ یې درلود دجسمانی قوت په لحاظ هم ډیر پیاوړی وچه دشپیتو کالو په عمر هم له برمنه و او یدلی .

دی پخپلو اشعار و کښې خپل زامن ډیر ښئی اودخپلو نمسیو شمار له حسابه وتلی ګڼی .

دیرش می ځویه په شماره دی دنمسیو می څه شمار دی

په بل ځای کښې وایی :

دخوشحال ختلک که سل ځویه نمسی دی لا لایق دخانی نه وینم پسر

دده دلویو تعداد هم دځینو په قول دیرشو تنو ته رسیږی چه په دغه لحاظ هم یو څه فوق العادګی لری .

که څوک غواړی چه په پښتو ادب کښې پښتو ننګ او پښتو نولی و لټوی دخوشحال خان دیوان دی وګوری او دده په دستارنامه کښې دی غور او دقت و کړی .

خوشحال خان پخپل دغه کتاب (دستارنامه) کښې دسړیتوب او ناریتوب ټول صفات بیانوی او دشخصیت په باب خپل فکر و نظر یا په بل عبارت پښتنی ذهنیت ډیر ښه څرګندوی .

دخوشحال خان خپل شخصیت هم په دستارنامه کښې پوره ښودل شوی دی هغه خوشحال خان چه په اشعار و کښې رند او می پرست معلومیږی په دستارنامه کښې

چه په نثر لیکل شوی خپله معنوی خیره دیوه متشرع او دیندار سړی په حیث ښيي او داسی معلومیږی چه خوشحال خان بـې باکه او بـې پروا سړی نه و.

هو ! دشعر ژبـه د مجاز او استعار وژبه ده چه ډیر صوفی او عارف شاعر هم ظاهراً شرابی او خرا باتی ښيي. خوشحال خان پخپلو اشعارو کښې وایی :

زه خوشرابی یم شیخه څه راسـره جنګ کـړی
بخری ازلی دی کاشکی ما دځان په رنګ کـړی

می خورم می پرست یم همیشه ایاغ په دست یم
یو ساعت چه ځی رابا ندی غـم دی بـی ایاغـه

مګر همدغه خوشحال خان چه په دستار نامه کښې وګوریٔ هلته له شرابونه په فرسخو تښتی او خوړل خوپې لا څه کوی چه په کور کښې یـې دمیلمه دپاره ساتل هـم جایز نه ګڼی .

خوشحال خان سربیره پـه دې چه د پښتو شعر یا لنه یې دلفظ او معنی په لحاظ په ډیر ښه شان کړی ده دپښتو نثر ته یې هـم ډیره ترقی ورکړی او په ډیر ښه سبك یـې ځینی منثور آثار لیکلی چه دستار نامه یـې ددې ادعا ډیر ښه ثبوت دی .

خوشحال خان دپښتو ژبې په لیك کښې داملا په لحاظ هم تغیر او تحول را ووست چه تـرده وروسته د ده کورنـۍ هم لـه دغه لیك دود څخه کـار اخیستـی دی دهمدی لامله وایی :

که د نظم که د نثر که دخط دی   پـه پښتو ژبه لـرمـه ډیـر حـقـونـه
نه پخوا پکښې کتاب و نه یې خط و
دادی ما پکښې تصنیف کړه څو کتـابه

خوشحال خان خټک د اوسنیو شاعرانو په نظر کښې

د پښتو ژبې اوسنیو شاعرانو خوشحال خان خټک ته یوازې د یوه لوی اوستر شاعر په حیث نه دی کتلی بلکه دی یې د ملیت او د پښتو پښتونولی د موسس په حیث، یو ملی قهرمان ګڼلی چه یوازې پښتو شعر یې نه جوړ اوه بلکه پښتون یې جوړ اوه او د پښتونولی اساس یې ټینګ اوه

امیر حمزه شینواری د ده په باب وایي :

په ننګ د پښتانه له سره تیر خوشحال خټک
په پنجه داجل کښې وشمشیر خوشحال خټک

پریشان ودی د پاره چه پیدا شی جمعیت
یو داغ یې په زړه یوو ړود پښتون مرکزیت
نعرو د اتفاق به یې که غرونه لړزول
لیکن نه کړو بیدار یې په پښتون کښې قومیت
«خپل نن» یې که هر څو په تیرو کښې د تخریب
کړو مونږ اره تعمیر یې روڼ سباد ملیت

خپل عیش له قامه ځار کړلو دلیر خوشحال خټک
په ننګ د پښتانه له سره تیر خوشحال خټک

دریاب که حوصله یې وه همت یې وسنګین
یرغل یې دمزری وپه غورزنګ کښې وشاهین
په علم او په هنر کښې یې لاره جا معیت
ادب کښې یې تخلیق لکه فطرت کاوه رنګین
فرهادوبې ستون دا قتدار ته د مغل   ګفتار یې په پښتون ځکه هر یو لګی شیرین

د ښښنو ته د ښښتو لکه ګنډ ير خوشحال خټک
په ننګ د ښښتانه اه سره تير خوشحال خټک

تهذيب يې ځليده په هر عمل کښې د افغان
مردی او لوړ همت ته يې ميدان وکل جهان

لەرزمه فردوسي که وله بزمه وحافظ
کالبوت کښې يې قدرت پوکړی روح دفريدخان

نسلونه د ښښتون به يې په توره کاندي ناز
زهره چه پری شنه کړی وه لښکر دشاهجهان

ورمات يې تاراګړ کړو په اجمير خوشحال خټک
په ننګ د ښښتانه له سره تير خوشحال خټک

يوزړه وچه دقام په محبت کښې ځليده
تير و باندي د قام لکه د شمعې ژړيده

هر څوکه نظرونه ودوخت لکه د برق
با به د ننګيالي ور ځنی هم نه رپيده

تنګسي يې رامروړلي حوادث يې را نغړ دل
محظوظ به و دتوری په پرهر به موسيده

بريښناوه چه يو ځل نشوراګير خوشحال خټک
په ننګ د ښښتانه له سره تير خوشحال خټک

ددا سي ننګيالي لەښکلي ننګه مي سرځار — دانوم چه په خوله اخلم په خاطر يې مشه بار
دزړه دآئيني يې لطافت دي رامعلوم — شايدچه دغه نوم هم دمغل شي پری غبار
ژوندی دغه جذبه وه ښښتنه دغه جذبه — کړی ژوندي غزوني په تعمير کښې دمزار

ځوك وايي چه په خاورو کښې دی زير خوشحال خټک
په ننګ د ښښتانه له سره تير خوشحال خټک

داوي به يې نيمګړی خو پښتون ود پښتو — ژوندون که په دنيا و خو ژوندون ود پښتو

صحرا په بيابان په کوهستان چه وتل سر — پښتو لکه ليلی يې وه مجنون ود پښتو

ډير ښه يې پيژندلی و رفتار د وخت د نبض — لقمان که د خودی و افلاطون ود پښتو

بی نیاز له حادثو د وخت په خير خوشحال ختـــك

په ننګ د پښتانه له سره تير خوشحال ختـــك

پښتون په اتحاد کښې که لا شته خبری شته — ليکن په دی ادب کښې دالوت وزری شته

نه ښکاری که هر څو پکښې لمبی د قوميت — ديوان د خوشحال خان کښې خولا اور د سری شته

اخر به ددی ساز همه تارونه واخلی سر — بی صبره پکښې ډيری ليونی سندری شته

ملت به د پښتون نه کاندی هير خوشحال ختك

په ننګ د پښتانه له سره تير خوشحال ختك

معلوم به وی هر چا و ته قانون ددې قدرت — هر ګز نه جدا کيږی دربانځنی حدت

لاکن و پښتنو لره بـا بـا او راور کی — راځه ربنا تری واخله پکښې نشته حرارت

هر څه که دی په حق کښې د پښتنو پولپولك — پښتون د پاره دی و په ګلانو کښې نګهت

داځکه خوله زړه دی راچا پير خوشحال ختك

په ننګ د پښتانه له سره تير خوشحال ختك

پښتون کښې دی خدای نکړی چه شی قحط درجال

هر څوک چه دغه قام دی دقامونو په دنبال

لا شته په پس منظر کښې يې غښتلی روايات

سيالی کښې دسيالانو خولا سيال دی چه وسيال

نمانځلی چه اقبال و حکومت د پښتنو

بيا څه رنګه کيدای شول چه تری هير به و خوشحال

حمزه که نن زمونږ ه نه دی هير خوشحال ختك

په ننګ د پښتانه له سره تير خوشحال ختك

مجروح خوشحال‌خان ته داسی خطاب کوی :

دادب د آسمان لمر خوشحال ختټکه — د رحمت باران په خاوره دی رب وکه
ستا اشعار د پښتنوالی مظهر دی — خوازه لګی د پښتون په مذاق څکه
د پښتون په ننګ تړلی توره تاوه — ننګیالی وې بې ننګی دې کړله ورکه
لومړنی منادې ته د حریت یې — د پښتو دادب پلار یې ته بیشکه
ستا په شان اولاد رانه وړ پښتنی بیا — کنه هاره نه نیولی تراتکه
همیشه په درنو خلکو باندې درونديې — چه څوک سپک وی در ته ګوری به په سپکه
ته صاحب د علم و فضل او د هنر وې — هم خبر د توری دال او د توپکه

ته سالار او سر کرده وې د احرارو
قلم بند دی خپل جذبات کړه په اشعارو

آرام پروت او سه په خاورو کښې خوشاله — ستا د زړه ارمان د به وزی نن سبا له
قلمرو د پښتنو کښې به پښتو وی — شی پښتو به د ژوند یو ژبو سیاله
ستا په قام نن سر لویی د ایشیا ده — نه مغل شته په دنیا نه مغلواله
د مغلو بر خه ورکه زمانی کړه — رب دی ساتی مونږ د نورو له جنجاله
که صورت دې دی په خاورو کښې ادیبه — ستا د روح مرغه په زړو کښې لری ځاله
په خوازه آوازدی جونه اشعار لولی — اتنو کښې یې څلمی وایی له خیاله
په یوروپ کښې ګویته که شکسپیر شته ده — مونږ په تا کړو سر لوړی صاحب کماله

له درانه خوبه شه ویښ وکړه خبری
بیا د بزم رزم و وایه سندری

بې له تا ادب بې کسه دی بې پلاره — ستا په شانی اتل غواړی له روزګاره
چه دا ستا منګولی نشته دی په توره — شوه کزه له دیره غمه نه سرداره
خبر لو څی چه بیا ونه لید بلبلو — باغ په باغ در پسی ګرزې نا قلاره

د نرگس سترگی د ستا پلور خلوردی ‌ ‌ ‌ شوې ړندې له ډیره زیاته انتظاره

ستا په مرگ خود غوټی گو گل شو ویني ‌ ‌ ‌ دریدې زړگی هم تور دی له بهاره

چه تا نه وینی محفل کښې شمع ژاړی ‌ ‌ ‌ او رپړی بل وي له خپگانه ترسهاره

بې له تا په هیڅ مکان کښې زینت نشته ‌ ‌ ‌ له زمانه برکت لاړه له واره

رابه نشی په دنیا بیرته خوشحاله

په رښتیا پلار دې پښتونو مور دی سیاله

پاڅه پاڅه بیا کتاب دی کړه ترخنگه ‌ ‌ ‌ بیادې خپلې گیلې وکړه له اورنگه

وایه بیا سپیني سپیځلی پښتنو ته ‌ ‌ ‌ بیادې وکنځه اشعارو کښې بې ننگه

د مشرانو خو ترخې واړه خوږی دی ‌ ‌ ‌ غورځوو به ځان که وایې له گړنگه

بیا سبق د پښتنو الی مونږ ته راکړه ‌ ‌ ‌ چه وانخلو مونږ کوم بدرنگ له فرنگه

تا تو دی سړی لیدلی د روزگار دی ‌ ‌ ‌ مونږ خبر د زمانې کړه له نیرنگه

ولې چوپ یې راسره نکړې خبری

گوندی تولو پښتنو نه مرور یې

محمد اسلم خان کمال یې داسی ستایی:

ای صاحبه هم د سیف هم د قلم ‌ ‌ ‌ لا ثانیه هستې راغلې له عدم

په ملت کښې د پښتون یوه رڼاوې ‌ ‌ ‌ ستا آمد و زمانه کښې د تورتم

فرعونی اسرائیلی وخت په پښتون و ‌ ‌ ‌ بده ورځ وه پری هیڅ کار یې نه وسم

د پښتون د بیداری موسی کلیم وې ‌ ‌ ‌ ستا نظام او تدابیرو تول محکم

د ملت دخود داری جنون دې ملو ‌ ‌ ‌ روه کښې ذکر ستا جاری وچم په چم

دعقاب هسې د تیز نظر خاوند وې ‌ ‌ ‌ بې نظیره دې ضمیرو جام د جم

سکندر وې د ملت په دې وطن کښې ‌ ‌ ‌ مغل وپه تراره ستا له حشم

روښان نمروې په آسمان د سیاست کښې ‌ ‌ ‌ عالمگیر کړې ځکه نښه د ستم

فدائی د اتحاد د پښتنو وي
همیشه د رسره مل ود غه غم

مناسب قد ردي ونه شو په ژوند کښې
پس له مرگه دې ملت وکه ماتم

که شهباز وی په فضا دشاعری کښې
رزم هم رونق موند لوستا له دم

لږخو سر که را اوچت له خپله گوره
چه دقام په حال دې سترگی شی پرنم

ننی دورمحتاج ستا د هستی دی
دا خواهش دکما لی دی مسلم

سره گلان د عقیدت ستا په مزار نن
پیشوم ډکه ځولی نه زیات وکم

مغفرت دې شه نصیب دافغان فخره

پښتانه کړه خدای روان ستا په قدم

الفت یې په دې ډول ستاینه کوی:

دادب او شعر لوی په قهرمانه
د مغلو په کورتند ردآسمانه

دوطن دآزادی سختوجگړوکښې
له هرچا نه زړورمرد میدانه

ستاد شعر مصرع لا ډیره تیره ده
بې ننگی تورتې تورتی ستا له بیانه

وې درزم او دبزم په مجلس کښې
هلته باز دلته بلبل هزاردا ستانه

عشق اوذوق فکر وتدبیراراده عزم
ستا په برخه رسید لی و بیشانه

هم رستم هم فردوسی د یوداستان یې

هم شاعرهم مفکر هم پهلوان یې

قصیدې لرې غرا له هره بابه
ننگ غیرت اخلی فتوا ستا له کتابه

دخبروکورودان ستا په بیان دی
خدای درکړی ده وینا ډیره جذابه

که جگړو کښې استوار لکه یوغروې
د عشق کارکښې وې له هرچا نه بیتابه

پښتنوالی ستا پیغام ستا فلسفه ده
تا پری نښوده پښتو چه شی خرابه

ستا په زړه مټ او بازو کښې لوی قوت و
ستا په لاس کښې توره هیڅ نشوه بی آبه

تا د ننګ سبق پښتون ته دی ور کړی
د خودی په فلسفه دې خبر کړی
داجهان ستا په نظر کښې نام وننګ و
چه بې ننګه وهغه درته بدرنګ و
بل څوك نه وهمدا ته وې ننګیالیه
چه دی داغ په خاطر ایښی دا ورنګ و
ډیری لویې دعوې تاسره وېزړه کښې
په مغلوبانډې ځکه ستا غور ځنګ و
هغه بازوې چه لوی ښکاردی ونظر کښې
د وطن په سیمه پوله به دی جنګ و
هم دی توره له هرچا نه وه ځلانده
هم دی هرچانه لوی عزم او فرهنګ و
په داخپله لویه برخه وی خوشحاله
تا پاللی ده پښتو او پښتنو له

ستا اشعارو کښې ملی آرزو ځلیږی — خدای خبردی چه به کله حا صلیږی
لوی پیغام دی پښتنو ته دی راوړی — ستا په خیال به پښتانه کله پوهیږی
تاویلی لوی دریاب ته کوئ هڅه — په بیله کښې چه نهنګ وی هلا کیږی
ستا ویناده چه اوښ بارسره را غلی — پښتانه یې غارړه کې ته خوشحالیږی
د لویانو آرزووی هرګوره لویه — واړه هرچیر ته په لږشی قانع کیږی
لوی سری وی درسره ولوی فکرونه
مګر ژرنه راویښیږی ولسونه

ستا دیوان که په ادب کښې لوی شهکاردی — تا په توره تو پلك کړی هم ډیر کاردی

خلو ینبت زره لښکر ستا د لاس له زوره
لوړی شا په تا تره کښې تار په تار دی
دوا به اودنوښا ر د کوټ په جنګ کښې
د مغل په زړه دی ایښی اوی پرهاردی
د خیبر د ره د ی سره کړ له په وینو
په اهار کښې دی لیدلی لاله زار دی
خزا نې ها تیا ن اسونه که اوښا ن و
د غه لو یه ولجه ستا د توری ښکار دی
شجا عت ا وشهامت د رسره مل و
ښه ملګری دی په توره کښې ایمل و
تا اخیستی له غلیمه انتقا م د ی
پښتنو ته د ی ګټلی ننګ ونا م د ی
په هر رنګ کښې دې د ننګ خبری کړی
ملی فکر ستا مرام اوستا پیغام د ی
مغلوا له د ې رتلي ډ یره ز یا ته
فرق دې کړی دپردی اودخپل قام دی
غرور غو کښې دې لښکرې ټولولې
غلیما نو باندې تا تړلی لا م دی
په پښتو با ند ی له سر او ما له تیر وې
ستا له تورې خبرشو ی خا ص وعام دی
د افغا ن په ننګ تړلی توره تاوه
درسره لویه آرزو لو یه سودا وه

د خوشحال خان افکار او نظریات

خوشحال خان یوازی دشاعرانه قریحې اوادبی ذوق خاوندنه و بلکه دعــزم د ارادې اودعملی خاوند هم واودفکر لهحیثه هم یوخاص امتیاز لری چه په دغه لحاظ همددده اشعار اوآثار دډیری څیړنی وړدی.

ده دیوه مفکر او صاحب نظر په حیث دانفرادی اواجتماعی ژوند په مختلفو خــواو او په ډیــرو اجتماعــی مسایلو کښې خپل افکار اونظریات څرګندکړی دی چهدده په پیژند ګلوی کښې لوی اوستر اهمیت لری اوداویلی شوچه پهځینو خبرو کښې لهخپل عصرنــه ډیر وړاندی وددې ادعا ډیرښه ثبوت همدغه لوی اوستر مطلب دی چهدی دملیت دفکربانی او موسس دی اوهمدغهدمرا دتــکی یې ترآخره پخپلواشعارو کښې تعقیب کړیدی.

پهدې برخه کافی بحث شوینوره بهداخبره پریږدواوو بهګورو چه خوشحال خا ن نورڅهافکار اونظریات لرل اودلیدوطرزیې څنګهو؟ ددی پوښتنې ځواب تاسو وروسته تردی لهځینو مختلفو عنااوینو لاندي وګورئ .

انسان دخوشحال پهنظر کښې :

ماهیت یې مو نده نشی	چهڅه څیزدی دابشر
هم ترکیب دنیك وبددی	هم معجون دخیروشر
هم ملك دی هم حیوان دی	هم مومن دی هم کافر
کله اورکلــه اوبــه شی	کله تــو ره کله سپر
کله خو رب شی له با ده	کله بیا په هیڅ ډ نګــر
لکهدی دی پهجهان کښې	بل بهنهوی دیــده ور

دخلورو مېند وځوی دی   داتــو پــلا رو پسر
څهخولز ترخدای را کوزدی
کــه یــې نــه دی بــرا بــر

لهدینه معلومه شوه چهخوشحال انسان داضدادو مجموعهګڼی او په داسی جامعیت ورته قایل دی، چهدښواوبدو عالمونه اوجهانونه پکښی پراتهدی .

مګر نوې خبره پکښی داده چهدی انسانته په داسی لوړ مقام اولوړ حق قایل دی چهدنورو ډیرو شاعرانو فکر کلهنه دی وررسیدلی.

نارینتوب اومردیتهیاپهبله ژبه
شخصیتتهپهدې ډول ګوری :

مــرد بهنشی په ګفتار	خو پیدا نکړي کر دا ر
چهدې وکنځیمردنه یې	کهلهتانــه وی پــه ډار
چهځه دیخوا نتقام دی	د مرد انــو کــا رو بار
عفو هورته ځای لرینه	چهنه عیبوی اونهعار
چهعزت ورځخهنه وی	هغه مرد نه د ی په کا ر
هم مهره لری، هم زهر	ښهمردان و ی لــکه مار
چههم تندرهم باران وي	ترهغو مردانــو ځــا ر
مرد بهغم دخپل هنر کا	نــه دزرنــهدد یــنا ر
مرد بهغم کا دخپل شرم	د عــز ت د ا عتبــا ر
نا مرد فخر په نسب کا	مردنهمورلـری نه پلار

کهپهتورهیيجوابورکړیمردیده   کهوجوددی څوك ازار کاندی پهچوب

څو وانخلــی لــه غلیمــه انتقــا م   مرد نــه خوب کانهخوراك کانه آرام
چهدننګ اودنا موس اندوهیېنهوی   دهغــه سـړی به نــه وی احتــر ام

چه دبل تر لاسه ورغی د بل شو
مرد به خپل لری دخپل فکر زمام

چه دننګ په چارو نرنه‌وي خوشحاله
که یې نرویني په ستر ګو هم ماده دی

په جهان کښې که مردان دی هم هغه‌دی
چه و سختی وته ونیسی ځانونه

چه میـن په وسله نه وی
مرد دې نه وایی وځانته

که تل توري غشی خوری ماتی دجنګ وری
مرد به سور نشی په زړه له انتقامه

مردان هغه دی چه همت ناك وی
په‌هره چار کښې چست وچالاك وی

خوازه له هرچا پـه‌زیست وژواك وی
که‌غم پرې راشی پروا دغم نه کا

واره زړونه فراغت وی په‌بنیادی کښې
چه پـه غم کښې مردانه شی زړه هغه

له دې څو بیتو څخه دخوشحال خان فکراو نظر ډیر ښه څرګندیږی او په‌دغو اشعارو کښې دپښتنی فکراو ذهن ډیره ښه ترجمانی شوی ده.

دخوشحال خان په‌نظر کښې د حیثیت اوشخصیت خاوند هغه څوك دی چه‌له ګفتار سره کردار هم لری اودعمل جذبه‌یې درنه‌وی .

هغه څوك چه‌دچاسترګه تر ینه نه‌سوزی اوخپل انتقام پـه‌لوړه پیما نـه نشی اخستلی یایې دخپل فکرزمام پخپل لاس کښې نه‌وی نیولی اوپخپل پت اوعزت له‌سراو ماله تیرنه وی داحترام حق نلری .

دی‌مرد اونارینه له‌مار سره تشبیه کوی چه‌باید هم زهرولری اوهم دمهرموره دی وایی : سړی باید لکه‌د آسمان وریځی هم درحمت باران ولری او هم له‌ځانه سره تندرونه. چه‌دلرګی ځواب په‌توره ورکړی اوپه سختوحالاتو کښې ټینګ عزم اوهمت ولری اودغمونو په‌مقابل کښې دثبات او استقامت‌خاوندوی.

څوك چه له‌پښتنی ذهنیت سره آشناوی‌هغه‌به‌داومنی چه دپښتنوخیال او فکرهمدغه

دې او خوشحال خان په دغه معنی هم ملي شاعر دی چه د پښتون ملت د احساساتو او جذباتو ترجماني کوی او وايي :

دنا مرد سره مکې ته رسيد لی   ښه د مرد سره په بېدی بېديا ورك

پس له مرګه ښخ د مرد تر قدم ښه يم   ګور مې مشه دنا مرد له ګوره سم (۱)

د شعر تفسير په دې ډول کوی :

لکه غشی له ړه بويه تير انداز   هسې شعر له ره بويه سحر ساز

هميشه د زړه په لاس تله دوزن   زيات و کم له وزنه يو توزی غماز

په تور آس د حقيقت ناوی سپره کا   په سپين مخ پلو نيولی د مجاز

سل جلوی سل کرشمی سل مکيزونه   په نظر کښې يې ښکاره د ستر ګو ناز

(۱)- نارينتوب يا سړيتوب او شخصيت خو مود خوشحال خان په نظر کښې وليده او س د رحمان بابا په نظر کښې د سړيتوب او نارينتوب صفات وګوری چه دی څه وايي :

مړ نی و يلی بويه و هغه ته   چه بی وجهی آزار نه کا هيڅ سړی

حرام خورد مخنثو په حساب دی   که په توره او په تيغ وی مړ نی

د مکې سفر آسان دی مر د هغه دی   چه له ځانه سفر کا ندی سفر دا دی

هيڅ تو ښه مې نشی په تش و اړد کورو کلی   مرد بو يه چه و اخلی د غم پيتی له غمګينه

دلته مقصد دا نه دی چه د خوشحال خان او رحمن بابا په فکر او نظر څه و وايو يا دېوه ښه والی په بل څرګند کړو بلکه مطلب دا دی چه خوشحال خان د افغاني شعور او احساس ترجماني کوی او رحمن بابا د خپل صوفيانه او عارفانه نظر تابع دی هغه انتقام اخيستل چه خوشحال خان يې د مړدې او نارينتوب اساسي رکن ګڼي رحمن بابا ورته بل شان ګوری او وايي :

شهيدان نه دی هغه خون فروشان دی   چه خوني ته خونبها نکړی معاف

دې د خوشحال خان په خلاف پښتنو ته داسې تلقين کوی :

ډير عزيز دی موږ د لان ترسنګدلا نو

ته يو څا څکی شه دا و ښکو ګو هر مشه

د صنعت زیور په خور نګه ور پوری — د تشبیه چندڼ چووه باندی طراز
د تجنیس پالی خوږئ یې په پښو کړی — د ترصیع امیل په غاړه او زددراز
د مضمون د نزاکت غمزه ورښخه — سر تر پایه درست صورت سره یوراز
که په نظم کښې کارګه او تپوس راوړی — هم دزړونو په ښکار ګرزی لکه باز
چه یوه و ینایی وکړه هوښیار هغه — عاقلان به وېل کاندی په ایجاز
و پښتو ته بی یې ډیره خوبی ورکړه — چه خوشحال که په پښتو شعر آغاز

وګورئ د لته دشعر تشبیه لهغشی او تیرانداز ی سره شوی ده اوددی خبری معنی داده چه شعر بایدبی هدفه نهوی او مقصد ولری . دی شعر تهسحروایی مګر بی حقیقته یې نه ګڼی بلکه داسی ښکلی اوښایسته ناوی یې بولی چه په تورآس سپره او دمجاز پرده یې په مخ پرتهوی . کهښهورته ځیرشو نو شعر ته دحقیقت ناوې ویل دامطلب افاده کوی چهشعر یوښکلی اوبکرحقیقت دی او حقیقت هغهوخت شعرشی چه ابتکار او ښکلا ولری او مبتذل نهوی .

دخوشحال خان پهنظر کښې شعر بی روحه شی نهدی اوشعری صنایع تشبیهاو استعاره اصلی شی نهبولی بلکه زیوریې ګڼی اودلباس پهحیث ورتهقایلیږی .

دده نظر یوازی ادبی صنعت تهمتوجه نه دی دمضمون نزاکت اودشعرد اصلی پیکر تناسب ته ډیره اعتنا لری .

څنګهچه ددغه شعرآغاز پهغشی اوتیر اندازی کوی نو دشعر پهوسیله دزړونو ښکار ډیره پهځای او مناسبه خبره ده ځکهچه دشعر کارله زړهسره دی اوله زړه نه الهام اخلی .

دشعرعالم بیل عالم دیچه دلته کارګه اوتپوس هم دبازاوباښی کارکوی اوپه شعرکښی دغه اعجاز موجود دی .

څنګه چه خوشحال خانپهشعرکښی ایجازته قایل دی پهدغه شعر کښې یې

هم ډیر مطالب په یوځو بیتو کښې ځای کړی دی چه سړی ترینه دشعر په پیژندلو کښې ډیرځه اخستلی شی .

زرځنګه ګنهی :

خپل پردی راته په خوله وایی زر زر
وعالم ته ترهر څه دی بهتر زر

اوس په دادورماولیده خوازه دی
ترپدر تربرادر تر پسر زر

نوروچاروو ته څه ګوری داګوره
چه صاحب د مسلمان کاکافر زر

که دی قصدکینه حسد ورسره پریوزی
په وژو دسید درست کا محضر زر

فیروزه الماس یاقوت لعل له کانه
له دریا به نه وکازی ګوهر زر

مځکه څه چه د آسمان بنایست په زر دی
ستوری زر دی آفتاب زر دی قمر زر

شهزاده بی زروګوښی تنها ګرزی
دهندو سره روان کالښکرزر

زور قوت حرمت هوری درومی چه زروی
دبادشا په سرخوك کښیږدی افسرزر

خدای دی ماد قانعانو په حساب کا
چه ودی ووته یودی حجرزر

ښه ځوانان يې ليدل نه مومي له ورايه
دنامرد په غېږ کښې ورکا دلبر زر
دګيدړو نوم په خوله څه لره اخلي
دمزري له تڼه هم پرې کاسر زر
که چمياردي که نداف دي که جولا دي
تراصيل سړي يې کښېنوي برزر
نه به دي په لږ وزرو نظر وکا
نه به پريوزي وخوشحال ته غرغرزر
زرزما ترلاسه نه راځي و يريبزي
که هر څومي دلاسه ورسره کيږي
زما لاس ورته تراوره هم بترشو
لا په اور کښې يې يودرنګ ساعت تيريږي
زه اوزر سره له ځايه غليمان يو
په جهان کښې غليمان سره رغيږي؟
چه غليم دمړني په نظر کښيوزي
نوري يې زړه دده ومرګ وته پړکيږي
شاه ځلمي بهخپل غليم کاترځان ورانـدي
ونامردوته به سل حيلې دريږي
په قران کښې ستاامول پهغليم يادي
بل به کوم حجت ترداقوي يادېږي
کاني زرکه سره وګوري يورنګ دي
فرق يې دادي چه په زروزړه رغيږي

هغه زرترکانی لوتی لا بتردی
چه یی ومندی په مځکه نه خر خیزی

چه او به په ځای ایساری شی نوخسا شی
صفایی یې هم په داده چه بهیزی

تل دی لاس په غلیم براوسه خوشحاله
غلیمان دی شرمنده ترتاځاریزي

زر په بده ورځ په کار شی
هوښیار ځکه ساتی زر

دزر دار بلا په زرو
دنادار بلا په سر

چه سپر وی گذار په سپر شی
چه سپر نه وی لاس شی سپر

زر دی چه هرچا ته اعجاز معلوم کا
معدوم موجود کا موجود معدوم کا

ویډځه میر من کا خادم مخدوم کا
زر په سندان کښیږ دی سندان هم موم کا

که هر خو مشکل کار و نه در ته پیښ شی
فکر مکړه چه آسان به په زر نشی

ماچه ولیده خو زر دی په دنیا کښې
خوسری دی یې په مینه کا فر نشی

چه زرلری په کور کښې
ښه حاله شی سردا ری

دوستی یې بده چارده
بده ده زرداری

هیڅ کار نشی بې له زرو
چه پری وپوهیدم زه

گرم څه نه دی داوگړی
که پرې و باسی لیمه

چه سپین وسره پرې ورکا
هغه کښل کاسپینه خوله

هم زردی که یې گوري
چه په غره بیا یې او به

که هرخوله تازه بدوی
بیا په زر روغیږی زړه

خدای رسول سره خپلیږی
په زر نوري چارې څه

عشق ته په څه نظر گوری ؟ :

دخوشحال خان ختك شاعري که څه هم تر ډیره حده حماسی اورزمی رنګ لری مګر بیا هم دعشق اومحبت برخه پکښې خواره نه ده او ډیری عاشقانه سندری هم لری .

راشئ ! چه دعشق او مینی مقام دخوشحال خان په نظر کښې وګورو چه دی عشق ته په څه نظر ګوری ، او څنګه یې ګڼی دی ځمکه او آسمان او ټول جهان د عشق او محبت کور ګڼی او څومره تور و سپین چه دلته وینی دا ټول له عشقه ګڼی ځکه وایی :

چه دځمکی د آسمان په مینځ کښې څه شته — زه همه وینم له عشقه سپین و تور

جهان وا ړه کور د عشق و محبت دی — په خوشحال باندې باندې شوه ر نتبور

دده نظر دعشق په باب کښې ډیر عمیق او دقیق دی .

دی د ر ښتیانی او معنوی عشق حقیقت ته ډیر ښه رسیدلی دی او دعشق په عالم کښې یې داسی لایزاله وصال موندلی دی چه هجران پکښې هیڅکله نه ځایبږی .

هو ! دی دعشق په غم مین دی او دمعشوقې خیال دده معشوقه ده دی په هر وخت او په هر حال کښې یودا سی جمال وینی چه هیڅ رازحجا بونه یې دده له نظره نشی پټولی لکه چه وایی :

د سوخته وو یو وصال دی — چه هجران پکښې محال دی

دیار غم چه معشوقه شی — نو ریې وصل لایزال دی

که هزار پردې تر مینځ وی — هغه وا ړه اتصال دی

چه راځی دیار له لوریه — ورته بس هغه شمال دی

چه په عشق کښې یې سوخته وی — ور ښکاره هغه جمال دی

د هغه بیلتون له کومه — چه تل خوښ د یار په خیال دی

هغه یار چه له ما لرې په هوا ددی — همیشه را ته حاضر دز ړه په یاد دی

دوصال خوښی یې هم لا هومره نه ده — چه مې زړه دده له خیاله سره ښاد دی

په بل ځای کښې دغه مطلب په دې ډول اداکوي :

په معنی کښې جدائی نشته وصال دی — داشنا په غم کښې خوښ او سه تل ویــاړه
په هجران کښې هغه هسې شان وصال شته — لکه څوك له خپله یاره لاس ترغــاړه
دا دیـدن لـکـه په پټو سترگو کېـږي — دا دیدن له وازو سترگو نه مه غــواړه
لیلی پلار کړه په سل پرد و کښې ناسته — مــخــامـخ وه و مجنــون وتــه ولاړه
پس له مرگه هـم جدانه وی رښتـینی — پــه یوه لحد کښې ورشی سره دواړه
د رښتینی مینـی ډارد زوال مــکـړه — چــه رښتینی عشق لـری سلام په واړه
دیار غم دې د خوشحال له دله نه ځــی — د فــانــی دنیــا خــوښی کــه لاړه

دی دعشق او فسق دمحبت او هوس په فرق ډیر ښه پوهیدلی هغه عشق چه دی ور ته په تقدس قایل دی له نفسی او شهوانی احساس څخه ډیر پورته دی .

بوالهوس چه عاشقی کا عاشق نه دی — پــه خالی هوس یــې مه بوله عاشق
نفسانی تاریکه شپه عاشق هغه دی — چــه سحر غونــدې سینه لری صادق

عــاشقان دعشق له کاره انکار نه کا — فاسقان بـه پخپل زړه کښې لری غلا

خوشحال خان عشق او محبت یو داسی مرکز بلکه داسی مذهب یې گڼی چه د ټولو مذاهبو پیروان پری راغونډیدلی شی او دگډ ژوند او صلح کل اساس او بنیا د پرې ټینگیږی ځکه وائی :

له دوه اویا مذهب سره به سازو کړې له دله
خوشحالـه که خبر شی په رښتیا دعشق له کیشه

عشق په حق په باطل هیڅ نه دی راغلی — تر کعبه یــې ډیر و بت و ته طواف دی

چه څه درد دعشق لرې ترې به ځار یږم — که مسلم دی که کا فر دی که جهود دی

دی په دی ښه پوه شوی دی چه عقل د عشق په مقابل کښې ډیر ضعیف او ناتوانه دی او هغه پوهه چه د عشق له لاری حاصلیږی د عقل لاس بلکه د علم لاس هیڅکله نه ور رسیږی د همدې لامله وائی :

زړه چه نه وی مبتلا — پرې دې سازه شی بلا
تر عاشق دی صدقه شی — که زاهد دی که ملا
عاشق هر زمان غزا کا — په تیره توره د لا
دا د نی چاری ادنی دی — دا د علا چاری اعلا

عشق یو هسی یو ډیر شم توری رازده کړ — چه په ډیرش توری څکوم د قلم کیلې

عشق مجنون کا فرزانه شك گمان نشته په دا کښې
شك گمان نشته په دا کښې عشق مجنون کا فرزانه

د خوشحال خان عشق په مادی اساس نه دې ولاړ دی اول په صورت مین شوی مګر په همدغه ځای یی توقف نه دی کړی بلکه د عشق ډیر مراتب یې طی کړیدی ــ دده د عشق ابتداء او انتهاء ډیر فرق لری دده د عشق آغاز او انجام له دی بیت څخه ډیر ښه معلومیږی :

اول غم د یار و ماوته غلیم و
اوس ترده نه بل څوك نلرم شفیق

دده په عاشقانه سند رو کښې سری د حسن پرستی ډیری ولولی وینی او داسی معلومیږی چه دی لکه یو رند او خرابا تی د بوس او کنار ډیر ارمانو نه لری مګر چه دده عاشقانه سیر تعقیب کړو نو بیا دی له دغی مرحلی نه تیر یږی او یو ازی نظر بازی د خپل ژوند سرمایه بولی او وائی :

يو بنه نظر چه وکا سرمايه مي دژوندون شي
کافي ده خلوتي ته يو بادام په ورځ وشپه

که غټ دعنايت په سترګو ګوري خوشحال ته
د ده مقصود بـه وا ړه په يوه نظر تمام کـا

کله چه د ده عشق نور هم پخيزي او کمال ته رسيږي نو بيا د خپل يار ننداره د خپل زړه په آئينه کښې کوي او له معشوقي نه هيڅ راز تمنا نلري.

تل ديار د صورت ننبي په کښې ګوره — که د ننه آئينه د زړه زنګ نه ده

په همدغسي حال کښې دي وائي:

دعشق په باديه کښې مه ږده ګام د تمنا — هغه څه عاشق نه دي چه وړي نام د تمنا

خوشحال خان عشق او محبت ته په محدود نظر نه ګوري دده په اشعارو کښې د وطن عشق د مليت عشق د پت او عزت عشق او د ننګ وغيرت عشق وينو او بيا د هغه عشق ننبي ننبا نـي کو رو چه له دي ټولو عشقو نو نه پورته او لوړ مقام لري.

دديپاره چه دده دعشق مختلف رنګو نه ـ خوند و نه او کيفو نه وګورئ د ده ځيني نور اشعار هم دعشق په باب واورئ:

دعشق بخره ازلي ده په جنـګ نه ده — په کتاب په مسئلو په فرهنګ نه ده
په قسمـت يې لـه ازلـه ده را وړي — دا د سولو بخره او س د پتنګ نه ده
تل ديار د صورت ننبي پکښې ګوره — که د ننه آئينه د زړه زنـګ نه ده
دا پياله چه مانوشلي ده پري مست يم — دا پياله مي د شـرابـو د بـنګ نه ده
داغيار سره يو دم نا ستې بنه نـه دي — هيڅ خپلوي مي د زجاج او د سنګ نه ده
د ګلو نو په موسم کښې هغه خوار شو ل — چه ګلرنګه معشوقه يې تر څنګ نه ده

کله کله خوار خوشحال وته نظر کړه　　دعاشق نمنځنه هیڅ عیب و ننګ نه ده

دمجاز عاشقی عین حقیقت ده　　وهغی تهزینه ا یښې دصورت ده

ترثر اتر ثر یا که فهم و کړې　　په څلور کنجه غوغاد محبت ده

پهجهان بههیڅوك نهو كهعشق نه وای　　دبد بهد عشق قایمه تر قیامت ده

چهپه مینه کښې یوزړه او یوزبان وی　　ترهرچاد هغوچار پهبرکت ده

دایوه وینا دزړه پهغوږ وواوری　　چهبهتره داورنګ ترسلطنت ده

اسردې درومي مال دی درومي پت دی نه ځی　　دسری دچارې کل خوبی په پتده

چه یو ځله زړه دچا په مینه بند کړی　　په شلول ځنی کمی دمروت ده

چه یې خدای ورکاوچا شکردی کاندی　　پهجهان کښې لویهبخره دهمت ده

پهتیره الماس دپاسه قدم ایښی　　یوه څه باریکه لارد شریعت ده

عشق یو څهعظیم بادشاه دی کهیې ګوری　　چهګدایی له سلطانه محتشم دی

تهد عشق سورو ته سهل نظرمکړه　　چهبې زرو بې لښکرو لکه جم دی

داد عشق دګدایانو هسې چار ده　　چه دفقر پهجامهکښې محترم دی

دچندن دونی ځکه بوی روان شو　　هرچهولی یېد عشق په او بونم دی

چه لهعشقه خبرنشول خدای یې واخله　　کهظاهرصورت بادشاه دکل عالم دی

په ځان او پهجهان کښې مادوه څیزه دې وکښلی

پهځان کښې دواړه ستر ګې پهجهان کښې واړه کښلی

دکښلیو دجمال پهننداره کښې ماخدای بیاموند

لږ نه دې لهمجازه حقیقت تهرسیدلی

سیهدل دمحبت له سوزوسازه خبر نشول

پهکار دیټنګانو مچان نه دی پوهیدلی

دخدای ملامتونه گـوښې گو ښې تهمتونـه
په عشق کښې لـه وګړیه ماخه لږ نه دی زغملی
دشعر په ویل کښې که مقصود لری همدادی
په دا بهانـه گـوندی چیری یـاد کـا نازولی
په تور کسوت کښې پټـه رنگینه معنی وگوره
زرشویومی سره زر له توروشگو دی ویستلی

عاشقان په معشوقو باندې پتنگ دی   لـه جـهانـه بـه لاړ نشی دادستـور
خو د عشق مینه زیاتیزی په گوگل کښې   دعاشق په پوهـه نـورعـلی نـور
دعشق کار په لیونتوب دې نورخه نه دې   راشه واوره نه پـه عقل نه شعـور

چه دتـوروزلـفو خیـال ورځخه نشـته
تـوریَ خاوری بې په سرعمر یی خواردی
خوارخوشحال چه دیر صفت کاندی د زلفو
پـه قـیـمت دتـوروزلـفوخبـرداردی

دشرابـو مستی زرشـی نیست وهستـه   لایزاله مستی نه دورومی له مسته
دعاشق خاطر اوخیال لکه دریاب دی   چه چپه یې کلـه لوړه کله پسته
دخوشحال له زړه دیار محبت نه ځی   لکه مینه دځپل بت له بت پرسته

چه دعشق په بحر دوب دی حال یی گوره   ددنیـا په حال خبر نـه دی غریق
اول غم دیـار ومـاتـه غلـیـم و   اوس تر ده نه بل څوک نلرم شفیق
ازاده عالم بندی دی کـه پوهیزی   دزلفینو پـه زنځیریې دی عتیق

چه عاشق دمعشوقی په مینه غـرق شی   جدائی له مینځه لاړه تل وصال شی

یارمی هسی رنگه ځای وکړ په ستر گو   چه و هر لوری ته گورم واړه دی دی

دعشق بخره عطائی لکه ایمان ده — مونده نشي په کوښښ په ځلی ځلی

نه په پند لویږی له هر کانبي بخری — دی سوخته سره بکر لری سودا

هرچه خو زد کښلی مخ په مینه نه وی — دجهان په مخ اوده راغی اوده ولاړ

عقله ته له عشقه لرې لرې گرزه — مخالف چه سره ورې شی فساد شی

عقل وعشق چه سره دواړه په دعوه شی — بل مجال دعقل نشته بې گریزه

مه پریږده له لاسه کارو بار دعاشقیه — چار دعاشقیه تر هرڅه ده معتبره
لاړې دی بیشماره زر کوځی دی تر معشوقی — څو به پکښې درومی قدم مه ږده بی رهبره
هرشپه چه درومی په خوشحال باندی دوزخ ده — شپه دجدائی ده که ر سیږې پیغمبره

د معشوقی نوم عاشق په جهان خور کا — دشیرینی بازار تو ددی له پرویزه

خوارعاشق په خاصیت دی دسیماب — څو نه مری ځنی نه ځی اضطراب

که په خوله مهروهلی دعاشق دی — په سینه کښې ئی زړه وگوره څه شور کا

دعشق شور که دعاشق دزړه قضا دی — له دی شوره خالی مشه سر زما

چا به بې دعشق له کاره بل کار نکړ — دخوشحال دخولی ویل که چا منلی

حقیقی سجده هغه ده چه دیار په لوری وکړی
وکعبی ته چه سجده شی داسجو ددی مجازی

کار دخوشحال خان په نظر کښې :

ددی لامله چه خوشحال خان پخپله یو داسی شاعر و چه له شعر و شاعرۍ سره یې ډیر لوی لوی کارونه هم سرته رسول او په عملی دنیا کښې ئې ستره برخه لرله نو پخپلو اشعارو

کښې ئې هم د کار ضرورت او اهمیت د ډېر ښه څرګند کړی او وزګار تیا یې ډېره رټلې ده .

ده دا ډېره بده ګڼلې ده چه یو سړی بې زیار او بې زحمته مفته ډوډۍ خوري او هیڅ نه کوي . دی د کسب و کار ډېر ټینګ طرفدار و او له کوڅه ګشتۍ او هرزه ګردۍ نه یې په پښتو کښې څڼګیر و نه خوښول حتی چه دی د بوعلی په اندازه پوهه او هوښیارۍ هم که کار او عمل ورسره نه وي خالي کیسه بولي او د کتاب په مسئلو باندې ډوډۍ پیدا کول خواري او ذلت ګڼي .

دی د دهقانۍ خواره له هغو سلطانی خوړا کونو نه چه په ظلم او زور ګټل کیږي ډېر ښه بولي او خلکو ته د کار کولو او زیار ویستلو توصیه په دې ډول کوي :

ښوك چه ډوډۍ د دهقانۍ خوري   خواره د حور و د مهمانۍ خوري
چه یې په ظلم خوري واره دي زهر شي   که سالنونه د سلطانۍ خوري

هر ساعت چه په چاځې هسې بې کار   تر هغه نه زه لا ښه ګڼم بیګار
رنځوران که کار و بار نه کا معذور دي   روغ سړی به ولې نه کا خپل روزګار
که هیڅ کار و بار دې نه وي در ته وایم   هسې مه کښېنه بې کاره نا په کار
په هر څه چه غم غلطشي واره ذوق دي   که په نرد که په شطرنج وي که په ښکار
ستا به نوم په جهان پاتې شي خوشحاله   یوه لویه مشغولا ده ستا د کار

چه په هره کوڅه ګرزي هرزه کار شي   تر دا هسې ګشت څنګیر ښه دي په پښتو
د هغو بخره خواري ده تل تر تله   چه زکواة خوري د کتاب په مسئلو
په خالي کیسه به نه رسي تر کامه   څه حاصل که بوعلی شي په کیسو

چه محنت په ځان قبول کا راحت مومي   رنج او ګنج سره دواړه دي تړلي

تخم شته هم ځمکه هم قلبه لري تیاره   هر اسباب دي جوړ دي ولې نکړې کار د کر

دنیا تو حلوا مه خوره چه منت ورسره مل وي
خپل کشکاب د خپل محنت خوره په سر اوړه پشتاره

علم ، پوهه ، هنر:

خوشحال خان په‌علم اوپوهه مين سړی واو دعلم په اهميت ډېرښه‌پوهېدلی و دهمدې لامله ده دپښتنوله نادانۍ اوناپوهۍ څخه ډېر ډېر شکايتونه کړی دی اودخپل ولس لويه نيمگړتيايې همدغه گڼلې ده.

ده له ناپوهانو سره صحبت اوناسته ولاړه زندان‌گاڼه‌اوله نادان نه‌په فرسخوتښتېده حماقت اوجهالت ورته بې درمانه بلاښکاريده.

دده په اشعاروکښې دعلم اوپوهې ستاينه اودکتاب ستاينه ډېره زياته‌ده.

ده له‌کتاب‌سره‌هم دومره مينه درلوده. لکه چه‌له دلبرو سره‌يې لرله‌څکه‌يې ويل:

په‌جهان کښې نوری نشوې‌دادری‌مينی	يو د ښکار بل دکتاب بل د دلبرو
که دلې يې سروکار وی له‌کتابه	په‌هغه‌جهان به خلاص‌وی له‌عذابه

ددې‌لامله‌چه دده فکراونظردعلم‌اوپوهې په‌باب يادنادانۍ او ناپوهۍ په نسبت ښه‌خرگندشي دده دغه اشعاراومتفرق بيتونه په غوراودقت وگورئ:

علم تا بيا يی په پور ته ، جهل تا بيا يی په کښته

ياعيسی لره وردرومه‌ياقارون‌ته څان سپاره

چه ئې علم‌وفضل نه‌وي چه په‌تخت دپادشاه‌کښيني

يايويزدی‌يا ليوه‌دی يا يې گاووخرشماره

اژدها دی هم عصا	مټ په علم کړه چه علم
يا په عشق کښې دمولا	يا په علم کښې لذت دی
که اعلی دي که ادنی	نور همه چارې عبث دی

دحکيم په‌حکم کارکړه‌نورحکيم‌يې	که‌هرخو پخپله پوهه کښې سقيم يې
نوروردرومه ازلی سيه گليم يې	که‌په‌خوله‌په‌غوز‌په‌سترگوځه‌زده‌نکړی
چه‌داهسی دجاهل‌سره نديم‌يې	عاقبت به دې په بخره ندامت شي

دادانش چه دهندو دشمار حساب کړي
که ته دادانش دانش بولی لئیم يې
همیشه په زړه خوشحال اوسه غم مکړه
په اخلاص چه ودانا وته تسلیم يې

که دروغ کاکه رښتیا
هرڅه شه دی ددانا
تر دانا دي زه ځا ریزم
نادا نان واړه ترما
نادان ځا ن لره بلا دی
هم جهان لره بلا
چه نادان وکاد او رانه
هسی نه کاازد ها

په دانا می د ناپوه دیدن الم دی
دناپوهو دصحبت نتیجه غم دی
چه دانا می دنادان سره ګډون کا
دایي واړه پخپل ځان باندي ستم دی
دناپوه سره په جشن حاضرمه شه
ددانا سره قبول کړه که ماتم دی

دجاهل سره ګلګشت لکه دوزخ دی
له دانا سره راضی یم که می بند کا

دناپوه سره راضی نه یم په باغ کښې
ددانا سره قبول لرم که اوروی

چه دوزخ دي په دنیا کښي
دناپوه سره صحبت دی

چه ئې علم و هنر نه وی ځني تښته
بې هنر سړی که وګوري لاشی دی

عیسی په معجزه سره ړانده سړی بینا کړه
دانایی په دعا نشو په عمر یو نادان
که هیڅ ورځ خه نه وی غم دی نه کا که داناوی
خوشحال ختک ګواهی لی د دانا نشته ارمان

هغه استاد ګڼه چه درته ښئي
کشر هم مشروی چه درته ښئي
په سپینه زیره به ئې منت لرم
که وورکی راشی راته ښوښئي

هنر چه نلری که دی پسر دی ... سړی یې مه بوله یو گاووخر دی
که هرڅو زور لری که هرڅوزر لری ... تر دا همه واړه بهتر هنر دی

چه خبر په هنر نه هغه کم عقل ... چه دخط ستر گی یې نه وی هغه کور

هنر مند سړی په هر دیار عزیز وی ... په هر ځای قدر وقیمت لری سره زر

که په اصل څوك سیدیا شهزاده وی ... چه هنر ورځخه نه وی مه یې ستا یه

درست جهان په نا پوها نوسره ډك دی ... ولی زیات که پکښې وگوری افغان دی

خوشحال خان دفکر او پوهې په باب یوخاص نظر لری او مطلقی پوهې یا عادی پوهې او ناقصې پوهې ته په څه ارزښت نه دی قایل. دی د پوهې او دانش په مفهوم کښې اصالت، لوړهمتی؛ شجاعت اوشهامت داخل گڼی او هغه فکر خوښوی چه لوی خطر ورسره ملگری وی بلکه خطرناك فکر ددانا فکر بولی او وایی:

دناقصې پوهې پدل په کار نه دی ... ددانا فکر خطر لری خطیر

دادانش چه دهندو دشمار حساب کړې ... که ته دادانش دانش بولې لئیم یې

ژوند ته په څه نظر گوری؟

که لمبې وربا ندې بلی کا ایرې شي ... دژوندون هنر به نه ځی له سیما به
له یاقوته دی هاله سیا لی شبه کا ... که داور په تاوکښې دا نشي بی آبه

وگورئ خوشحال خان ختیك دژوندانه هنر څنگه ښه پیژندلی دی د ده په نظر کښې ژوندثبات اومقاومت نوم دی او د سیماب په شان ناقراری له ژوند سره لازمه اوضروری گڼی.

دی په سره اور کښې هم دژوندانه آب وتاب ساتل غواړی اواورو او به

پەداسی شاعرانه توگه یوځای کوی چه پەحیات کښې دسړو او تو دو تیرو لو او زغملو ته ډیره ښه اشاره ده .

دی ژوند یوازی دساه کښلته پورته کیدو ته نه وائی بلکه ژوند دکار او عمل له مخې پیژنی ځکه وائی :

داژوندون هیڅ نه دی چه می ساه وینی داخلق
زه په ځان پوهیږم اوس می کار لکه دمړه شه

دی دژوندانه پەاقسامو ډیر ښه پوه شوی او ابدی ژوند پەعشق او محبت کښې گڼی :

چه پەعشق سره ژوندی دی هغه نه مری | چه بې عشقه ژوندی گرزی مړه هغه

دده په نزدتل ترتله ژوند پەیوه مسلسل جدوجهد کښې پټ دی او ناپاك ژوند ته په حقارت گوری لکه چه وایی :

ددنیا ژوندون هیڅ نەدی که یې گورې | چه هیڅا ځنی بیانه موندە مـراد
همیشه ژوندون که غواړې درته وایم | همیشه کـوه دنفس سره جـهـاد

دماهی ژوندون دریاب دی که تری ووت | په خشکی کښې بەدی کله فراغت کـا
دگو نگټ دگـل دبو یـه نـه بلاده | ژواك ژوندون واړه پەبوی دنجاست کا

آزادی داسی گڼی :

آزادی تربا دشاهیه لا تیری کا | چه دبل ترحکم لاندې شی زندان شی

خوشحال خان پەآزادی مین او دغلامی دښمن وو ده جگړې دقام او و لس دآزادی دپاره وې دی داورنگ پەزندان کښې هم ازادو او آزادی یې خپله ازلی برخه گڼله :

کەبادشاه یې پەزندان کاغم یې نه وی | دآزادو آزادی وی لـه ا لستـه

ده یوازی سیاسی آزادی کافی نه گڼله بلکه اخلاقی آزادی ته هم په ډیر ارزښت

قابل وا وبل چاته طمع او امید کـول د ده په نظر کښې غلامي وه :

آزاده بـه له چا طمع امید نه کا چه به طمع له چا کا کله عتیق شه

دده په نظر کښې دچا نوکري بندګي معلومیده او آزاده پیشه یې خوښوله :

چه نوکري کا څوك ډیر ګنـده کا سري آزادوي خپل ځـان بنده کا

تـر آزادي نـه بهتـر هیـڅ نشتـه چه څوك په کور کښې خپله دنده کا

دوطن مینه او دوطن ساتنه :

دخوشحال خـان په زړه کښې دوطـن مینه ډیره زیـاتـه وه دي دوطـن وني دوطن خـاوري او دوطـن کاڼي داسي ګڼي :

دوطـن ونـي چنـدڼ اګـردي خاوري یې واړه مښك وعنبر دي

کڼې سراي نـورووتـه سنګـېردي کـاڼي یې واړه ماته سره زر دي

خوشحال خان دهند په زندان کښې خپل هیوادته دنسیم په لاس دارازسلامونه استول :

که ګذر په خیر آباد وکړي نسیمه يادې ګښت وشي دسراي دسيند په سيمه

په باربار زما سلام ورته عرضه کړه ور سـره زمـادلـوري څو تسليمه

ابا سيندوته ناره وکـړه پـه زوره ولـنډي ته وینـا وواپـه حلیمـه

ګوندي وي چه بیا مي ستاسي جام نصیب شي پـه ګنګـا جمنا به نه ولـه قـدیمـه

که دهند دهوا زار کړم څو به زار کړم داوبو بـلا يې لا بـده عظیمـه

چه سړي اوبه دغره نشته په هـند کښې تري توبه که واړه ډك دي له نعيمه

هميشه به په هندنه اوسي خوشحا لـه عا قبت به عا صي ا وزي له جحيمه

خوشحال خان په داسي حال کښې چه په وطن کښې هیڅ نلري بیا هم له وطن سره ډیره ټینګه علاقه لري او وطن ورته په هر حال کښې ګران دي :

درزي لاګز لري مقراض سوزن لري یو جمدر ګوتي خوشحال خیرن لري

کوچ یې آسان دی مشکل هیڅ نه دی غـم دیـار ا نو درد د وطـن لـري

په یوه بل ځای کښې خوشحال خان له خپل وطن ا و هیواد سره خپله مینه په دې ډول ښکاره کړې ده :

چه پـکښې خواږه یاران دي پـیښور تر هر د یـار ښه
ښه په هند کښې چمبا گل دی تر د ا گل د وطن خار ښه
د سرای قدر نور چا نزده په خوشحال دي ترفرخار ښه

دخوشحال دزړه خو ښی نشی بی سرایه خپل وطن یې په هرچا باندی کشمیر کړ

هـر سړی د خپل و طن ثنـا صفت کا دهر چا تر فهم ښکلی خپل فرزنـدوي

خوشحال خان د ملک او وطن دساتنې توصیه په دې ډول کـوي :

څو د ملـک وارث و نـه وهی سرو نه هو مره چیرې قرار یز يسمی غر و نه
یا به ستا په وره نارې وي تـا به ژاړې یا د ستا له لاسه ویر دچاپـه ورونـه

رخنه گرد ملک پرې مه ږده پخپل ملک په حـکمت پـه زرو زو رپه لښکر و نه
څـو په تو رو په توبریو پـه نیزو شـی صد چندان شی په تدبیر په هنرو نـه
ورور او ځوی د ملک په کار کښې قتل کیږی نور په وا ړو باندې جوړ شول محضرو نه
بی د تیغ له آ به نو ر ې ا و بـه نشتـه چه جنگجوی سره ساړه کـا تبرو نه
دسـردار دریـاست ونـه په ویـنو په لیږ شنو د اعـداء کـا ثمر و نه
په میدان کښې تویې ښې دي دسرو ینی نـه چه ډکـه سینه وړ ي له ځگر خو نه
یاد مر د غوندې شمله د دستار پریږده یـا پـه سـر کـړه لـکه ښځه میزرونـه
خدایه چاوته یې کښم څوک به پرې پوه شی ما و یلی هر یو بیت د ی د فترونـه

عارف چا ته وايي او درويش ته په څه نظر گوري؟ :

اکثره شاعرانو پخپلو اشعارو کښې درويشان اوقلندران ستايلي دي او عارفانو ته يې داحترام په نظر کتلي دي خوشحال خان هم درويش اوعارف ته ښه عقيده لري اوددوی ستاينه يې په دې ډول کړيده :

درويشان په تفاوت نه دي راغلي ‌‌‌‌‌‌‌‌ خپل پردي په سترگو وړاه گوري سم
ددرويش تر زړه بـه نـه رسي دادواړه ‌‌ آ ئينه د سکندر که جـام د جـم
ودرويش وته سر کوزي بادشاه نه دي ‌‌ دآسمان ور ميز لا هم دی ورته خم
ددرويش علم په درس په مکتب نه دي ‌‌ تل نـظر لـري پـه لـوح او پـه قـلم
ماوتاوته ديواردي غاړې غـرونـه ‌‌ په درويش تر شرقه غربه دي يو سم
نه په نون دي نه په ميم دي نه په جيم دي ‌‌ کـامل پاس پـه لام وهلی دی قـدم
چه ذره طلب دنمر کاندی خوشحالـه ‌‌ پـه همت مشه تـه هم له ذرې کـم

درويش هغه دی چه ترس دخداي لري ‌‌ د نيـکو فعـل د نيـکوراى لـري
طمع له چانه کا لقمه حلا لـه لـري ‌‌ جدالـه خلقه آسوده ځـا ى لري

دعارف په بخره علم لـدنـی دی ‌‌ په الست يې روزي شوی بې تحصيله
که کامل دي په جهان هغه کسان دي ‌‌ چه فارغ دي ددنيا له قـا ل وقيلـه

دعارف ژبه يې بند کړه له مقـا لـه ‌‌ عالمـان په قيل وقـا ل لري تکيه

اصحابو او اهل بيتو ته داسی نظر لرې :

چه په سب دابـوبـکر و د عمر دي ‌‌ که په خوله کليمه لولی هم کافر دي
دهغو پـه مـرگ ثواب گڼلی بو يه ‌‌ چه بدگوي دذی النورين اوحيدر دي
را فضي خارجي دواړه باورو کړه ‌‌ ترسگـا نو تر کوسانو لا بتر دي

ترمهدي پورې يوولس دي يادولس | چه همه ځويه نمسي دپيغمبر دي
همه واړه امان و د خپل دور | همه واړه ددنيا ددين سرور دي
له او له ترآخره که گرو هيڅ ي | دبتول اولا دمي واړه نور بصردي
چه دوستي يې دسيد نه وي په زړه کښې | دهغو سړيو تل خاورې په سردي
ترهلال او تر بلال يې صدقه شم | لارا نجه مې دپله خاورې دبوذردي
په سرو زرو کښې کمې د قدر نشته | صحابي دپيغمبر واړه سره زردي
زه خوشحال ختټك هغه سني مذهب يم | چه ياران رابا ندې واړه بر ابردي

په يوه بل شعر کښې خپله مينه دحضرت علي (رض) اودهغه داولاد په نسبت داسې څرگند وي :

که په کاردې ده دخداې پيژندگلي | پير وي د محمد ده د علي
هرآيت به چه راته پاسه له عرشه | لا په عرش به يې علي و متلي
محمد چه هغه رازيې په معراج کړ | يکا يك وو علي و تجلي
په محشر به هغه تور مخونه پاڅي | چه يې نه دي توري خاورې دتلي
محمد علي چه دوه ويني په ستر گو | په دا کار کښې احولي ده احولي
دزړه زنگ په بل صيقل نه لري کيږي | په دوستي يې د علي ده مصقلي
که داهومره ويل کاوريته رخصت دي | محمد د ی پيغمبر علي ولي
چه په بغض دعلي يا دعمر دي | رافضي دي خارجي د ی خللي
دعلي دآل دوستي د ايمان زړه دي | څوك دي شك په دا په زړه نه راولي
چه ترمينځ دچار يارانو بد ويل کا | په مذهب کښې دهغو ده درغلي

دعلي دآل په مدح کښې جنت دي
دخوشحال ختټك په داده تسلي

ښه سړی چا ته وایی؟:

ښه سړی د چا په بد و نظر نه کا — که څوك بد و ر سره کا ندی دی به ښه کا

په بار داره ونه تل وریږی کا نی — ور ته گوره چه بار داره و نه څه کا

د جهان کینی غصی واړه ترشا کا — که سړی په وخت دقهر مرگ تر زړه کا

داپه داچه خود بینی ور څخه نشته — دجهان ننداره ځکه دوه لیمه کا

په حسد په کینه هیڅ دچا و نشی — هرسړی چه حسد کا ندی ځان او به کا

که دی لاس د نیکی نه رسی دزړه کړه — را شه واوره الاعمال بالنیات

سړی ښه دی حق شناس — سردی وخوری ناسپاس

چه احسان و ته یی شا شوه — مخ یی تورشه نه دی ناس

څواخلاص ورسره نه وی — یاری نشی په لباس

یاری یی مه گڼه اغیاردی — چه ته پریوزی درکا لاس

تل خالی وی له خلله — درښتیا مینی اساس

ځان څنګه معرفی کوی؟:

چه بازیه په جهان کړی هغه زه یم — هم یی پوسم هم تری یوسم اړ پری نه یم

واغیار ته لکه کانی موم و یار ته — په سختی او په نرمی کښی هغه زه یم

وبلا ته داختیار توره په لاس کښی — وقضا و ته تسلیم په شان دمړه یم

لکه بوټی دکیمیا په مرغزار کښی — چه په حال می خبر دار شی د هغه یم

تند رهم ز ماله ذاته نه پیدادی — په سپین زړه که د باران سپینی او به یم

په هرنام چه دی رضا هغه می بوله — ادم زاد فرشته پری بوده لیوه یم

دکونین ننداره دزړه په عین — دو یښوالی په دود کړم تا ته اوده یم

دهرچا بازار زما په سودا تو ددی — خبردار په سود دبحر هم د غره یم

هم داوښ غونديٍ هلک سره په لا رځم　　چه په بده لا رمی بـیا یې هلته نه یـم
هم می ځیږ هم می نا ځیږ کا په زمان کښې　　زه خوشحال په حال خبر نه یم چه څه یم

دا نــه وایم وچا تــه چــه پا رسا یم فاسق نــه یــم
د خدای منت را باندې هرچه یم منافق نــه یــم
یا مست یا لیــو نی یم یامی نـزده کار دمینی
ښکــاره ښکـا ره ویـل کړم دراز ونو سارق نــه یم
څوذکر خومذکور کړی تل زمــا د گمـراهیه
انصاف ښه دی زاهده زه مخلوق یـم خالق نــه یم
کــه وایې هغه وایــه چــه دعشق او محبت وی
که نورخه راته وایې زه خوشحال یې شایق نــه یم

زه هغه سړی یــم چــه قلم واخلم پــه لاس
ناظرمی عطار دوی چه به څه کښې په قــرطاس
نایب دی د تقدیر دمــا تد بیر پــه مصلحت کښې
صــایـب دی زمـافـکر دهرامـر پــه اسـاس
د توروپه میدان کښې چــه سوداوی د سرونــو
هغه زمان می گوره تل بــه سوروی زما آس
حاسدمی لکه کانړی د صحرا په هیڅ حساب دی
په قدرپه قیمت کښې یا یاقوت یم یــا الماس
کــه لافی د کــوزیــه دهسکی وهـم بـاورکړه
ترتورو خاورو کوزیم ترآسمانــه یـم لا پــاس

نـه زه ملك غـوارم نه مال نـه دد هـر نـور جنجـال
نه پـه تله دجهان غم کـړم نه پـه راغله يـې خـوشحال
دا سفل فکـر ونـه نه کـا پـه اعلـى خـتلى فـال
په آسمان بـا ندی پیره کړم دهمـت پـه پـروبـال
دخپل خدای منت را با ندی چـه يـې رانـکړ بل خيال

خدای یو هسی فکر را کـړ چه يې ملك راتـه ربنـا کـړ
چـه په ملك په ملکوت دی پـری خبريـې زړه زمـا کـړ
پـه اعلی پـه اسفـل و اړه را ښکـاره یـې هـر اشيا کړ
که پـه نورو تـوره شپـه ده په خو شحال يې سپين سبا کړ

څنګه ښځه ښه ګڼې ؟:

ښځه بـويـه هـوسنا کـه خنـد ه رويـه مهـر ژنـه
پا کيزه په زيست روزګار کښې په ښه بوی با ندې مينه
دصحبت په رموز پوهه زړه يې خلاص له مكر دروهه
کم خـورا کـه خوش پوشا کـه هميشه نا سته د ننـه
په وصال ديار خوشحا له يار يې خوښ له قيل وقا له
چـه لـه ياره نـه جداشي هم غمژنه هـم خيرنـه
لـه نيكانـو همنشينه لـه بـدانـو په زړه خـوړينـه
لـه مـوروالي يې توبه کاکه يې موروی دروغژنه
د ميلمـه پـه کارحاضره پـه پخوالي بهـا د ره
حق دچاري په ځای راوړی په رنځور باندی پوښتنه

پاکیزه یې د کور صحن نه په غولی کښې نور لحن
پرستاری ترې خوشنودی ښه د هر چا په ساتنه
که داهسې څوک پیداشی د خوشحال په لاس وراشی
هیڅ تقصیر به یې ونه کاد یاریه په ساتنه

څنګه ښایست خوښوی؟ :

آدم خیلی اپریدۍ دی سری او سپینی
پکښې شته دی ښایسته په رنګ رنګینی
غټې سترګې لوی بانه پراخی وروزی
شکر لبې ګل رخسارې مه جبینی
تنګې خولی لکه غوټۍ او ارغا ښونه
سر یې ګرد په توروز لفوعنبرینی
په وجود کښې لکه هاله ویښتو خلاصی
پښی کمکی غوندې پنډۍ پهن سرینی
ترنګی ګیډۍ سینه وري ملانری
قدیې سم لکه الف په تن سیمینی
که د باز غوندې می ګشت په غر و نو کیږی
ښکارمی هم شوی ښایسته زرکی ثمینی

فرخار داسې یادوي :

خدای په کورکښې را کړه هغه توري سترګې ترکه
اوس به یې په مرسته څه فرخارله وردروم

د کشمیر که د تاتار که د فرخار دی
ښایسته زمانه یاردي سیال دواړو

د سرای قدرنور چانزده
په خوشحال دې ترفرخار ښه

د کابل یاد :

دچاړه لکه کابل د چابګرام دي
د یوه نصیب ساړه د بل ګرما

په داکار نادان هوښیار واړه پوهیږي
د کابل خربوزه به ده ترپهوته

د کابل میوې خوراك دی دطو طیانو پرې خوارهشول تورزاغان دهندوستان

چه میوه یې دکابل خوړلی نه وی د هغو ترفهم و څکې دی گرگرې

کل گټنه ده د تورې که کابل دی که کشمیر

یوزراتیاکالونه په کابل کښې داغزل می په بیاض باندی تحریر کړ

نقادخوشحال خان:

دخوشحال خان په اشعاروکښې انتقادی برخه هم ډیره درنه ده. ده دخپل وخت اجتماعی اوضاعواواحوالو ته په دقت کتلی دی او کوم نقایص اوعیبونه یې چه په اشخاصواقوامواو مختلفو طبقاتو کښې لیدلی هغه یې یویوښودلی او د حق ویلو په ځای کښې پته خوله نه دی پاتې شو ی.

ده بې علمه شیخان بی عمله عالمان اوریاکار زاهدان ډیر رټلی دی — بدی خواره ملکان زور ورظالمان اوپه پیسومین وز سترگی خلك یې غندلی اوډیر بدردئې ورته ویلی دی چه ځینې نمونی یې دادی :

پهخوله کلمه لولی نمو نځ روژه کاندی کافرشته
دعوی کاد شیخیه تر شیطا نه لا بترشته
له کوره لوټه وا خلی استنجا لره روان شی
تقوی ترهسی حده په ولجه یې وړی که زرشته
دبل کره چه ورشی پخپل روی بندیان پرانزی
پهخان باندی چه راشی کله روی د پیغمبرشته
چه خاص د زمانی دی حال یې دادی نوروگړی
دغواوء دخروکلی خالی نوم باندې بشرشته

چه حال د پرهيز گار و سراسر و اړه دروغ شو
رښتيا غو اړي له چا نه چير ته پا تې دا هنر شته
نـه مهر محبت نـه مـروت نـه و فـا صدق
عالم سره بـر هم دی خـو دا دور د قمـر شتـه
اشنا لـه هيچا مشې که پخـوا آشنائـی ښه وه
چه اوس له چا آشنا شې نو ريې خو ر نگه خطر شته
تر دې ژوند يو ښه دی مړه پراته په گورستان کښې
چه نه يـې دا مکرونه نه دا فعـل نـه دا شر شتـه
دروغ و يل هغه کا چه يـې ويره وی يا طمـع
خو شحال په دا اړ نه دی حق به وائی خو يې سر شته

تر مکې تر مدينې لا ړ ې حا جی
لا د نفس له خو يه هيڅ نه يې ناجی
صفائی د زړه په کار ده نه د زيـری
خـو په زيـره گرزوی شانـه عاجی
صوفی لافی د سلـوك کا همد الافی
سراسـر گنـه دده بـی منـهـاجـی
په ملا توره تيا ره شوه چه حق پوش شو
که پـه لا س يـې فتا وا وی سراجـی
دا تاراج لکه شيخان کاندی په مکـر
اپريـدی نه دی دا هسی تاراجـی
دا يـې سحر د بابـل د مزکی را ووړ
چه درست اوښ په کټ کښې و مانده حاجی
نور به وسا تم خپل رخت پخپل صندوق کښې
پـه دا ملـك ده دښـه رخت بې ر وا جـی

ددی دور درويشا ن خليفه بس دی
اوس خپل ځان لره بل کار کړه عزازيله
عا لمان دی رهزنان چه غوا ړې نغا ړی
عام عالم لره زده کـړی خـود ليله
دا جاهل شيخان شيخا ن نه دی شيطا ن دی
چـه فساد يـې پيدا کيږی له تـهـلـيلـه

که شیخی زاهدی غواړي — پخپل لاس کښېږدي دا لالا
لکیو ردستارپه سرکړه — سروهه په مصلی
یامسواك کیږده په سر کښېږي — یائي وتړو مبه ترملا
په تسبیح خوزوه شونډې — نورتګي کوي که غلا

رامعلوم شوداورنګ عدل وانصاف — دده ښه مسلمانی ښه اعتکاف
سکه ورونه وار په وارواړه وژلی — پلار په بندکښې اچولی په مصاف
که هزار ځله څوك سروهی په مځکه — یاپه صوم ترشمځی ور ولی ناف
څودی نیت دښه عمل سره جوړنشی — عبادت طاعت دی واړه دی خلاف
چه دژبې لار یوه دزړه یې بله — په چاړه دې یې شه ځګرشګاف شګاف
مارپه تن دپاسه ښه ښایسته روغ دی — ولی ننه اندرون لری ناصاف

که دلی دخوشحال لاس پهظالم نشته
دقیامت په ورځ یې خدای مکړه معاف

پښتانه که آدم زاد دی — په خویونو کښې هنا د دی
نه حکمت لری نه عقل — خوښ هر ګوره په فساددی
نه دپلار په ویل کارکا — نه په نغوته داستاد دی
چه په دیو کښې یو ښه وی — دهغه دسرجلا ددی
یودبل په کمی ناستدی — ځکه تل په بلا یاد دی
اول زه دانورله پسه — څوشته واړه داحداددی
په نفاق یې واړه وړك کړل — که شجاع دی که جواددی
نه یې قد رشته نه پدل — ډیرترمور او ترجراددی

دالاشکرکړه خوشحاله
چه بنده نه دی آزاددی

مه‌وای هسی کلی چه د چرگوکولمې خورینه

شل‌خمبی په کور کښې دنیستی لـه غمه‌مرینـه

بل فکریـې هیردی‌خـو په غم دزروپول دی

نرښځی یې واړه‌خوتهنگی تنگـی لـریـنـه

ډیریې ملکان دی پـکښې ښه ملك هغه دی

هرچه بـی ننگی کاد چابدی رشوت خورینه

کښینی په‌مسجد کښې د سودو نوکا خـبری

یا د خوروئـوردو لـورو نوویل کـړیـنـه

اس کالونه تیر کاپـه یوه جـامه خیـرنـه

کوزو جود برمنه پـه سـرخیره کیزدې زرینه

جنگ‌لره‌چه‌ورشی نورخه‌هیڅ نه‌کابې تیښتی

جوړجاړوسله تښتی‌سکـه‌وروړتـه‌نه‌دریـنه

هیچیری دشولـو دسړی بـرکت نـه‌وی

شل‌شی‌شول‌شی‌شوم‌شی‌چه‌همیش شولی کرینه

تـورانی خـود جنجال دی د پرخاش

دروغـژن‌سوگنـد خواره بـهتان تراش

ایـرانـی دآشـنـا یـیـه د وفادی

دخلـقـت دمـروت دی د مـعـاش

پـښتانه دبـدنـیتـی دخـصـومت دی

په‌حیـا په شجـاعـت یـې وکـړه شاش

که بلـوخ که‌هـزاره‌واړه چـرکیـن دی

نه‌ئی دین نه‌یـی مـذهب ستریی فـاش

که هندي دي که سندي دي مخ يې تورشه
نه حيا نه يې وفا نه نان و آش
کشميري که نر که ښځې واړه هيڅ دي
د مردي ورځخه نشته هيڅ قماش
د آدم له نسله نه دي ګوره خه دي
دواړه ورك شه يواز بلك بدل قزلباش
لغماني بنګښ سواتي تيراهي واړه
موټ متر لوبيا چنه دي مهي ماش
هر احوال ورته ښکاره دي دو ګړي
د خوشحال ختك په پوهه کړه شاباش

نه د ماد هنر شته خوك طلبګار
نه د ما دي د دې ملك هنر په کار
په يوه ژبه ويل سره پښتو کړو
ولي هيڅ ځبله نشوو خبردار
چه د سوات په ملك کښې مانداره وکړه
بل و لس تر يو سفزيو نشته خوار
زور زياتي خودپسندي خصلت دواړو
هر سړي يې طمع خواست و ته تيار
که په کور کښې مال دولت لري سترګ وزي
ملکان يې لا تر نورو دي مردار

حقه چاربه دعزيز کـانديې نـا حقـه
کـه په بدې رشوت مومي يو ديـنـار
ختکی لـه ختـکی نـه رنـګـا خـلی
عالمان شيخـانـي لادی نـا په کار
چـه مي وليدل له نورو خبر نـه يـم
داخـووا ړه‌يـاغوايه دي يا حمـار
دا په هر ديار کښې سيل هم بد نه‌دی
چه‌خوشحال وته څرګند شو هر اسرار
چه‌دسوات‌دسيمی‌خاورې‌خوشحال پرې کړې
يـو سـړی بـه څـنی نـه ويو فـا دار

نشته‌بانـګ د موءذ ن په درست تيراه
مګر واورې بانګ دچرګ‌په‌سحرګاه
که ورکزي يې سراسر واړه ګمراه‌دي
افـريـدي دي تـر ګمراهو لاګمراه
داسلام ارکان احکام حـلال حرام‌شته
افريدي اور کزي نه دي پرې آ ګـا ه
نه‌يې نمونځ د جنازي‌نه يې امـام شتـه
نه زکوة نه سرسـايه نه دزړه تـر اه

پښتا نه په عقل پوهه څه نـا کس دي
کو ته سپی دقصا با نو د جوس د ی
پادشا هـی يې د مغل په زر وبـا يـله
دمغـل دمنـصبو نو پـه هـوس د ي

اوښ له باره پخپل کوردي ورغلی
په ولجه داوښ د غاړې دجرس دي

دنفرین لا یق په نام سړ بنی دي
له اوله که دانورور پسی پس دي

بې ننګا ن دبی ننګیه کا رو با ر کا
ننګیالی دننګ په کار کیښې هر نفس دي

سریی هوري کند هاربل یی د مغار دی
تر د ا مینځ همه میشته وا ړه عبس د ی

درست جهان په ناپوهانو سره ډك دي ولی زیات که پکښې وګورې افغان دی

که په نوروخلقو ښه سړي موندل شی
ولی ښه سړ ي به لږ وي افغانا ن

که هر خوورته دپند خبري وايی
د پلار پند يې هم ښه نه لګی په ځان

هره چار د پښتانه تر مغل ښه ده
اتفا ق ورڅخه نشته ډیر ا رما ن

دبهلو ل او دشیر شاه خبرې اورم
چه په هند کښې پښتا نه و با دشاهان

شپږ اوه پیړې يې هسی با د شاهی وه
چه په دوی پورې درست خلق وحیران

یاهغه پښتانه نورو داخه نور شول
یاد خدای دي اوس داهسې شان فرمان

که توفیق داتقاق پښتانه مومی
زور خوشحال به دوباره شی پیداځوان

کهژوندي شی افلاطون
اکوز یو ته بیان کا
هدایه کفایه دواړه
دوی به وایی چه داخه دی

سوات کښې ونیسی سکون
کتابونه د فنون
په پښتو کاندی موزون
مخزن ښه دی داخون

نیشکر به غوایه څه کا
په واښه یی دی ژندون

چهدروه په ملک کښې ښه پښتون یاد یږی
نن مهمند، بنګښ ورکزی اوافریدی دی
دمهمند وسپی بهتر دی تر بنګښه
که هزار ځله مهمند بتر تر سپی دی
چوهړی دافرید یو له ورکزیه
افریدی که همه واړه چوهړی دی
هرچه ښه د پښتو نخوادی حال یې دادی
هغو بد وته یې خوك وایی سړی دی

له ژوندیو پښتنو ښیګړه نشته
هرچه ښه وهغه ګل دګوربندی دی

دخوشحال خان په اشعارو یو نظر

دخوشحال خان اشعار چه په پښتو ادب کښې ډیره لویه او درنه پانګه ده دادبی نقدو تحلیل په لحاظ ډیر ولیکنو ګنجا یش لری او هر راز ځیړنې پکښې کیدای شي.

دده په دیوان کښې دپښتو ژبې دمختلفو لهجو او محاورو او دهرې خوا نا اشنا لغتونه موندلی شو او د نورو ژبو لغات هم پکښې ډیر پیدا کیږي.

دده الفاظو او کلما تو ډیره پروانه ده سا تلې هر لفظ چه په هرځای کښې په کار شوې خپل دی که پر دی غریب دی که فصیح، دده تر ینه کارا خیستی او کله کله یې دیوه لغت هډوکی مات کړي او په یوه ځای کښې یې په وچ زور ځای کړی دي.

دی په لغاتو حاکم واو دلغاتو په استعمال کښې یې دتغیر او تصرف ډیر حق ځانته ورکړي و.

دده ددیوان دلغاتو حل کول ګران کار دی ترڅو چه سړی له ځینو هندي ژبو ترکی لغاتو اود پښتو له مختلفو لهجواو محاورو سره اشنا نه وي په ځینو بیتونو یې ښه نشی پوهیدلی.

دخوشحال خان شعر دسبک او اسلوب په لحاظ له نورو شاعرانو نه هم دفکر اومعنی له حیثه اوهم دلفظ اوعبارت له مخې ډیر فرق لري چه که سړی ورسره ښه اشنا شي دده داداء طرز او د مطلب افاده له نورو نه پیژندلی شی او په صرفي اونحوي لحاظ هم دده کلام ځینې خصوصیات لري.

دده په ژوند کښې درې شیه ډیر دخل لري (توره ـ ښکار ـ ښځه) همدغه سبب دی چه دده په اشعارو اوغزلو کښې ددغو درې مینو اغیزه ډیره زیاته ده اودافادې په ډول کښې یې ډیر دخل لري.

مثلاً دی وایی :

زه هاله د عافیت ناوې قبول کړم — چه هوس یې په کابین راځخه یوو ړ

ددې بیت مضمون په اصل کښې تصوفي رنګ لری اومقصد یې دادی چه عافیت هغه وخت د سړي په برخه شی چه له خپلو هوسونو تیرشی اوځان له نفسي خواهشاتو نه مجرد کړی اوداهله کیږی چه سړی اول دواده له هوس سره وداع وکړی اوانزوا اختیار کړی مګر دی عافیت له ناوې سره تشبیه کوی او ودوی یې اوبیا خپل هوس په مهر کښې ور کوی یعنی له هوس نه تیر یدلو ته دهوس پیرایه ورکوی او بلا کوی .

په چا باندې چه دښځو مینه غالبه وی اوپه هرحال کښې ورسره دواده فکروی هغه باید عافیت ته هم په دغسی نظروګور ی اودواده په فکر کښې شي .

همد ارنګه دی ددنیامال اودولت ته په داسی نظرګوري چه بایدخوک یې مر یې اوغلام نشي بلکه په مال اودولت اوبی وکړي اودلوبوشی یې وګڼی مګردغه مقصد داسې ادا کوی :

خوك دنیاوته مریونه دی خوشحا له — شا ځلمیوته دلـوبـوچنـغالـــه شی

په خوشحالخان باندې دښکارمینه دو مره غالبه ده چه خپلی معشوقې ته هم دښکار په نظرګوري او وایی :

ښایسته دبڼ طاووس ورلره بویه — داواړه ښکارونه نه کا بـاز زمـا

همدارنګه په یوه بل بیت کښې وایی :

که نیولی زرکه بازپریزدي له چنګه — زه به هم له لاسه پریږدم شوخ وشنګه

دیوه ښکاري سړي فکرباید همدغسې وي چه خپل ځان بـازوګڼی اوخـپله معشوقه دبازپه منګلوکښې زرکه وبولي دغه ښکاری شاعر چه کله دخپل دانش اوپوهې ستاینه کوي نووایی :

د دانش مرغه مې هسې پورته لاړشه   چه هوري د کته بازو پرواز نشته

کله چه دی دمطلب لاس ته راوستل په جدوجهد او زیاروز حمت پورې مربوط او موقوف گڼي نو دغه مفهوم دیوه ښکاري په حیث داسی اداء کوي :

په ناحق یې په میدان په سمه غواړې   چه دغرو نوغر څه نه گرزی بی کوهه

جنگ او توره هم دخوشحال خان په فکراو نظردیره اغیزه لری ځکه یې په هرمضمون کښې ځایوي.

کله چه دی له خپل یارسره په صحبت کښې وي نویو داسې خلوت غواړي چه هلته باید دپرښتو آوازاو نسیم ته ددا خلیدو اجازه نه وی اوخوب هم باید دده سترگوته ورنشی په دغه حال کښې دی خوب ته داسی خطاب کوي :

خوبه مه راځه په ملك زما دسترگو   گڼه ځای به دې په وینو کښې لت پت شي

دغه راز افاده چه سړی دخپلو سترگو ملك ته دخوب راتگ یو تیری وگڼي او په مرگ یې تهدید کړي دهغه چاکار دی چه عمر یې په جنگ اوجگړو کښې تیر کړی وي اوسروکاریې له تورې اوټوپك سره وی .

دارازسړي باید په یوه مصرع کښې توره او په بله کښې ولول زلفی په دې ډول وستایی :

توره چه تیریزي خوگذار لره کنه   زلفي چه ولول شی خوخپل یار لره کنه

دخوشحال خان په سبك کښې داخبره دیاد ولوده چه دده په عشقی سندرو کښې حماسي رنگ ډیره غلبه لری اودده په غزلو کښې دغه دوه عنصره (عشق - حماسه) داسی گډون لري چه سړي یوه خواپه بله بانديې سپکه یادرنه نشی گڼلی اودشیروشکر حیث لري دمثال په توگه یی داسندره وگورئ :

که زه نه وای تابه ځان لره بلل خوك   په پالنگ به دی داهسی درختل څوك
واړه عشق دی چه یی سرراته گیاه کړ   گڼه زه په ځان مین دسربندل څوك

بدرگه که محبت راسره نه وای | یك تنها به پهخونخوارو لارو تلل څوك
ددې میوپیا لې ډیرودی اخستی | ولی ماغوندې بهنهوی لایعقل څوك
ته می وژنه د قصاص اندیښنه مکړه | دخپل خون په توربهونیسم یوبل څوك
تا پخپله سپینه خوله خوشحال تهورکړه | گنهدې داهسې شونډې کښلول څوك

سړی چه دده دغه شعرلولی نوله یوې خوا ورته دعشق اومینی سندره معلومیږي اوله بلې خوا دشهامت او شجاعت ویاړنه .

په دې شعرکښې سربازي اونظربازي غاړه غړی شوي اوعاشقانه نیاز له قهرمانانه غرورسره پهیوه کورکښې گډ ژوندکوي .

دخوشحال خان دشاعری یوخصوصیت دادی چه د ده په اشعاروکښې رقیق اوزړه ماتوونکی احساسات نشته اودده شاعري ډیره ننگیالی او توریالی شاعري ده چه پهویونکو اواوریدونکوکښې زړور توب اولوړهمت ، ملی غرور اودوطن مینه پیداکوي اودپښتو نولی عقیده ټینگوي یو بل لوی صفت چه د ده په اشعاروکښې وینوهغه دادی چه دهد خپل محیط او ماحول له ډیرو جزئیاتو سره تماس کړی چه حتی دخپل کاله حال یې هم نه دیپټ کړی اود خپلواولادونوښه اوبد یې په ډاگ ایښی دي .

داقوامو اوولسونوعادات اواخلاق هم دده په اشعاروکښې ښودل شوي دي.

ده دخپلی زمانې قحطی اوقیمتی مرضونه اوآفتونه جگړې او جنگونه په شعر کښې بیان کړي اوسربیرهدواقعاتو اوحوادثو په څرگندونه دخپل وخت اجتماعی اوضاع اواحوال هم ډیرښه تمثیلوي چه ځینی نمونې یې دادی :

بیا دې څه فتنې آغازې کړې آسمانه | چه عباس دې راروان کړله ایرانه
شاهجهان لا په اندوه د ترکستان و | تا ناگاه بله چاره کړه ورعیانه
یوسختی اورنځوري دې په ملك زورکړه | بل دې بر برکت واخیست له جهانه

د کابل میوې خوراك دي دطوطیانـــو — پرې خواره شول تورزاغان لههندوستانه
یوشدت دپادشاهانو ترمینځ پریـــوت — بل دا ملك شویو څو کاله بې بارانه
غهسړي بهچهپهزورمیلمانه غـــو ښتل — اوس سرپټ کاندې تیریزي ترمهمانه
ماپه عمرهسې کـار لیـد لـی نـــه و — نه مې کله اوریدلی و لــه چـا نـــه
چه پسر له لوزې مري پدرېې ګوري — د پسر اندوه یې نه وي بې لـه ځـانـــه
هندوستان بهګوره څه شی ستا له فعله — خدای دې ورك کړه رافضی علی مردانه
لههغی ورځې چهراغلې پهداملك کښې — غم دې راو وړ ترسپاهه تر دهقـــانـــه

چه داهسې شوم قدم دې پهملك ګډ کړ
چه دې ګورم څه ناپوهېږې شاهجهانه

په دې شعر کښې د۱۰۵۸ ه کال ددوهم صفوی عباس حملې ته اشاره ده چه په کندهاریې وکړه اوشاهجهان یې مقابلې تهله هندوستانه فوځ و استاوه چه له یوې خوا ددوه پادشاهانو ترمینځ جنګ ونښت اوله بلې خواقحطۍ او رنځورتیا په ملك کښې خپره شوه چه پلار له زویه بیزاروا وکوربه، به له میلمه نه پټ تیریده .

علی مردان هغه څوك وچه دایران له پادشاه نه شاهجهان ته راوتښتیده اوپه هند کښې یې لوی عسکری حیثیت وموند خلکو دغه تړوله بد بختی د هغهدبدقدم نحوست ګانه چه دغه تړولی خبرې پدې شعر کښې راغلی دي.

دخوشحال خان پهنورو اشعاروکښې هم دپېښواوحالاتو ذکرزښت ډیرراغلی دی چه دده دعصر انعکاسات پکښې ثبت دي اوداځرګندوي چه خوشحال خان دخپل محیط اوماحول په اجتماعی ژوندکښې ښه ژوره مطالعه درلوده اوډیرو باریکوکیفیاتوته یې پام و .

وګورئ! په یوه رباعی کښی داورنګ زیب دزمانې حال څومره ښه تصویروي :

خانا نیې وا ړه تلاوت خوان کړه دهند هندوان یې دا نشمندان کړه
وخت داورنګ دي عمل هیڅ نشته خوکښا بونه یې په عالم ګران کړه

په یوه بله رباعی کښې دپښتنو حال داسی راښيی :

چه وهرسړی ته وګوری نظر کړی چه تروا ړو پښتنو یې دي ډیر کلی
دري څلورتکبیره ووایه تري تیرشه دمرده وهدیرې دي دسوات کلی

همدارنګه دواورو دوریدو د خپلی رنځورتیا اودجوړید واو د ځینو سماوی آفتو نو یادونه دنیتی له قیدولوسره سم په دی ډول کوی :

دغفا په بوکه پریوتې په غرونو ترکابله تراتکه سپینی واوری
(۱۰۸۱)
شکرژربه درست جهان ګل وګلزارشی دبدکال پهسربه بیاشی تورېخاوري

کهدعاوه که توبه وه که دارو وخوشحال ختټک ته خدای ورکړه شفا
په دوه کاله داسهال په رنځ اخته و تري خلاصی په ذوالحجه ودغفا
(۱۰۸۱)

د نوروز په دولسم میاشت صفرکال دغفط و
(۱۰۸۹)
غله ګرانه کښت زبون شو پهعالم نازل سخط و

خوشحال خان علاوه په حربی اورزمی شجاعت داجرئت هم د راود چه خپل هرراز حال اودنوروا حوال پخپلو اشعاروکښې بې پروابیان کړې او هیڅ حقیقت له هیچانه پټ نه کاندې . دده ځینی اعترافات روسوته ورته دی او هغه څه یې ویلی دي چه نوریې له شرمه یاله ډاره نشی ویلی . خوشحالخان له اقوامو

او اشخاصونه نه‌دی دارشوی اودعرف وعادت اورسم ورواج په‌قید کښې هم‌دیر نه دی راغلی ځکه وایی :

زه خوشحال کمزوري نه یم‌چه به‌دار کړم

په ښکاره ناري وهم چه خو له یې را کړه

خوشحال‌خان دخیال او دفکر په لحاظ دپښتو او پښتونولی‌دیرښه مثال و دده نظراودده احساس دپښتنې شعور تابع و او پښتنوا له پرې دیر ه غالبه وه .

که څوك دده اشعار په یوه بله ژبه هم ترجمه کړي نو پښتنې رنګ او پښتونتوب تر ینه نه‌ځی . دده کورنی ژوند هم همدغسی راغلی‌وچه‌تول عمریې له ولس سره کار درلود او دپښتنو مشری دی ته‌نه پریښوده‌چه‌لکه ځینی نور شاعران له‌خلکو نه کناره دانزوا ژونداختیار کړې او له‌محیط نه‌دذهن‌او فکرپه لحاظ لری پاتی شی .

که څوك غواړی چه دپښتنو روحیات ځانته معلوم کړ ی نود خوشحال خا ن په‌اشعارو اوآثارو کښې دی ژوره‌مطا لعه وکړی‌ځکه چه دده په شان دافغانیت ښه مفسر بل نشته .

خوشحال‌خان دشعر په ویلو کښې دروا نې طبع خاوند وچه ښائی کله کله یې په ورځ کښې دوه قصیدې هم جوړی کړی وی .

دی یوه قصیدی لری چه۵۲ بیته ده او مطلع یې داده :

دډ هلی د ښهر ښه شان و شو کت و   لورپه‌لوریې‌ښکلی‌عمارت و

داقصیده ده له ماز پښینه‌ترماښامه جوړه کړی ده چه دډیلی ۳۴ تنه پادشاهان‌یې له معزالدین څخه ترشا هجهان پوری یادکړی دی .

ددې قصیدې مقطع داده :

ا بتد ا د دی بیا ن په نما ز پښین و   د ماښام په و خت یې شوی نهایت و

په دغو مره لږ وخت کښې دغسې قصیده جوړول ډیره روانه او فیاضه طبع غواړی او دډیر شاعرانه اقتدار ثبوت دی .

خان یوه بله قصیده لری چه مطلع یې دا ده :

نا خلف می حواله کړ په تقدیر　　نصیحت ور باندی نه کوی تاثیر

داقصیده شپیته بیته ده چه په یوه ورځ کښې جوړه شوې ده لکه چه وایی :

دشوال وروستنی ورځ کال دغفادی　　ما چه دا شپیته بیتو نه کړل تحریر

ددې قصیدې یو څو بیته دادی :

عیسی یو ناد ان هو ښیار نکړ په عمر　　که ړانده یې په نفس شول ډیر بصیر

چه بدخوی په چا کښې کښینی نور عادت شی　　عادت نه درومی له شخصه په تعزیر

دناقصې پوهی پدل په کار نه دی　　د دانا فکر خطر لری خطیر

واړه زړونه په دانش سره سم نه دی　　دچاز ړه لکه دریاب دچا غدیر

زمانه دربابی دلاس رباب ده　　هر زمان نوی نغمه دبم او زیر

په لحظه لحظه احوال دجهان نور شی　　د سبا دچارې فکر په ضمیر

هره ورځ دزمانی احوال بدلیږی　　هره شپه نوی خوبونه نور تعبیر

په ساعت کښې رنګ وخوند دچاری نور شی　　وینه پیې شی پیې شنو بی شنو بی پنیر

فراغت دی مبارك شی دګیدړو　　دمزری دغاړی بخره دی ځنځیر

که لوګی د اورفرزند دی په داخه شو　　چه نه تاونه لکه اور هسی منیر

له دې څو بیتو څخه ددې قصیدی دکیفیت اندازه معلوموولی شو چه دمعنی اومفهوم په لحاظ مهم مطالب اونوی مضامین لرې یعنی که خوشحال خان په ورځ کښې شپیته بیته هم ویلی دی له ابتکاره خالی نه دی اوشاعرانه رنګ اوخوندیی ساتلی دی دلته باید داوو وایو چه خوشحال خان په ډیره ساده اوعام فهمه ژبه ډیر مغلق مطالب

بیانولی شی اود خپلو خیالاتو داظهار دپاره له حسی تشبیهاتو نه کار اخلی. یعنی هغه غوټه چه په خوله خلاصیږی دی یې په لاس خلاصوی او له معقول نه محسوس جوړوی .

دامضمون چه اولاد د پلار غوندی نشی کیدای او ځینی داسی اولادونه وی چه د پلار صفات او خویونه پکښې هیڅ نه پیدا کیږی دی یې داور او لوګی په ښو دلو کښې په محسوس ډول ښیی او وایی چه لوګی هم له اوره پیدا کیږی مګر نه هغه حرارت لری او نه هغه رڼا .

دعمر بې بنیادی او بې ثباتی یوداسی مضمون دی چه ډیرو شاعرانو به پکښې څه ویلی وی چا به داو بوله تیر یدو سره د عمر تشبیه کړی وی او چا به ورته خوب او خیال ویلی وی مګر خو شحال خان دغه حقیقت دواقعیت په پیرایه کښې داسی اداء کوی چه هرڅوك پرې ښه پوه کولی شی لکه چه وایی :

چه دعمر یې بنیـاد په هوا ایښی ــــــ په داهسی ژوندون څه دی اعتماد

په دی هرڅوك پوهیدلی شی چه ژوند د ساه کښته پورته کیدو یعنی دهوا ایستلو او ننویستلو ته وائی اودعمر بنیاد حقیقتاً په هوا ولاړ دی چه اعتماد پری نشی کیدی دامطلب که څه هم ډیر واضح او ظاهر دی مګر د هر چا پام ورته نشی کیدای ځکه چه ډیر ځله ډیر ښکاره توب دډیری خفا مو جب ګرزی او ډیره سپینه واوره دستر ګو لید وړی .

دخوشحال خان په اشعار وکښې دالفاظو ابهام او اشکال موجود دی مګر داداء او افادې ګرانوالی پکښې ډیر لږلیدل کیږی اوخیالبافی یا غیر و قوعی مضامین پکښې په ندرت موندلی شو چه یو دوه مثاله یې دا دی :

د ښو سیوری یې خار په ښو څرخیږی ــــــ له حیا چه کوز کوز ګوری نازپروری

د پایلو په آواز سره دی و یښ شـــی ــــــ چه پـر ی درومې تصویر ونه دقالی

دخوشحال خان دشعر ځينې عيبونه

شعراوشاعر که هرڅومره ښه اوهرڅومره لوړوی بیاهم بې عیبه نه وی او له انتقاده نشي خلاصیدای خصوصاً هغه شاعرچه په زرگونو زرگونو بیتونه لری او کله کله يې په ورځ يانيمه ورځ کښې یوه لویه قصیده ویلی وي .

دخوشحال خان په اشعارو کښې سړي درديف اوقافيې په لحاظ ځينې نيمگړتيا وې وینی چــه پــه کــلاسيکی لحاظ عیب بلل کیږی .

مثلاً دي کله عربی اوفارسی کلمات په قافیه کښې راوړي او (عبث) له (نفس) يا (رصاص) له (پاس) سره قافيه کوی لکه په دې بيتو کښې :

بې ننگان دبې ننگيه کار و بارکـــا ننگيالی دننگ په کارکښې هرنفس دي

سريې هورې کندهار بل يې دمغاردي تـــردامينځ همـــه ميشته واړه عبث دي

که لافې دکوزيه دهسکې وهم باورکړه ترتوروخاوروکوزيم ترآسمانه يم لاپاس

ويل کوې وچاته چه دماويل سره زردی ړندووته خوشحاله لکه زرهسی رصاص

همدارنگه په دې بيتو کښې :

چه داهسی بې نيازي کوی د اښه کړي زه به نور ياران پيدا کړم ته به ښه کړي

بل څراغ غوندې په شپه دهجران راشه چه په راغله مې روښان دواړه ليمه کړي

زمازړه ورځنې صبروچه گـــونګ دي نن زما طـــوطايو څوخبرې وکـــړی

دقافيې په لحاظ داعيب ليدل کيږي چه (ښه) (څه) (ليمه) (و) قافيه شويدي يعنی په حقيقت کښې يوازی (زورکی) دقافيې کارورکوي چه هغه په اصل کښې حرف نه دي اودغه عيب په (وکړې) کښې ځان بيخی ښکاره کړيدي .

دي کله په يوه شعر کښې د(دي) رديف په دوه ډول (مفرد ـ جمع) راوړي لکه په دې بيتو کښې :

عشق يو څه عظيم بادشاه دي که يې ګورې — چه ګدايې له سلطانه محتشم دی

دا د عشق دګداياڼو هسې چارده — چه د فقر په جامه کښې محترم دی

دا رازرديف که څه هم په دواړو بيتو کښې په مفرد ډول وايه شي مګر عيب يې نه پټيږي.

کله کله په قافيه کښې دنورو ژبو داسې ناآشنا لغتونه راوړي چه په پښتو ژبه کښې هيڅ نه استعماليږي او په معنی يې هر څوك نشې پوهيدلای لکه په دې بيتو کښې:

سور پيزوان دې په زرګر سنوار يا — بيا دزړونو آزار اخلې پاريا پاريا

په خاوندمې دې سوګندوې با ورو کړه — چه هيڅ دم مې له خاطر نه يې وسار يا

زه هرګوره دماغی په ځان غره وم — ولی ستا سترګو زما دماغ اوتاريا

غه خبرې چه بې ستا له مخه کيږي — له هغو خبرو ونيوي صماخه

په هغولو يو خبر وشرمسار يم — چه وهر چا ته ايستی له فمه ما

د دري ژبې ځينې کلمات چه په پښتو ژبه کښې نه دي داخل شوي يعنی د خيل ورته نشو ويلی هغه هم دده په اشعارو کښې زيات وينو چه ځينې مثالونه يې دادي:

دانشمند د دانشمند په صحبت خوښ دي — د جاهل په صحبت ګډ شي جاهل زو **د**

هم داهسې راشی تيرشی — په ځای نه لري **استاد**

خيال دې دزلفينو لکه غل دخپلې خونی — هرکالی ليدلی فراغت يې **دزديدن** کا

زه به هيڅکله له عشقه نه وانوړم — پند ګويانو خپل پندو ساتئ **شما**

دادم خاورې دغم په اوبو نم دی — خميره په قدرت کړي چل **بامداد**

زه بلبله خو شنوا د دې چمن يم — په موسم دګلو څه رنګه **خاموش** کړم

په دې روستي بيت کښې داعيب هم موجود دی چه د شعري ضرورت په وجه د خاموش شم په ځای خاموش کړم راغلي او ګرامري غلطي ورته ويلی شو.

دقافيې تکرار:

دده په اشعاروکښې دقافيې تکرارهم ډیرلیده‌شي يعنې علاوه‌په‌اوږدوقصیدو چه‌هلته دضرورت په‌وجه دغه تکرار و رو سته له‌څو بیتو نو پیښیږ ي د ی‌په غزلو اولنډوشعرونوکښې هم کله‌یوبیت ترمینځ اوکله پرله پسې قافیه تکرا روي لکه په دې شعرکښې :

په‌ارمان دديدن مرم پرې مې سلام دی — چه ځیرځیر مې دیا رمخ وته‌کاته کا
ښا یسته په جهان ډیر د ي ښه هغه د ي — په‌ښه خوی‌چه‌دعاشق دزړه سا ته کا
لکه‌سترګې تصو يري ځنبل يې نه وي — چه مې سترګې ښه جمال وته‌کا ته‌کا
څه‌خوښې يې پکښې ایښې دي پوهیږې — هـر نفـس چـه دې وا تـه‌ننواتــه‌کـا
په‌هرڅه‌کښې يې لذت‌فرحت‌راحت‌دی — لکه سا ه چـه و واتـه ننـوا تـه کـا

په‌دې دوو روستیو بیتوکښې سربیره‌دقافيې په پرله‌پسې تکرارد‌مضمون تکرار هم‌شته .دقافيې دپرله پسې تکراربل مثال دادی :

له دلبرې نـه‌مې‌خولـه غـوښـته امـا — ډ کـه خولـه يـې را ته دا ووې‌لـه‌ما
دمانې په وخت‌يې تل‌هسې ځـواب و — ګور ه‌بیا يې په څـه‌زړه‌بـدی لـه ما

دمضمو ن تکرار :

دخوشحال خان په دیوان کښې ځینې مضمونونه په لږ غوندې لفظي تغیر مکرر راغلی دي چه ځینې نمونې يې دادي :

که‌لوګی داورفرزند دی‌په دا څه شو — چه‌نه‌تا و نه لـکه اور هسې منـیـر
که لوګی‌داورفرزند د ی په داڅه‌شو — چه‌دا ورغونـدې يې نښته خیـرو شر

په قیامت به مینه ورمـه دسنـګد لو — که پـه دادرنیـزي تله داعمـال
کا شکې د عمل تله د ر نـه پـه قیا مت شي
موم په رقیبانو په‌عاشق باندې‌زړه سنګ کړي

چه یې مینه‌د زړه سنګو روزی نشوه   په قیامت به دهغـو تـله وي سپکـه

پــــه آه آه د فـــراق ژنـــــو   زړونـــه‌وزی دعـــذب شـــول
زړه می سرتر پایــه واړه آبــله دی   په فراق کښې لـکه وزی د انـګور

دمعشوقی دپا لنګ لا فـی خـطا دی   څوز ما په‌سر کښې پروت یې دسرډاره
د معشوقی په پا لنګ به هغـه خیـزی   چه له سره نه‌بیر ون کا دسرویـره

بلا پیری زړه لرم دایـې عــادت دی   غم و بل لو ری‌ته‌درو می‌زه یې خپل کړم
ازلی مې دغـم بخـره ده راو ړ ی   غم که‌نور و لره‌درو می‌زه یې خپل کړم
چه د عشق غمو نه نورچا لره درومی   زه‌یې مخی لره ورشم واړه‌خپل کړم

ښه چه راپیداشوې د بهار زیړیه ګله   تل‌دی یا دو نه عندلیب په‌هر نفس کړه
ښه چه‌راغلی د بهـــار زیړ یـــه ګـله   ا ندیښنه‌دی عندلیب په‌هر نفس کړه

څورا سره خلقه جفا ډیره هغـه کس کړ ه
خدای‌می په‌داخوی کښې په‌ده مینه یو په لس کړه
څوجفـــا راسره ډیــره هــغـه کس کـــړه
خداي مې مینه په ده باندی یو په لس کړه

دعبارت تکرار :

په ځینو بیتو کښې کله یو پښتو لغت په‌فارسی هم ر ا وړ ي یا یوه جمله په دوو بار تو نوافاده کوي چه بې ضرورته تکرارورته‌ویلی‌شو لکه په‌دی بیتو کښې :

څه کړم لاس **ودست** می نشته قلندر یم   ګټه مـــا بـــه د نیا و با ز له کلــه

نه به نور څه‌وکښی نه به کا ندی‌نو را ملا   دا بنده‌خوشحال اوستا له‌عشقه مشغو لا

معنوی نیمګړتیا :

کله کله په یو نیم بیت کښې یو داسې لغت راوړی چه د معنی په لحاظ هلته موزون او مناسب نه ښکاری لکه په دی بیت کښې :

که دی سترګی د عرفان شته مبارک شه — دګلزار په ننداره چه استقلال کړې

چه ښه مخ وته نظر کاندی لازم دی — که یې ستر ګې و بل مخ وته غړ یږي

د لته د استقلال او لازم کلمه ښه اړخ نه لګوی همدارنګه په دې بل بیت کښې :

د لید و په ننداره یې نه مړ یږم — که هر څو په ځیر ځیر ګورم و دیدن ته

د دیدن کلمه بې ځا یه ده .

یو ځای دی دغم او خوښۍ په ویش کښې دتقابل په ډول وایي :

د درویش بخره خوښی غم دغو دی — چه په شمار د زړو ناست وی چونو چند کا

هو ښیار انو سره ډیری اندیښنی دی — چه ملنګ د مسئلی هغه اننـد کـا

په لومړی بیت کښې د درویش او دغنی مقابله صحیح ده او هیڅ اعـتراض پری نه واردیزی مګر په دوهم بیت کښې دهوښیارا او دملنګ ترمنځ هغه تقابل نشته لکه چه په لومړی بیت کښې یې وینو .

په یوه شعر کښې چه دی دزړو اهمیت او اغیزه بیانوی او د شعر سیاق او سباق همدغه دی چه زړ په دنیا کښې ډیر ډیر کارونه کوی او هر څه په زړو کیږی نو یو بیت پکښې داسی راځی چه دزړو ځای زرګرنیسی او دمضمون تسلسل لـه میـنځه ځی لکه په دی بیتو کښې :

خپل پردی راته په خوله وایی زرزر — و عالم ته تر هر څه د ی بهتر ز ر

نور و چار و و ته څه ګورې داګوره — چه صاحب دمسلمان کـا کافر زر

فیروزه الماس یا قوت لعل له کا نه — لــه دریا به نه وکــا زي گو هر ز ر
زورقوت حرمت هوري دورمي چه زروي — دبادشاه په سر خوك كيزد ی افسرزر
. . . .
جو هري قدر وقيمت زده د جو هرو — قلب سره سره جـد اکا زر گرزر
. . . .

په يوه بل ځای کښې دی غواړی دامطلب افاده کړی چه له نيکا نو نه بـدفـرزنـدان پيدا کيږی او له بدانونه نيکان زيږي نووايی :

دخل دساعت دطبيعت دی كـه دنـور څه
نيك زيږی له بدو له بد ذاتو نه نيك ذات

ددی بيت دوهمه مصرع بايد داسی وي :

(نيك زيږی له بدو له نيك ذاتو نه بدذات) ځکه چه په دغه صورت کښې د مضمون تكرار له مينځه ځی اود (يخرج الحی من الميت ويخرج الميت من الحی) مطلب افــاده كيږي يعنی دخان په دغه بيت کښې معنوی نيمگړتيا موجوده ده او د مطلب يوجزء مكررشويدي . دلته كه څه هم څوك داويلی شی چه دی وايی له بد نه نيـك زيږي او له بد ذات نـه نيك ذات پيدا کيږی چه د نيك او نيك ذات او د بـد او بـد ذات تـر مينځ يـو څـه فـرق موجـود دی مگـر دا تـوجيه د قناعت وړ نه ده .

فحش اور کيك كلمات :

دخان په اشعار وکښې سپکی سپوری هم شته اود کنځلو برخه پکښې ډيره ده په همد غــه وجــه ده ته په پښتنو شاعرانو کښې کنځل مار شاعــر ويلی شـو چـه دپـوچـو ويلـو پـروايـی نـه ده کـړی او ډيرر كيك كـلمات يـې هم استعمال کـړيـدي .

دخوشحال خان ځینې منتخب

شعرونه

ځار تر هغه مخ شم چه به ما په ځان مین کا
سحر وی که دم وی که څه نوری فتنې فن کا

زړه بویه چه خوی یې دبورا یاد بلبل وی
درومی ګرزی غواړی خو په ګل باندی وطن کا

وسیزی په اور کښې پتنګ هرچه پتنګ نه وی
وتښتی له اوره ځان پخپله دروغجن کا

ډیر په باغ کښې ګډ شی ځوك خالی اوزی له باغه
ځوك یې میوه وخوری په ګلونو ډك دامن کا

سترګو ته یې وګوره څه ښې توری زلفې
څر په سنبل زار کښې دوه هوسیه دختن کا

هرچیر ته چه ګرزي لکه سروه سمه درومي
هرچیر ته چه کښیني هغه ځای لکه ګلشن کا

تن یې آزاریږی په قمیص دزری صافو
ګل دچنبې بویه چه خوشحال یې اغوستن کا

خدای دې مخ دهیڅ غافل راښکاره نه کا
له غافل سره دې ما اوراه نه کا

په هر لوری نوبهاردی غوړیدلی
سترګې وخوره چه به دانندا ره نه کا

دچار پایو په حساب دې سړی نه دی
چه په سازدسوختـه ګانوناره نه کا

هغه خوك دي چه زماپه حال خبر شي

چه گريوان به ترلمنې پاره نه کا

په يوه نظريې هرخه له مايووړه

چه هيڅ نشته نورنظردو باره نه کا

واړه ستاداتورې سترگې خوشحال وژني

دا قتلونه خه طالع ستاره نه کا

راشه وگوره نن دا طراز زما حقيقت سره قرين مجاز زما

درست عالم يې په کوخه په بازاروايي لاو چا ته ښکاره نه دی راز زما

دمسجدمحراب دچا دی دعا بددي په محراب يې دابرو نماز زما

ښايسته دبڼ طاووس ورلره بويه داواړه ښکارونه کا باز زما

ته په مابا ندې تل ناز کړه معشوقه يې

زه خوشحال ختك عاشق يم نياز زما

هرگناه چه په تو به په استغفار ځي دهغه گناه به خه په زړه کښې دارځي

ساقي راشه سره شراب راکړه سري شوندی ترچشمانودی ځاريزم چه بهارځي

دهغه طبيب نوم خه اخلې په ژبه چه بيماروورله رايشي بيمارځي

کمې پيژني هغه ليونی زه يم چه نادان رالره رايشي هوښيارځي

چه محروم يې دی له ميو خوشحال دی

گنه واړه حريفان ځني سرشار ځي

ماچه نظروکړ په ذرات په موجودات

گول په جهان راغلم ترې به گول درومم هيهات

هيڅ نبي ولي يې درست اسرارمو ندلی نه دی

لو يه کارخانه ده که وگوری کاينات

وزيزي لـه نوحه د طوفان په موج فنا شي
څوی د آذر وموميـ ي لـه ناره نـه نجات

کاردبل حکيم دی چه څه کاندې هغه کيږي
واړه سـرد رگـم دي دا آبـادا امهـات

دخل دساعت دطبيعت دی که د نورڅـه
نيك زيږی له بدو لـه بدذاتو نـه نيك ذات

سر په سجده کيږدې وايی نمونځ کوم خو شحاله
زړه ته نظـر نکـړی پکښې څولات و منـات

بيا لـه ورايـه پـه خـنـد ارا غلـه نـگاره
دښه کـال خو بي ښکـا ره ده لـه بهاره

دگـلـزار گـلـونـه څـه دي راشـه گـوره
تـر گـلـونـو ښـايـسـتـه دواړه رخساره

دماښی توره يې څه تـورې پـری باسـی
چه په زړه يې يو گـزاروی سل پـرهاره

له مـاخوار سره چـه تـل غـاړه غړی وه
اوس نظرراباندی نه کـانـدی له عـاره

دمعشـوقـې دپـا لنـگ لافې خطـادي
څوزماپـه سر کښې پروت يې دسـرداره

ددې کـلـی طبيـبان واړه نـاتـرس دي
ددارو پـه طـمـع مـه اوسه بيمـاره

هرساعت سره يو نوی نوی خيال وي
که زما دپاره بياورشی ريباره

مخ دیار له خط وخال له مستغنی دی — دغنی وی هر اسباب له خپله کوره
ستا بار خو بله لمبه وربل دی څه دی — لکه تور لوګی چه تبول پاڅی له اوره
دخپل پله خاورې دې بيه په عنبر کړې — در ته چاوې چه په دا بهايې پلوره
ته په حسن لکه ګل هسې زيبايې — که زوولې يې له خپله پلاره موره
که يې نازدی که يې خيال دی ما به يوړ — و لې ما سره د ير کبر کا هر ګوره

چه معنی ورسره نه وي ويل سپوروي
خدای به نه کا دخوشحال خبره سپوره

ته چه داښکلې خيره لرې نګارې — ځکه تا په عاشقانو وکړې چارې
چه دی لارې ددیدن را باندې بند کړې — دما اوښکې په ګریوان ځې لارې لارې
هره ورځ تازه ماښې تازه جنګونه — تل دې ما ته تيرې تورې دی تيارې
دريغه نور نور سحر ګر په ملك پيدا شوی — چه دا ستا سحر يې مات کړی سحر کارې
خو په ما باندې چه راشې ځان نادان کړې — ګنې نشته نورې تا غوندې هوښيارې

په کوڅه يې باد ګذر نه کا خوشحاله
ته له کومه سازوی ورته ريبارې

چه مکې لره څوك دروی په خره سور — که حاجې شي نه يې ننګك نه يې پيغور
چه خپړ په هنر نه هغه کم عقل — چه دخط ستر ګې يې نه وي هغه کور
په خصلت هنر سيرت دانش باقي وی — قدقامت صورت فاني دی سپين وتور
پيرز وينه ښه سلوك نمنځه عدل — که دې دا خويونه شته څه غواړې نور
که وعده يې قيامت وی دغو ښتنې — د هوښيار سړی به نه وی په کار پور
که طالع يې ددولت په شربت ډك کا — بيا آخر شي دکم عقل جام نسکور
دياری اود دوستی لا يق هغه دی — چه آزار و رځنې نه وی پلار و مور
که ځوانمردې ځوانمردې به دې هغه وي — سل بد يه اواره کړه د خپل ورور

پہ ایمان پہ ځان پہ دوا ړو صرفه نه کا   چــه د خپلې ژ بې و لــګيزې ی ا و ر

دهوښیارسر ه مجلس ښه دی خوشحا له

دنــادانه سره ښــه نــه دی بــيو ر

چه پہ سپینه ز یره کاځوانې نګارې   پخپل ځان باندې به وکــا ځینې چارې

که پہ خوله دزا ړه یار تر سرځاریزي   پہ ز ړه نه دی ځوانی هیڅ دزا ړه یارې

نیک وبد پہ دا جهــان کښې پیدا کیزي   نیك وبــدې دزا ړه نه دی بيــزا رې

پہ کم ذات پہ اصیل هیڅ نه دی را غلی   ښځې وا ړه د ښه ځوان دي طلبګا ر ې

ا وس پخپلو ز ړو خو ښ اوسه خوشحا له

ددې دور ځوا نــې مکره نــا بکــا ر ې

راشه که یې اورې داخبره ده نادره   چه وو تل له سترګو هغه اوزي له خاطره

مر م چه جدا کیزې ته مې روح یې که پوهیز ې

مــه درومه له ما نــه را تــه تل اوسه حا ضر ه

بخت مې مرور شي چــه پہ نورو د ې نظر شي

بخت راته نا ظر شي چــه وما ته شې نــا ظر ه

هر حسن دې ډيــر د ی د لیلی ترحسن تیر د ی

ز ه چه دې مجنون کړم پہ چشما نویې سا حره

ډیرې دې نګار ې هو سی سترګې پري وار ې

تــا غونــد ې به نه وي شــو خ و شنګه د لاو ره

لام وبې یې ز بیښه چه ښه ښکلی شی در پیښه

تل شکر وکا ز ه چه شکر ی خو ر ی شا کر ه

ډیر دملك شاهان دی چــه دښکلو غلا ما ن د ی

تا دا قــد ر ت ور کــړ و د لــبر و تــه قــا د ر ه

که هیڅ نه وی چه و یل راشی لـه یاره

ته ل د یا ر مهر په لاس را کړی ریبار ه

سر ه لا له په هغه څمکه شګفته شی

چه خوبې د ی باند ی اور ی له رخسا ر ه

د غمز ې په تیغ می و ژنی زه د عا کړم

چه ز مـا په خـو ن یې مـه نیسه دا د اره

چا و ی خپل نتلی کښې چه یې په یا د و ی

بخله وخت د ی چه ونه ا وزم له شما ر ه

یوه شنه پا ڼه خپل بخت په لاس را نـکړه

خلق څه ګـلونه وړی لـه د ی ګلزا ر ه

که یې در ست په سیند کښې ډوب کړی هم به سوزی

چه سوختن یې په نصیب شی له روز ګاره

پـه و ژ و د عـا شقـا نـو هسی ز غلـی

نیم بسمل یـې په ځا ی پر یښو م له تلوا ره

چه یې ستـا په کو ی کښې ځای ونیو نو موړ شو

دخوشحـا ل خـا طر لـه بـاغـه لـه بهـا ر ه

نیمه شپه مې په پالنګ راغله دلبره
پر ی رو یه عنبر بـو یه سمنبره

رنګینه جامې اغوستې زر نګـا ری
سره درسته تجلی وه پاتر سر ه

په سپین والی دمخ سپین لکه مومنه
په تور والی دطری لکه کافر ه

سریې تور بښینبه په لاس باده یې ښخبنلې
دمستیه پخپل ځا ن نه و ه خبره

دپا یلوا ودخړې یې شر نګها رشو
زه له خوبه را پرتاوشوم ډیرپه ویره

ما وې ګو ره بښا پیریه ده که حوره
چه دا هسی شان په ماشوه برابره

په خندا خندايې داووی و ماته | چه وماته ونظر کړه بې بصره
ته مانه پيژنې زه هغه خوبا يم | بله نشته په خوبی تر ما بهتره
عاشقان زمادخولې په کلی ډيردي | بختور يې چه می ونيوې په غوره
څو بوسی يې دلبانو وماراکړې | حقيقی پياله يې راکړ له احمره
درسته شپه موسره راز په پالنگ وکړ | دوصال خوښی يې لانه وه ترسره
چه آواز دموذن دآذان وشو | په سحر له مانه ولاړه نازپروره
چه په ډير ارمان محبوبه ځنې درومې | کاشکی شپه دخوارعاشق وای بې سحره

چه له هسی محبو با خوشحال جداشو
دآ تش لمبې يې درومی له بستره

وخت دنوبهاردی زه جداله خپله ياره
دريغه دريغه چه بی ياره ځې بهاره
ژاړي غاړې غرونه په احوال دعاشقانو
سيل دواوړونه دی چه رادرومی له کوهساره
اوردخوزوزړونو چه دغره په ونوبل شو
شنی دودوزې خيژی له نښتره له چناره
غواړې چه احوال دفراق ژنودرمعلوم شي
گوره هغه زانه چه جدا ځی له قطاره
داسې معلوميژې چه جهان دماتم ځای دي
شنې جامی اغوستې دي طوطيانو له چغاره
نوري نارې نشته خونارې دبيلتانه دی
راشه که يې اورې درباب له هره تاره

رنځ مې نه کمیږی په‌زمان زمان زیاتیږی

زرراځه طبیبه ګښه مرم د خدای د پــاره

پا تې سړ ی نشول‌چه‌د اګرزي ددودام‌دی

ځکه و یر ه نــشی دد رد منو له آزا ر ه

چه داهسی بی نیــاز ی کو ی داښه‌کړ ي

زه به نور یاران پیداکړم ته به ښه کړ ي

بل ځراغ غو ندې په شپه د هجران را شه

چه په‌راغله مې ر وښا ن دواړه لیمه کړې

زما زړه ور ځنې صبر وچه ګو نــګ د ی

نن زما طــو طــا یو ځــو خبر ې وکړ ې

په ژو نــد ون له مــانـه مـه ځه دیار غمــه

ته به سم ز مــا له ساهه سر ه تـله کـړ ې

دغمزې توره د ی مـا ته شه پــه مــا کښې

غم می‌دادی‌پس‌له‌ما به نور پر ې‌مړه کړې

داچـه وایې چـه دابـدکـړې یـاداښه کــړې

کــه ر ښتیا و ا یم زه نــه یـم واړه ته کـړ ې

دا چــه او س وو اړ ه خلکــو ته ر ســیږ ی

چـه دې کـړې پــه‌ازل دي هــغه کــره کـړې

د هر چا پــه بــا ب چــه شــو ي هغه کــیږی

په‌هیڅ رنګ بــه خپل مــبر م حکم نور نکړ ې

پــه‌یــوه ځــمکـه یــو ه بــا غبان کـر لي

عــبا سی ګــلو نه ز یـړوسپیـن او سره کـړې

د سحر گـتمنه ډيره تـر هـر څـه ده
ځيني ځيني و رتـه و ينبس ځيني اوده کـړي
آلـوده لړلـی د رغـی د رګـا ه تـه
هيڅ مې نزده چه به حال د خوشحال څه کړي
زه خوشر ابی يم شيخه څه را سره جنګ کړي
بخرې ازلی دي کشکي ما دځان په رنګ کړي
ښه و ايي واعظه بر کت شـه ستا په ژبـه
ښه يې په ويلو دد ريا ب او به که رنګ کړي
و لاړ ل وجنت تـه چه پـه پوهه خبر نـه و
ولاړل ودوزخ ته چه يې لافي دفرهنګ کړي
پند د محمد دا بـو جـهل پـه کـار نـشو
څوك به يې صيقل کا چه يې خدای آئينې زنګ کړي
کښيني په خلوت کښې شيخه سود يې را ته وايه
ولي پخپل ځان داهسی ارت جهان تنګ کړي
زه خودزړه دردغواړم په هريوه مذهب کښې
ستا زده ستا خبرې چه نقلونه رنګا رنګ کړي
گـله ته چه په بلبلو هـو مره خـيال کـړې
دا خـيالو نـه همګی پـخپل جمال کـړې
دا نصاف په ستـرګـو ښه ننـد ار ه وکـړه
جهان څوښکلي څيرې هـسې پايما ل کـړې
ډيرې خونې د هـجر ان په لـمبو وسـوې
مـا ليدي چـه تجـلي يې پـه وصال کـړې

دبهار گلزاره ښه یې خوي دې بد دي
چه را تلنه یوځو ورځې په درست کال کړې

د بلبل د پاره تل و اي په چمن کښې
دبهار گله تله ولې دم درحال کړې

چه گلو نه د گلشن همیشه گوري
لکه خضر هومره عمر دخوشحال کړې

وې مې که زه درشم ستا ترځا یه خوله به را کړې
وې یې سکه هزار سره لړې چه دا و ینا کړې

وې مې چه تاما سره خندا په یوه وخت کړه
وې یې هغه څوك و چه یې تا سره خندا کړې

وې مې چه لهنتې دې چار گل په پوزه زیب کا
وې یې دا خبرې کړه هاله که چا په تا کړې

وې مې که زه ستا په کوي کښې ومرم ستا رضاده
وې یې کشکې خلاص له درد سره سپې زما کړې

وې مې چه په څورنکه خوشحال په تامین دي
وې یې د ختټك سرې دمینې څه ثنا کړې

بې اخلاصه دیارې څه جواز نشته — خود پوهیږې بې اودسه نماز نشته
ددانش مرغه مې هسې پورته ولاړ شه — چه هورې د کتبه بازو پرواز نشته
که هرڅوېې په سره اور کښې لولپه کړې — دیاقوت داوبو ډارد گداز نشته
هغه باغ چه تل ماوا وه دبلبلو — اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
دزړه راز و چا ته ووایم حیران یم — په هر لوري چه نظر کړم همراز نشته

توکلت علی الله یوه ویناده
دخوشحال دزمانې سره ساز نشته

خو په باغ کښې لا يو گل د نو بهار رشته　　د بلبلو د طوطيانو پرې چغا رشته
نن دې غم له ما نه ځان ساتي که ښه کا　　چه په سيل د نو بهار راسره يار شته
چه له ياره سره مست د گلو گشت کړم　　محتسب که رانزدې شي پا يزار شته
شيخ ملا دې زما غم په بهار نه خوري　　چه رباب او سرېندې غوندې غمخوار شته
ماوخپلې پارسايي ته رخصت ورکړ　　په دانورو پارسايانو مې اوس دار شته
ساقي بيا زما د ښهر خبر واخله　　لا يو څو په کوڅو پاتې پرهيزگار شته
گل و مل ساز و سرود ساقي سرې سترگې　　لا به دېر عالم رسوا کا چه دا چار شته

د گلونو په موسم کښې خوار هغه دې
چه يې نه پياله په لاس نه يې نگار شته

ما د شيخ او د ملا حکايت نه زده　　ما بې ميه نيه بل روايت نه زده
چه يې نوم د عاشقانو په شماره شو　　داهم ښه که بوالهوس محبت نه زده
د درويش په زړه کښې درست کتاب مرقوم دی　　که په خوله يې دعر بو لغت نه زده
نادان يار به صدقه تر هوښيار يار کړم　　نادان يار د آشنا يه قيمت نه زده
چه بې سته ميلمه کېږي هغه زه يم　　که آشنا مې د هندو غوندې ست نه زده

زاهدان چه نمونځ روژه کا جنت غواړي
ماخوشحال د مزد وريه طاعت نه زده

هر ملخ د سرباز يه هنر خه زده　　چه په دا هنر کښې سر ښندي پتنگ دي
لا تر اوسه يې ماغزه په قرار نه دي　　چا چه ماسره وهلې سر په سنگ دي
لا په خوب کښې په لرزه پريوزي له کټه　　چه د چا تر غوز زما د توري شرنگ دي
که په دادور مې گوري هغه زه يم　　چه مې داغ په خاطر اېښې داورنگ دي
درست جهان مې و مغل و ته خيبر کړ　　ځای په ځای يې ښتانه و ته قلنگ دي
ځينې خه لويې دعوې لرم په زړه کښې　　ولې خه کړم چه پښتون واړه بې ننگ دي

خو طالع راسره هسې مدد نه کا — ګنې تيرمې ترفريده نه فرهنګ دي

دخوشحال دزړه دحال ننداره وکړه
که دتخت دپاسه کښيني هم ملنګ دی

که نيولي زرکه باز پريږدي له چنګه — زه به هم له لاسه پريږدم شوخ وشنګه
ورپه ورکالي په کلي پسې ګرزه — درويزه که دديدن مومي ملنګه
څو دي توان رسي په لوی دريا ب کښې ګرزه — په بيله کښې دي زوال وينم نهنګه
عاقبت به ککرې وربانديې کيږدي — ترڅراغ چه کښېنې وښې ګرزې پتنګه
هغه يار که په پالنګ راسره نشته — داهم شکر چه يې بوی ځی له پالنګه
چه يې زړه دمعشوقې په مينه مست شي — دهغو سر يو خه له نام وننګه
که ليلي ونور عالم ته کښلي نه وه — په داخه چه ومجنون ته وه خوشرنګه

دغمزې په تيغ يې خوزنه يې خوشحاله
مړنی په روغ صورت نه ځي له جنګه

چه داهسې سحرګرې سترګې ستا دي — په ناحقه دتقوی لافې زما دي
پښتنې جونه مې وليدې په سترګو — څوک چه ترکي دخطا ستايي خطا دي
تا چه وويني مين دربانديې نشي — هغه زړونه غونډې کاڼې دبيديا دي
واعظان چه يادوي دجنت حورې — ما پيدا سترګو ليدلې په دنيا دي
يا به ستا زلفينې ونسيم په لاس کښېني — يا به سر دربانديې بايلم دوه وينا دي

دناموس خبرې مه کوه خوشحاله
عاشقان له نام وننګه بې پروا دي

زاره هم کله ځوانان وه واريې تيرشو — په زړه وپورې خندا مکړه که ځوان يې
يو جهان دادظاهر بل دباطن دی — راته وواية دکوم يوه جهان يې
که طامع په سريرپاس کښيني ګدا دی — که وآزو ته دې شا کړله سلطان يې

په بلځای می پیرزونه یې د یار غمه   ته زمادزړه دمات کودي ریحان یې

دادروغ دي چه په ستورو سودوزیان شي   سودوزیان واړه په حکم دسبحان شي

که درنګ خوبی یې شته بوی یې له کومه   دکا غذګلونه هم دګل په شان شي

زمـانه پـه طبیعت ده د هـلکو   هلك تل چه وچاورکا زرپښیمان شي

ددنیا اقبال چه مخ کاو نادان تـه   دانشمند یې دخبرونه حیـران شي

د منـصب سره زمـا خبـرې در وي   اوس راضي یم که په چا باندې مرجان شي

ګوره کومه چار به کانده مخ ښکاره کا   دعالم خبری ډیرې ترد ا میان شي

ددنیا لالچ خو ډیراند وه یې ډیـروي   چه یې ډیره تهولوي ډیر پریشان شي

دانشمند څخه چه مال ددنـیا نـه وي   وعـالم و ته په مثـل د نادان شي

د خوشحـال ختـك هغه قدر اوس نشتـه

دامـی واړه لـه افغانونه افـغـان شي

ښاپیرك که په هوائې په تـور تم کښې   په راتله درښا ورځی دی په غم کښې

لکه چتی درسته ورځ دروی په پورته   هغه هومره باز شاهین دروی په دم کښې

دچندن دښوانه فرق سره هیـڅ نه و   که چندن تر ښوانه ښه نه وای په شم کښې

چا له ډنډه درګوهر نــه دي وکښلي   قیمتي لوء لوء لالا غواړه په یم کښې

که ګیدړ په خم کښې رنګ شو په داخه شي   خـو بیا هم هغه ګیدړدي پـه شیم کښې

آفرین دې پـه ویلوشه خوشحـاله

چه دتور ورژول کړې په قلم کښې

که راضي مې پـه جفـا او په وفـا یـې   نورر ادرومه چه زه ستایم ته زما یې

بې له ماکه جهـان ستاشي پـه اربشه   چه زه ستایم که اربشې خوری دارا یې

که دې طمع دمخلوق له وره پریـکړه   بادشاهی دې مبارك شه که ګدا یې

غاړې غرونه خبرداردی چه مجنون یم   که جهان په دا خبردی چه لیلی یې

ستا دغم په توره مړ په وره دې پروت یم
کله کله راته ګوره مسیحا یې

جګي جګي په لیمه مې قدم کېږده
چه ړندی سترګی می روغې شي توتیا یې

کله کله ماو تا روزګاریو ځای کړ
بر برراشه دیارسپیه چه آشنایې

چه دی خوی خصلت له رنګ سره جوړ نه دی
رنګ دی ورك شه که هرڅو په رنګ ړیبا یی

په امیدی ددیدن په وره کښې پروت یم
که ته هرڅو له خوشحاله بې پروا یې

که هرڅو په سردخیال دستار زرین ږدې
عاقبت به سرد خاورو په بالین ږدې

په ارمان به خالی لاس ورځنې دروې
که په کور کښې په هرلوری سره اوسپین ږدې

تا په زړه کښې سل خدایان دي کښېنولي
راته وایه سرو چاته په زمین ږدې

دغفلت تسبې په ورځ وشپه جار باسې
څومنت به په کرام الکاتبین ږدې

هرآیت یې د معنو په ستر ګو ګوره
دصورت سترګې ترکومه په یسین ږدې

یو قدم که په رښتیا له دنیا واخلې
خدای ږو بل قدم به پاس په علیین ږدې

که اسلام دخلقو دادی اوس خوبو یه
چه هندو غوندې ټیکه پخپل جبین ږدې

زمانې څه ناانصافه راښکاره شوې
پانیا تو نه په دا دور آخرین ږدې

شاه جهان غوندی بادشاه په بند بندي کړې
په اورنګ باندی خطاب محی الدین ږدې

دمچې لاشه هم جوړه ورسره وړې
په هرحلق کښې چه خوازه دانګبین ږدې

دخوشحال ختټك کوم جرم کوم ګناه دي
چه په زړه کښې یې آهو نه آتشین ږدې

هغه دم چه می دیار سره صحبت وي
دپرښتو آواز په ما باندی زحمت وی

چه له یار سره باده خورم په خلوت کښې
باده ستادې له هغه ځایه رخصت وي

ښه یاران چه سره ناست وي محبت کا
چه اغیار وربا ندی راشي قیامت وي

خوبه مه راځه په ملك زما دسترګو
ګنه ځای به دی په وینو کښې لت پت وی

بل جنت یې شیخه تاوته بخښلی
دخوشحال دې هم دیار کوڅه جنت وي

و مجنون ته د لیلی له شونډو وایه — لال ودر یاقوت ونورو وته ستایه
د مجنون له و دانی سره څه کاردی — هرچه ورانه ویرانی هوري یې بیایه
چه په بله اندیښنه کاندی اغیاردی — یاردې څوك دی چه دی نه آوزي له رایه
درست جهان دې تیري توری درته واخلی — یو ویښته به دې کنډونه کابی خدایه
ماداهسی دماغ اوس نه دی راوړی — زه داهسې دماغي راغلم له ځایه
ددولت شهپر کارغانو سره نشته — که یې غواړې خویې غواړه له هما یه
ته دزړه اغزي په کوم طبیب و کازې — چه و کښلي یې اغزي نه دي له پایه

دمنصور په حال خبر نه یې خوشحاله
درته چاوې چه د رازخبرې وایه

هغه مخ چه ښایسته دننداروي — چه یې وینې د هرچا پسې هو هووي
دبلبلو له بلغاك نه د لګیر مشه — هغه ځای چه رنګ وبوی وي ګفتګووي
زه به سترګې ستا له مخه نه وا نخلم — مخامخ که تیرانداز راته یو څووي
قاصدان زماداوښکو ښکته پوړته — همیشه دکښلي مخ په جستجووي
کاتبان به یې په کومو ګوتو کښینه — غه خبره چه سوزونکی ترلمبو وي

دخوشحال ختك له حاله خبردار شوې
چه په زړه به یې دعشق داغونه څووي

چه په وخت دنوبهار عشرت په مـی دی — باد شاهی یې مبارك شه لکه کی دی
چه په کور کښې یې جاروزي یو خو کښلي — دهغه په انګړ هروخت پسرلی دې
خدایه ته چه ښایسته له دنیا بیایې — مګر ستا هو رې د حورو څه کمی دی
سپینه خوله یې و ماراکړه وې مې موړ شوم — وې یې خواره وزیه داخو نیمریځی دی

یارمې هسې رنګه ځای وکړ په سترګو   چه وهر لوري ته ګورم واړه دي دی

واړه مینه ده پوهیږم چه یې زیرکړم   عام عالم راته ویل کا ستا زیړي دی

مزري توب بویه د تورو په میدان کښې   په خالی میدان کښې هر ګیدړ مزری دی

که د جنګ میدان کښې ډیر دي حکمتونه   چه د سر صرفه ونکړي نور بري دی

دغافل په سپینه ږیره غلط مشه   دهلك غوندي یې لا په خوله کښې تی دی

پرښته ده که پیری دی غم یې نشته   چه یې غم لره پیدا کړ داسړی دی

هغه سرچه زیب ورکړي وافسرو   اوس یې ګوره چه د کوم پا لیزکودی دی

نه یم هیڅکله خالي له یوې مینې
ما خوشحال چه پیژندلی کین اوښی دی

خپل استاد وما ته وویې څو پندونه   هریو پند یې مرغلرې دي لالونه

وې یې هره بدي کړه هغه بد مکړه   چه له لاسه دې آزار شي دچا زړونه

که دې زړه دی چه بد نه مومي له چانه   اول ته پریږده د بد وخصلتونه

د شهوت په نغوته مه ځه شهوت اوردی   په دا اور دډیر وسو ي دي کورونه

ته کینه رخه حسد له هیچا مکړه   دازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه

خوشخوئی هر ګوره ښه ده نه داهومره   چه په باغ کښې خر تیزیه وهي خرونه

د دښمن په تملق غلطي مکړه   درستم غوندی هم مړه دی په مکرونه

دبادشاه په مهر مینه غره مشه   زوروریه لز ګناه وهي سرونه

په هر کار کښې چه درپیښ شی بیړه مکړه   په تلوار سره ورانیږی جوړ کارونه

چه دې قول له چا وکړ نو ریې مکړه   تل په عهد قول ټینګ وی ښه مړونه

په رښتیا که په دروغ وي سوګند مه خوره   منافق دی چه ډیر ډیر خوری سوګندونه

دښه دین دپاره علم دانش ښه دی   نه په داچه پرې لوټي پردی کورونه

په جهان کښې که مردان دي هم هغه دي   چه وسختي وته ونیسي ځانونه

په لښکر کښې دې هم سادوي هم دې غله وي — کله غشي په کار يږي کله گز ونه
چه د ښځو تر اواز پورې زبون وي — په جهان کښې هغه زيره ده زبونه
په هغه کور کښې چه ښځه چرگه بانگ لي — د هغو خونو نه ځي برکتونه
هر چه شرع فرمائي په هغه کار کړه — مه عمل کوه په رسم په دودونه
که دې زړه له وينو ډك شي و دښمن ته — لزو ديـر په زبا نمه راوړه غمونه
در ته وايم چه په کوم توکي به درو ندشې — چه د هر چا سره نکړې ځوابونه
هميشه اوسه خوله پټه لکه ناوې — چه ضرور شي هاله وکړه دوه حرفونه
تر هغه به نا معقول په جهان څوك وي — چه هميش په خندا سپين لري غاښونه

که خبره که خندا کړې جگي جگي
هره چار تر حساب مه کوه بيرونه

چه خپل خوی شي په جهان بد خواه د چا — د خپل خوی دې نه چه دی تباه د چا
کاڼي لعل د بد خشا نگياه کيمياده — چه يې نه پيژني ته گناه د چا
چه بادشاه يې ستمگر شي خلك خوار شي — خدای دې نه کا ستمگر بادشاه د چا
د جمشيد او سکندر فلك پرې نښوې — پرې به نزدې هميشه کلاه د چا

داد نيا لکه لوليه ده خوشحاله
که يې گورې گاه د چا شي گاه د چا

بيا رباب د مغني ښه سرايت کا — په نغمه کښې نوی نوی حکايت کا
شيخ د کنج د صومعې زه به گلگشت کړم — د بهار گلونه ماته هدايت کا
گدايانو له غم د گيډې بس دی — بادشاهان دې غم د ملك او ولايت کا
په دې ښهر کښې خر گند شراب خر څيژي — محتسب د باده نو شورعايت کا

که د ښکلو ديدن مينه گناه ده
سکه خوشحال ختك درست عمر جنايت کا

په هر ځای چه طمع خپل هنر څر گند کا — ډیر هوښیار رماهي مرغو نه طمع بند کا

بادشاهي دبحروبرده که پوهیږې — قناعت دې که په خشك وتر خورسند کا

په هغه زماسلام خرم دې اوسي — چه د چا سره نه مهر نه پیوند کا

خلق وایه دا اندوه په دریاب ډوب دی — که له کله له دریا به سر بلند کا

ددرویش بخره خوښي غم د هغو دی — چه په شمار دزر روناست دي چون و چند کا

هوښیار انو سره ډیري اند یښنې دي
چه ملنگ دمسلې هغه انند کا

هغه څه دی روغ صورت دی — چه بهتر تر سلطنت دی

ددنیا دولت که ښه دی — تر دولته ښه عزت دی

چه ډیر ښه دي تر توقیره — یو عفت بل صداقت دی

چه سړی له غمه خلاص کا — هغه څه دي قناعت دی

په طاعت که ته لوئي کړې — حبطه هغه طاعت دی

چه فایده لري بیشماره — هغه څه دی مصلحت دی

په منت چه ورکول کا — هغه کله سخاوت دی

چه دوزخ دی په دنیا کښې — دناپوه سره صحبت دی

خپل نیت ښه لره خوشحاله
که څه ښه دي ښه نیت دی

په دا باغ کښې به دې پاتې نه وي گله — که خبر شی د خزان له تطاوله

داڅو ورځې غنیمت گڼه په باغ کښې — چه په تا باندې سینه وهي بلبله

مرتبه دهغه باغ څه پاتې نه وي — چه خالي وي دبلبلو له غلغله

وهغې ښیښې ته نه غړیږی سترگې — دساقي څخه چه تشه شی له مله

په درست عمر به یې نه اوزي له یاده — چه لیدلي وي تار و دبا زمنگله

مقدر به په هیڅ رنګ مبدل نشي که په ځان باندی تل لولي څلور قله
عاشقان چه عاشقی کا غم به نه کا د رقیب اودغما زاوله چغله

د دلبر وپه مانبی کښې هم مزه شته
بیچاره خوشحال یې مري له تغافله

مخ يې فکر دنسرین راځخه یووړ خط وخال يې مشك چین راځخه یووړ
په راتله یې درست ارام رالره راووړ اوپه تله یې درست تسکین راځخه یووړ
زه هاله دعافیت ناوې قبول کړم چه هوس يې په کابین راځخه یووړ
تل او به په نري ځاې باندی ماتیږي عقل وهوش يې نخستین راځخه یووړ

چه دعا زما دصبر کاوګړي
عشق ددې دعا آمین راځخه یووړ

ستا دزړه سختي مې سرترپایه ولیدله
سنګ به سینه ووړ کړې ستا له هسې سنګه دله
څه خو راښکاره شوه په څنډل دسترګو لاړه
ماوې دآسمان بریښناوه نه مې پیژندله
نوره د نیا نشته چه څه وراځخه خاقه
وارپه وار می واړه په دلبروو ښند له
ګل چه شګفته شي عندلیب باندې ناري کا
نشته یوه کښلی چه پرې وبو اسم بدله
یا دمی هغه وخت دی چه په شپه به سره ناست وو
شمع به ژړا کړه صراحی به خندیدله

سرې لمبې یې بلې د خوشحال ختک په زړه کړې
سرې ختې اغوستې په دې لارې تیریدله

نور به مخ په آئینه برابر نکړم — نه به دواړه سترګې توري په رانجه کړم
نه به سپین لاسونه سره کړم په نیکریزو — نه به نور په زمنځ سازد سرو ویښته کړم
نه به ماتې ماتې خنې په مخ پر یزدم — نه به لاندې باندې لب په پانوسره کړم
چه د مینې یارمې نشته چه یې ګوري — دصورت سینګار وکوم یوه ته وکړم
درست صورت مې سری لنبې شی شنی ددوزی — چه دخپل مین د مینې راز ترزړه کړم
که ژوندون ترهر څه خوږدی په جهان کښې — اوس بې یاره په ماتریخ شو زه یې څه کړم

هغه یار چه چیرته دی خوشحال دې اوسي
دې دې خپله خوشحالی کا غم به زه کړم

هغه دم چه د ساقي پیاله نوش کړم — په مستۍ یې دواړه کونه فراموش کړم
په معنی کښې هم شراب یم هم ساقی یم — طالبان دمیو شته چه یې مدهوش کړم
ناصحان راته دعقل دفتر لولي — خدای به نه کا چه یې زه په ویل ګوش کړم
دزاهد په صومعه کښې مې زړه تنګ شو — له دې پسه به خدمت دمی فروش کړم
ز د بلبله خوشنوا ددې چمن یم — په موسم دګلو څه رنګه خاموش کړم

چه په زړه یې اثر نه کیږي خوشحاله
څه فایده که تل په وره ورته خروش کړم

په تیرو تورو ور درومی یکرنګان — په لمبو باندې ځان ولي پتنګان
دکنجکو قد ریودد روبلدی — ننګیالو سره څه ژوي بې ننګان
دبادشاه په سلطنت پوري خندا کا — په سپیر وایر و لړلي ملنګان
نور ماهي یې تار په تار دروي له مخې — ماتوي لویې بیړیه نهنګان

دهاتی د پاسه سورو رته پیکه وی
چه د میو پیالې اخلي سرهنګان

هر ناهل مزه څه زده د خبرو — دخبرو لذت ښه دی ترشکرو

چه دانایي په دا نش سره انشا کا — يــوه بنـه خـبره بـهـه ده تـر زرو
تفاوت دخاص وعام وسره ډیر دي — بـرا بـر نـه دي شبـه دمر غلـرو
دشهبـاز و دعنقـا برابر نــه دی — مچ او ما شې چه الو زی پـه وزرو
په چارم آسمان به ناست لکه عیسی وم — که آ سما ن ته الواته شوی په خبرو

عام به چیرې دخوشحال په ویل پوه شي
دګــو هروقد ر خـه زده بنیبنـه ګـړ و

يــا په زړه کښې مهر ځــای وای دبتانو — يــا يې ور کړی صبوري وعا شقانو
یا حیران عاشق په مرګ ومري چه خلا ص شوی — یا یې هو نبره جورمه وای دچشمانو
چه ظاهر باطن یې دواړه سره جوړوي — څه عجب خاصه مشرب دی درندانو
چه په یار پسې روغ ځـان سیزی په اور کښې — زه په دارسم مـین یـم دهندوانو
دخپل یار په بدو خــانـد م هــو سیز م — چیرې زړه نشي راښــه درقیبـانو

بیا به صبر دخوشحا ل ختټک و لجه کـا
راخر ګنده شوه سره کړې خوله په پانو

توره چه تیر یږي خوګذ ار لره کـنه — زلفې چه ولول شي خوخپل یار لره کنه
ولې راته وایې چه په کښلیو نظر مه کړه — سترګې چه پید ادي خودیدار لره کنه
شیخ دي نمونځ روژه کازه به دکی پیالی اخلم — هرسرې پیدادي خپل خپل کا رلره کنه
وینې مې دزړه خورې مګر نور څه لره نه دی — زړه زما پیدادي تاخونخوار لره کـنه
خود به ستا ترمخه دګیاه غوندې څر ګندشی — ګل دلاله را وړه خپل رخسار لره کنه

مې شته چنګ ونی شته دخپل یارسره خو شحاله
خپل بیاض په لاس کـښې څه ګـلز ار لره کـنه

چه له هرچا طمع پرې کړې سلطانی ده — که دې زړه په خاموشی کړې سحبانی ده
دحاتم دسخاوت خبرې مکـړه — لا په دا کښې هم د طمع نښانی ده

په څو رنګه د یا ر په صفت کیږي زبانې یاري نانې یا ري جا نې ده

ترجانې یا رانو هـر څه صدقه کـړه هم په دا سبب په کار د نیا فا نې ده

د دنیا په پریشانی کښې جمعیت دي د دنیا په جمعیت کښې پر یشا نی ده

چه په کور کښې مې څه و ترواړو تیرشوم و خپل یارو ته مې هسې مهما نې ده

په زرګونو کـتا بو نـه ملا لـولي الف بس که یې په کـا ر مسلماني ده

په نادان باندې هم رحم شته خوشحاله

معـذ رت د نادا نانو نـا دانـي ده

چه دا هسې یې آغازه عربده کـړه مـګر تـشه یې له میو میکـد ه کړه

عقل دیرې شـعبدې لري پـه مـیو ساقي تا رپه تا ریې هره شعبد ه کړه

ښه جمال لره پیدا کړه زما سترګې لـه غه پسه یـې جـما ل مشا هده کـړه

یو څل بیا له زیـبا مـخه پلوو اخـله دا په غم کښې پراته لا په غم زده کړه

د و یشتلو آ ه چه و لګی ښه نه دي لا دوخته یې دزړه له حا له زده کړه

دقـام لـه سـره تـورلـو ګي روانشو

چه خـو شـحال ددې غـزل مسوده کړه

چه په عشق کښې یې و نوروته پیغور شه اخ چه لاس په لاس په ده پورې دا تورشه

محتسب چـه پـه احـداد و د مستـانو درندانو سره نا ست دي با ده خورشه

چه پرون یې فاسقانو سـر ه جنګ و نن هـغه تـرفـاسقانـو لا څه نـورشه

چه غیبت یـې بـد او ه دبـل تـرزیـا نـه راشه ګوره پـه غـیبت دپـلارو مـورشه

صنوبر چه هـو مره دیـره لـو یـې غـو ښته څکه هسې په باد تـه په بـا د نسکـو رشه

چه یې زړه تر کانی سخت هغه مې یا ردي بدې بخرې زما څه کانی په کور شه

تورې سترګې یې بلادي عاشـق ګـوره په بلا باندې و ردرو مې کرو کور شه

دادخپل عمر دلیل وکړه خوشحا له

چه لا له په باغ کښې وغو ړیده خور شه

چه گټل خو رول بخښل کا ځوان هغه — چه تـوره لـري دتوري خـان هـغه

کان دلعل د یاقوت د گو هر څه دي — چه احسان ترې پیدا کیږي کان هغه

چه یې ته په گیډه و خو ر ې حبطه شي — دمجلس سره چه خو ږ شي خوان هغه

که دمال دي که دملك دي کـه دلیچو — چه یې توان دچا په کار شي تـوان هغه

په تمامه شپه په ورځ په میاشته کال کښې — چه دخداي په یا د و د رو می آن هغه

چه دې ځوك دو ږ اندې ورو ستوځی دا څه شی — په تنها و جود چه شـان دي شـان هـغه

ونو ر چا وته وران مه وایه خوشحا له

چه په قول عهد وران شوو ر ان هغه

ځان چه پیژ نی که گو رې سه هـغه — چه نـا حق په ځا ن غر ه د ي څه هغه

وا ږه ز ږ ونه فراغت وي په بنادی کښې — چه په غم کښې مـردانـه شـي ز ړه هـغه

چه تر تا نه و ږ اندې و ر وستوځي مله نه دي — چه پـه لا ر د ر سر ه سم ځي مله هـغه

چه په عشق سره ژوندی دي هغه نه مري — چه بې عشقه ژو ند ي گر زی مړه هغه

چه دروغ ترخو له وباسي کله خو له ده — چه رښتیا تر خو له و باسي خو له هغه

هیڅ حجت له هیچا مه کوه خوشحا له

هـر چه تا وتـه خوك وا یـې تـه هـغه

څه لره می ز ړه و ړی چه د زړه سا تل دی نزده — مست یم مستي کړ مه گنه هر هنر می ښه زده

تل په اوښکو ویډو همیشه ژ ړا آ هـ و نـه — نو ر ر اخبر نشول یا مې ستر گو یا مې ز ړه زده

ذ کر فکر نمونځ روژه طاعت ور لره بویه — شیخ ملا زاهد عا بد صوفی په میو څه زده

کله دطوطیانو په گفتا ر کښې دالهجه ده — ر اشه که یې گورې زر کې تا کله دا تله زده

روغ عا لم به چیرې د درد من په حال خبریږی — درد چه په چا تیر دی په دردمنو هم هغه زده

چیرې به له دله یو ډك مهر را بر سیر کړي — تل دې که داهسې دلاسې تشې په خوله زده

څه پوښتې خوشحال دبیلتا نه په اشتیا ق کښې

سترې په منزل پو هیږی تږی په او به زده

چه پیدا چیری په ملك کښې يو حبیب شه لکه خار ورته په خنګ کښې بل رقیب شه
محمد ته ابو جهل نصیحت کا راشه ګوره څوك رنځور شه څوك طبیب شه
د دانا په خپل وطن کښې قدر نه وي در هاله قدر پیدا کړو چه غریب شه
په چمن کښې رنګارنګ ګلونه ډیر دي دزړه داغ مې دلاله دزړه نصیب شه

چه یې پر ښبوده یاري د لیونیو
ګمان مکړه چه خوشحال ختمك لبیب شه

چه مې زړه پرې ښه کیده لهوار وبد شه ښه خو داچه اوس یو ازې دا حد شه
که ژوندون د خلقو دادي چه لیده شي ښه وماته مري خلقه د لحد شه
چه یې نن ګانده له ماسره خپل قوم کا مګر دا جور له قومه په احمد شه
تفحص د تورو سپین نشته په چا کښې دهمه عالم په سترګو کښې رمد شه
نور به چا ته یادوم چه رد ګمراه دي چه پیدا زما له ځانه خلق رد شه
فرزندان چه مې له ګیدي نه پیدا دي پوخ زما له نا خلفونه کبد شه
په طالع په بخت د مال و ملك ښبتن دي بخت هغه دي چه په بخره د بخرد شه
له هغه بخته زما توره بلا ده چه له هره ناهمواره په مدد شه
چه د پلار له ځانه ښه ځو یه پیدا شي ته به وایې چه ژوندون یې مجدد شه
چه قابل یې پیدا نشي په اولاد کښې که هزار ځو یه د پلار وي بې ولد شه
دبهار ګلونه هیڅ دي چه تیریږي ښه هغه وماته ګل دي چه سرمد شه
که په ذات کښې د خوشحال آل و اولاد شته په صفات کښې لم یلد و لم یولد شه

یخ د نمرو تاو ته نه دري خوشحاله
په داخه چه یو څو ورځې منجمد شه

هر عمل چه سړی کا مضمر به نشي در ته چاوي چه لوګې مه کړه او ربل کړه
که پوهیږې چه د بل جهان حساب شته ته په دا جهان نظر په خپل عمل کړه

ستا د خولې چینه حنظل ده هم عسل ده — و هرچا ته تویو نه د عسل کړه
چه د مښکو د نافې شمیم راخور شي — راخر گندې توري زلفې تور وربل کړه
ساقي وخت د نوبهار دی شراب راوړه — د شرابو سره نقل د خولې مل کړه
نن خلل د نی او می مکړه زاهده — چه موسم د بهار تیر شي بیا خلل کړه
چه یو دم د عشق له اوره خالی نه وی — خدایه څه دې دعا شق سینه منقل کړه
ستا د مخ په دور زه جهانگیر شاه یم — راته کښینه کر شمې د نور محل کړه
ستا دا توري سترگی خود توري بلا دی — در ته چاوې چه یې توري په کجل کړه

که هزار ځله شیخې کوي خوشحاله
چه ښه کښلې د ر نزدې شي نوریې کښل کړه

د لیلې د مخ څو دیره زیبائی ده — د مجنون و رپسې هو مره رسوائی ده
چه د سترگو یې تقوی سره میرخی ده — په ناحقه می نیولې پارسائي ده
چه یې سیوره په ما وه لکه باد شاه وم — ستا د تور و زلفو سیوره همائی ده
په وار وار راځه یووړل عاشقیه — که هر څو راځه پوهه دا نائی ده

د خپل یار په مخ او س نه دی مین شوی
د خوشحال په زړه کښې دا مینه ځائی ده

زه خبر ورځنی نشوم بهار تیر شه — د گلو نو لون واړه په بل پیر شه
حیف د اچه د گلو نو عمر لز دی — په جهان کښې د اغزیو عمر د یر شه
د بهار بلبلې نه راځی په سیر — مگر زړه یې د بهار له سیله سیر شه
هغه گل چه د حمل و په جوزا کښې — ځای یې پاسه په سوات یا په بنیر شه
خوز ژوندون جدا له ښه شیرینه یاره — په ما خوار باندی یا زهر یا گندیر شه

هو مره غم د بیلتانه لری په زړه کښې
د خوشحال له دله گشت د بهار هیر شه

ستا له خویه نه مې خوږېنه ده اینه ځکه هسې و هم کانهی په سینه
کله کله راته ګوره ستا نو کریم راته بس ده هم دا هومره مهینه
وایې ته کله په مخ زما مین شوې ستا په مخ باندې مین یم دیر ینه
چه زما سره یې ستا د پاره کاندي خوښ یم ستا د رقیبانو په کینه
انګوري ترخه شراب و رلره بو یه میخوران له ګبینه لري کینه

ورځ هغه ښه ده چه ته پکښې خوشحال شې
که شنبه که سه شنبه که ادینه

ساقي بیا د میو مهر کړه چه عید شه دراند نو د ښاد یو وخت جدید شه
په هر لوري یو آفتاب دی ځلیدلی ښا پیرک یې له جماله نه کور دید شه
په هر څه کښې ننداره د هغه مخ کړم چه له دیري پیدا ییه ناپدید شه
هم هغه دی همیشه ژوندون موندلی چه د مستې دغمزې په تیغ شهید شه
زمانه په خلقو هسې از میښت کا چه یوسف د قبطیانو زر خرید شه
واړه نخښې یې په زړه وینم حضوري که اشنا په لرې حد له ما بعید شه
خط و خال په ښه جمال باندې یو دودي نه چه حسن د خوبا په دا مزید شه

چه دې نوم د خوار خوشحال په ژبه وا خیست
په درست عمر کښې خونن ور باندې عید شه

سترګې ستا غروي زړه ستر ګې ستا پټوي زړه
چه دا خوله خوزوي دی دی ژبه ستا ویوي زړه
چه څه کار په لاس و پښې کړی دا هم ستا ښور وي زړه
اوریده په د واړو غوږو هم په تا اوروي زړه
چه خندا کړې یا ژړا کړې خندوي ژړوي زړه
دواړه کونه لکه تن دی کار د تن جوړوي زړه

زړه بې چون او بیچگون دی ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ څوك داغوښه کښې زړه

دخوشحال په زړه کښې یو دی

څوك یې څه لتوی زړه

ستا له خاله مې یوداغ دی په سینه ‌‌‌‌‌‌‌ چه همیش راسره یاردی دیرینه

یو گلزار په کښې ناگاهه شگفته شي ‌‌‌‌‌‌‌ چه په مخ دې مخامخ شي آئینه

بې له داچه ښا یسته وته گوري ‌‌‌‌‌‌‌ په بل څیزمې له چانه کیږي کینه

دبادشاه دسره تاج یې مخې نه دی ‌‌‌‌‌‌‌ دد رویش دسرته ویپه پشمینه

زه په عشق کښې مستثنی لکه مجنون یم ‌‌‌‌‌‌‌ چه مې نشته په ډیر قرن قرینه

داځه رازدمینې نه دی په گوگل کښې ‌‌‌‌‌‌‌ دامې ایښې ده په زړه کښې گنجینه

مې خوری لره شنبه خوښوی خلق

وخوشحال ته څه شنبه څه ادینه

ستا په غم کښې مې ارام له زړه بیرون شه

دغر څه غوندې مې خوب په ځیگر خون شه

همیشه په غاړې غرونه سرگردان یم

په داد ورمې درست ډول د مجنون شه

هدیره یې د شهید په خنگ کښې بویه

هر سړی چه مړ په توره دبیلتون شه

په گلو نو به یې ژغ کا ندې بلبلې

دا گلزار چه په بیاض زما زرغون شه

چه درست کال یې بیابیا وایم لایو راز دی

عبارت که مختلف شه یو مضمون شه

عشق خوشحال وته یوهسې سبق ورکړ

چه یې زړه دقال وقیل له درسه ستون شه

شل کاروَنه پریږده ننداره یې دجمال کړه
دوا ړه کسي و اخله په سپین مخ با ندې یې خال کړه

کښینه په انګڼ کښې مخامخ چه درته ګورم
تور لو نګین دوا ړه چندڼ هار په سینه تپال کړه

راغلې و بازار ته درست وجود کړه لـکه کسي
ګوره که ړوند نه یې ننداره یې د کمال کړه

بې دیا ر له مینې چه به کو ر ددنیا جو ړ کا
واوره درته وایم خدای یې مینې په زوال کړه

ته هغه رستم یې چه شاهان د ې طلبګار دي
چا درته تلقین کړ چه خدمت دپیرزال کړه

عیب جوی سره می هومره ده کینه — وبـه نـه نیسم و مـخ تـه ائینـه
خدای دې ما بې غمه نه کا په دنیـا کښې — زه او غـم سره یاران یو د یـرینه
ساقی څو خمار شکنې پیاله را کړه — چه په سر کښې می خماردی دوشینه
دایم زه وړپسی سریم که یې مومـم — په دوران کښې مونده نشی خـز ینه

لا له ځایه چه خوشحال په جهان راغی
دلاله غونـدی یې داغ دی پـه سینـه

یـا زما د بینـا یـه نظـر نشتـه — یـا په دا نړ دې ملکونو دلبر نشتـه
که اخترنه وې دیا ره سراخـتردی — بی مینه کـه اختر د ی ا ختر نشتـه
سپینه خو له که راکوې په ځانا ړنه یم — معشو قې له ما نه زرغواړی زر نشته
که غوټې پسې و هې په لاس به در شي — چاوې دا چه په دریاب کښې ګوهر نشته
څه عجیبه پادشاهی لکه خورشید کړم — یکـ تنها په جهان ګرزم لښکر نشته

نن دوا ړو د لــبر انو غـوره ته يـی
که دی یو لو نګ په پوزه زیــور نشته
په څو غر ه په غره د باز غوندی پرواز کــا
بیا به وایی دخـو شحــال ختــک پـر نشتــه
بادیې لاس په پلو کښیز دي سره ریزدي
گل یې مخ وته نظر کا خولې پریز د ي
لا له ورایه رنګ وبوی ور ته پیشکش کا
چه په سیل دبهــا ر د ګــلو پښې ز د ي
خو می ستا مړوند د سرسر ویز د ی نشی
سر به هیڅــکله کــښینزدم پــه سر ویز دی
هغه کس چه مې داغ ایښی په خاطر دی
هم هغه به بیا مر هم وربا ندې کښیزد ي
د خو شحا ل خا طر په مثل کا روا ن سرای دی
اندیښنې پــرې کــاروانــو نــه ملــې لیز د ی
په هر ه ز ما نه تر لیلی کښلې پیدا کیز ي
مجنون ور لره بویه چه په مخ یې شید ا کیزي
په ر نګ په هنر نه ده نه دا کا ر په سحر دم د ی
یو سردی دز ړه مینه چه په چا هو یدا کیزي
چه خوك په مهر مینه سره خپل پیو ند محکم کا
که سل تو ر ې و ر وا خلي سره چیر ې جدا کیزي
یا حسن دی یا عشق دی د دنیا په دا بازار کښی
په نازاو په نیاز سر ه داد وا ړه سودا کیزي

ياري چه تازه وکړې صبر فهم پکښې بو يه

په ورو ورو نوی يار په هنرو نواشنا کيږي

انبار انبار غمو نه عاشقانو ته پراته

پيغور د عاشق دادي چه يې غم وته شا کيږي

چه پخپل عيب بينا شی — سړی هله درست دانا شي

نادانـي يې پته نـه ده — چه له ځـانه بې ثنـاشـي

د بلا اندوه به نـه کـا — چه له خدای سره اشنا شي

په دنيا به دين حاصل کا — چه خبر په لـن تنـا شي

په جهان بـاور پيدا کـا — چه ر شتينې يې ويـنا شي

چه غنی په قنـاعت شو — لـه هرچا يې استغنـا شي

ابدي ژوندون بـه خپل کـا

چـه خوشحال غوندې فناشي

چه دانا نکړي گردش د زمـانـې — نور به زده نـکړي دانش دزمانې

زر پيري لري دستر گو په ځنبل کښې — خبر دار شه پـه روش دزمـانـې

په يوه زمان دې شاه بيادې گدای کا — خه با ور په نـوازش د زمـانـې

کله ځمکه سپيره دی اگ کله گلونـه — خـه اميد په آرايش د زمـانـې

چه يې شاکړه ددنيا واسايش ته

هم هغه کا اسـايش د زمـانې

کله رندغوندې ملاواقف دراز دی — د کـتـاب دمسئلو زبـان درازدی

زه مريی دهغه چاترې به ځـاريږم — چه دزړه سره يې جوړ دخولې آوازدی

چه يې رودخولې دزړه سره يونه وي — که په هر لمانځه اودس کا هم بې نمازدی

لا به ډير گلونه واشي په داباغ کښې — د گلـزار دغـوړيد لـويـې آغازدی

ځان وتن سره مثال کړه دواړه تړ که — محبت که حقیقت دی که مجاز دی
چه عزت ترې پیدا کیږي قناعت دی — چه خواری ورځني زیږي هغه آز دی

زه خوشحال له خپله بخته دلگیر نه یم
چه زما ستوری ځایي دښمن گداز دی

کام د زړه که هر څو ښه دی — ترا یما نه نه ښه نه دی
چه یې دا اندیښنه نه وي — هغه کس سړی په څه دی
سپی به ښه کړم تر مزري نه — سپی د کور مزری د غره دی
خر که بد دی بیا وری وړي — بد سړی بتر تر خره دی
ته یې ویښ وینې په سترگو — غافل ویښ نه دی اوده دی

ته یې سست وینې په سترگو
د خوشحال اختیار تیره دی

که میوه د چندن نشته هسې شنه دی — لا یې ښه تر میوه دارې ونې خنه دی
که مې ځان ځي که جهان پرې به یې نزدم — ما نیولی اوس د عشق د سور و منه دی
په دالار د شهسوارانو ختل گران دي — گوره څو به باندې خیژي ملکنه دی
زه او دا د هر ناکس سازي نا سازې — که رښتیا وایم خپل ځان را باندې پنه دی
د چړې د لاره کار نشته نادانه — چه تبرونه پرې ما تیږي هغه خنه دی

څوک د حج څوک د تلقین څوک د مکتب شول
یو خوشحال په واړه خلکو کښې لونه دی

دمؤلف پیژند گلوی ـ ژوند پیښی او آثار

گل پاچا الفت په ۱۲۸۸ هـ ش ۱۹۰۹ع کښې دلغمان دعزیزخان په کځ کښې زیزیدلی دی پلارئی میرسید پاچا او نیکه ئی سید فقیر پاچا دی .

په ۱۳۱٤ کښې دانیس په اداره کښې کاتب شو .

« ۱۳۱۵ « دانجمن ادبي غړی شو .

« ۱۳۱٦ « دانجمن دادبی غړیتوب سره دزیري دجریدې چلوونکی هم و .

« ۱۳۱۸ « دپښتو ټولنې دصحافت دمدیر مرستیال .

« ۱۳۱۹ « دپښتو ټولنې دلغاتو او قواعدو دڅانګې مدیر .

« ۱۳۲۰ « داصلاح دورځپاڼې مشاور او بیا دپښتو ټولنې عمومي مبصر او دکابل مجلې چلوونکی .

په ۱۳۲۵ کښې داتحاد مشرقی (دننګرهار دجریدې) مدیر .

« ۱۳۲۷ « په ننګرهار کښې دقبایلو عمومی مدیر .

« ۱۳۲۸ « د جلال آباد دخلقو له خوا د ملی شوری په (۷) مه دوره کښې وکیل شو او په ملی شوری کښې ددوهم معاون په حیث وټاکل شو .

په ۱۳۳۱ کښې دلغمان د قرغیو خلقو دشوری اتمې دورې ته وکیل وټاکه .

« ۱۳۳٤ « دجلال آباد له خوا دلویې جرګې وکیل وټاکل شو .

په ۱۳۳۵ کښې په لومړی رتبه د پښتو ټولنې رئیس مقرر شو او د پوهنې د وزارت د عالي شورې په غړیتوب ومنل شو. همدا رنګه د حقوقو د پوهنځي او د ادبیاتو د پوهنځي د پښتو استادي هم ورپه غاړه شوه.

په ۱۳۴۲ کښې د ثور په ٤مه د قبایلو د مستقل رئیس په حیث د ښاغلي ډکتور محمد یوسف په کابینه کښې مقرر شو.

په ۱۳۳۸ کښې د افغان او شوروي د دوستۍ ټولنې رئیس هم شو.

په ۱۳۳۰ کښې د جوزا له میاشتې د ۱۳۳۲ د عقرب تر آخره د اولس د ملي جریدې د امتیاز خاوند هم وچه د لیکوالۍ ډیر زیات کار د ده په غاړه و او د فارسي او پښتو مضامینو په لیکلو او تهیه کولو کښې ئې درنه برخه درلوده. چه ډیرې زیاتې مقالې ئې په دې جریده کښې په مستعارو نومو او بې نومه یاداداري په نامه نشر شوي.

دده چاپ شوي لوي او واړه کتابونه دادي:

۱ــ د پسرلي نغمه.

۲ــ بله ډیوه.

۳ــ لغوي څیړنه.

٤ــ پښتو سندرې.

۵ــ عالي افکار.

٦ــ څه لیکل یا لیك پوهه.

۷ــ ادبي بحثونه.

۸ــ پښتو کلي پنځم جلد اول ټوك.

۹ــ پښتو کلي پنځم جلد دوهم ټوك.

۱۰ــ د آزادي پیغام.

۱۱ــ غوره اشعار.

۱۲ــ لوړ خیالونه اوژور فکرونه .

۱۳ــ منطق .

۱٤ــ غوره نثرونه .

۱۵ــ املاء او انشاء .

۱٦ــ لیکوالی د املاء او انشاء دوهمه طبع چه له پخوانه پکښې ډیر زیاتوالی راغلی دی .

۱۷ــ نوی سبك او نوی ادب .

۱۸ دزړه وینا .

۱۹ــ ملی قهرمان .

هغه کتابونه یې چه تراوسه نه دي چاپ شوي :

۱ــ نوی ځرك دپښتو لغاتو مقایسه له نوروژبو سره .

۲ــ څه ګورم او څه اورم .

۳ــ اجتماعی نظریات .

٤ ــ ښه لمسون .

۵ــ دټولنې علم (ترجمه) .

٦ــ دموفقیت لار (ترجمه) .

نورو هیوادوته رسمی سفرونه :

۱ ــ د ۱۳۳٦ دحمل په ۳مه دیو هیئت په مشرۍ پېښور ته تګ درحمن بابا دقبر جوړولو په غرض .

۲ــ د۱۳۳٦ دثور په ۲۸مه دیو کلتوری هیئت په مشرۍ اتحاد شوروي ته تګ د کلتور دوزارت په بلنه .

۳ــ د۱۳۳٦ د اسد ۲۹مه دیو هیئت په غړیتوب مونشن ته تګ د مستشرقینو په

۲٤ کانگرس کښې دشمول په غرض .

٤ــ د ۱۳۳۷ دمیزان په ۳مه تاشکند ته دیو هیئت په غړیتوب د آسیائی او افریقائی لیکوالو په کانفرانسونو کښې دګډون په غرض .

٥ــ د ۱۳۳۹ دثور په ۸مه دیو هیئت په مشرۍ اتحاد شوروی ته تګ ددوستۍ تولنې په بلنه .

٦ــ د۱۳۳۹ داسد په ۱٥مه دیو هیئت په مشرۍ مسکو ته تګ او د مستشرقینو په ۲٥م کانگرس کښې دګډون په غرض .

۷ــ د ۱۳٤۰ دثور په ۹مه دیو هیئت په مشرۍ اتحادشوروي ته تګ ددوستۍ تولنې په بلنه .

په دغو سفرونو کښې یې دا ځایونه لیدلی دی :

مسکو ــ لیننګراد ــ سوچی ــ باکو ــ دوشنبه ــ تاشکند ــ کیف ــ ولګاګراد ــ تفلیس ــ سمرقند ــ مونشن ــ تهران ــ پیښور ــ

په دی سفرونو کښې یې په رسمي دعوتونو کښې ډیرې وینا وې کړې او کنفرانسونه یې ورکړي دي .

دکتاب مأخذونه:

۱ :ــ په خپله دخوشحال خان دیوان دپیښور چاپ او د دوست محمد کامل مقدمه .

۲ :ــ دښاغلی حبیبی مقدمه دخوشحال خان ختک په دیوان .

۳ :ــ دښاغلی بینوا کتاب (خوشحال خان ختک څه وائی ؟) .

٤ :ــ زما خپل متفرق یاد داشتونه .

٥ :ــ دتوری او قلم خاوند دپیښور چاپ .

National Hero

Khosh-hall Khan Khatak

by Olfat 1344